بهرنیو اسعارو د بدلولو له ډول څخه یادونه شوې نه وي، د دافغانستان بانک کولای شي، د اړوندو مقرراتو مطابق، د نومورو اسعارو په افغانۍ د معادل ارزښت د ټاکلو یا محاسبې وسیله یا تګلاره مشخصه کړي.

(۳) د د افغانستان بانک کولای شي په ګمرکونو او مالیاتي مکلفیتونو یا نورو ورکړو پورې د اړوندو قوانینو د اداري، اجراآتو او تطبیق په منظور، د مقرراتو مطابق، د نورو هېوادونو د رایجو پیسو معادل ارزښت او د تسعیر وسیله یا روش یا د هغو محاسبه د یوې ورځې یا اوږدې مودې لپاره یا په دوامدار شکل سره مشخصه کړي.

(۴) په هغه صورت کې چې د دې قانون د حکمونو مطابق، د هېواد د رایجو پیسو د اسمي ارزښت د تغییر تصمیم ونیول شي، رسمي ارزښتونه په ټولو سوابقو، حسابونو، ورکړه ایزو (تأدیاتي) مکلفیتونو، بدیهیو، آفر اخیستنو (داوطلبیو) او نورو تقنیني سندونو کې د تغییر موندلي اسمي ارزښت د مبادلې د نرخ مطابق، د اعتبار پول رایج کشور تذکر به عمل نیامده باشد، د افغانستان بانك میتواند طبق مقررات مربوط وسیله یا روش تعیین یا محاسبه ارزش معادل به افغانی اسعار متذکره را مشخص نماید.

(۳) د افغانستان بانك می‌تواند به منظور اداره، اجراآت و تطبیق قوانین مربوط به گمرکات و مکلفیت های مالیاتی یا سایر پرداخت ها، طبق مقررات، ارزش معادل پول رائج سایر کشور ها و وسیله یا روش تسعیر یا محاسبهٔ آن را برای یك روز یا مدت طولانی تر یا بشکل دوامدار مشخص نماید.

(۴) در صورتی‌که تصمیم تغییر ارزش اسمی پول رایج کشور مطابق احکام این قانون اتخاذ گردد، ارزشهای اسمی در کلیه سوابق، حسابات، مکلفیت های تأدیاتی، بدیهی ها، آفرگیری ها (داوطلبیها) و سایر اسناد تقنینی طبق نرخ مبادلهٔ ارزش اسمی تغییر یافته، مدار اعتبار

وړ دي.

قراردادونه

پنځه څلوېښتمه ماده:

د قرارداد، خرڅلاو، ورکړې، برات، بهالرونکي سند يا سندونو، عمل، معاملې او نور مواردو په اړه چې په پيسو، د پيسو په ورکړې يا د پيسو د ورکړې په مکلفيت پورې مربوط وي. د هېواد په رايجو پيسو صورت مومي د دې قانون په شپږم څلوېښتمه ماده کې درج شوي موارد له دې حکم څخه مستثنی دي.

د رايجو پيسو په اړه آزادي

شپږم څلوېښتمه ماده:

(۱) د قرارداد خوا وې (طرفين) يا نورې داوطلبانه معاملې (برات، حجت، بهالرونکی سند يا سندونه) کولای شي د خپلو تأديياتي مکلفيتونو د ورکړې په هکله، له هر سعر سره موافقه وکړي.

(۲) طرفين کولای شي خپل موافقه ليک د محيطي شرايطو پر بنسټ (د سوداګرۍ عرف، د معاملې تګلوری او د معاملې اجراء) په څرګنده يا ضمني توګه عقد کړي.

می‌باشد.

قراردادها

مادۀ چهل و پنجم:

در رابطه به قرارداد، فروش، پرداخت، برات، سند يا اسناد بهادار، عمل، معامله و ساير مواردی که مربوط به پول، پرداخت پول يا مکلفيت پرداخت پول باشد، به پول رايج کشور صورت ميگيرد. موارد مندرج مادۀ چهل و ششم اين قانون از اين حکم مستثنی است.

آزادی در رابطه با پول رايج

مادۀ چهل و ششم:

(۱) طرفين قرارداد يا ساير معاملات داوطلبانۀ ديگر (برات، حجت، سند يا سند بهادار) ميتوانند در مورد پرداخت مکلفيت های تأدياتی خويش به هر سعری موافقه کنند.

(۲) طرفين می توانند موافقت نامۀ خويشرا بر اساس شرايط محيطی (عرف تجارت، مسير معامله و اجرای معامله) طور صريح يا ضمنی عقد نمايند.

د اسعاري تأدياتي مکلفيت تنفيذ اووه څلوېښتمه ماده:

(۱) اسعاري تأدياتي مکلفيت د هغه د شرايطو مطابق نافذ ېږي. په هغه صورت کې چې حکمي شخص د بهرنيو اسعارو په ورکړه مکلف شي او د حکم پر بنسټ ايجاب کړي چې ورکړه د هېواد په رايجو پيسو چې په بهرنيو اسعارو باندې د تأدياتي مکلفيت د پېرودنې لپاره کافي وي، صورت ومومي، نومورې مبلغ د هېواد له بانکونو څخه د يوه په واسطه د افغانۍ د اعلام شوي نرخ په اساس، د لومړۍ کاري ورځې په پای کې له هغې ورځې د مخه چې ورکړه يې د دايـن په واسطه ترلاسه کېږي، محاسبه کېږي. د دې مادې (۳) او (۴) فقره لدې حکم څخه مستثنی دي.

(۲) نورې ورکړې چې د دې مادې د (۱) فقرې مطابق صورت مومي، د مبادلې د نرخ په اړه، په ذکر شوې فقره کې درج شوی حکم د تطبيق وړ دی.

(۳) په هغه صورت کې چې د اسعاري تأدياتو د مکلفيت په

تنفیذ مکلفیت تأدیاتی اسعاری مادۀ چهل و هفتم:

(۱) مکلفیت تأدیاتی اسعاری طبق شرایط آن تنفیذ می‌گردد. در صورتی‌که شخص حکمی مکلف به تأدیه اسعار گردد و بر اساس حکم ایجاب نماید که پرداخت به پول رایج کشور که برای خرید مکلفیت تأدیاتی به اسعار کافی باشد، صورت گیرد، مبلغ مذکور به اساس نرخ افغانی اعلام شده توسط یکی از بانکهای کشور در پایان نخستین روز کاری قبل از روزیکه پرداخت آن توسط داین دریافت می‌گردد، محاسبه می‌شود. فقره های (۳) و (۴) این ماده از این حکم مستثنی اند.

(۲) سایر پرداخت های که مطابق فقرۀ (۱) این ماده صورت می‌گیرد، در رابطه به نرخ مبادله، حکم مندرج فقره متذکره قابل تطبیق می‌باشد.

(۳) در صورتی‌که در جریان اجراآت مربوط به تنفیذ

تنفیذ پورې د اړوندو اجراآتو په بهیر کې، محکمه وموميِ چې د هېواد په رایجو پیسو د پور د مبلغ تبدیلول، د دې مادې د (۱) فقرې مطابق دواړو خواووته غیر عادلانه دي، کولای شي د هېواد په رایجو پیسو د یوه مبلغ د ورکړې حکم چې د بهرنیو اسعارو د تأدیې مکلفیت لپاره کافي وي، د هېواد د یوه بانک په واسطه د افغانیِ د ټاکل شوي نرخ په اساس، په بله ورځ چې محکمه هغه عادلانه وبولي، صادر کړي، محکمه مکلفه ده د داسې تبادلې د نرخ دستور ورکړي چې د داین حق تأمین شي او د مدیون په ګټه له فیصلې څخه چې د خپلې ورکړې مکلفیت یې ځنډولی دی ډډه وکړي. د دې مادې (۴) فقره لدې حکم څخه مستثنی ده.

(۴) په هغه صورت کې چې په هېواد کې د تنفیذ وړ تأدیاتي مکلفیت، په افغاني رایجو پیسو باندې د یوه بهرني سعر د مبادلې نحوه ټاکلې وي، محکمه د مبادلې هماغه نحوه مرعي الاجراء ګرځوي.

مکلفیت تأدیات اسعاری، محکمه دریابد که تبدیل مبلغ قرضه به پول رایج کشور، مطابق فقرۀ (۱) این ماده برای هر دو طرف غیر عادلانه است، می‌تواند حکم پرداخت مبلغی به پول رایج کشور که برای مکلفیت تأدیۀ اسعار کافی باشد، به اساس نرخ افغانی معین شده توسط یکی از بانکهای کشور در روز دیگری که محکمه آنرا عادلانه بداند، صادر نماید. محکمه مکلف است نرخ تبادله یی را دستور دهد که حق داین تأمین شود و از فیصله به نفع مدیون که مکلفیت تأدیبی خود را به تعویق انداخته، اجتناب ورزد. فقرۀ (۴) این ماده از این حکم مستثنی است.

(۴) در صورتی‌که مکلفیت تأدیاتی قابل تنفیذ در کشور نحوۀ مبادلۀ یك سعر به پول رایج افغانی را معین نموده باشد، محکمه همان نحوۀ مبادله را مرعی الاجراء قرار میدهد.

دریېمه برخه
جرمونه

جعلي پیسې
اته څلوېښتمه ماده:
په جعلي پیسو کې لاندي اقلام شامل دي:
۱- جعلي سکه یا بانکنوټ چې رایجې سکې یا بانکنوټ ته ورته وي، یا د هغو په عوض واخیستل شي.
۲- منقش یا سپین بانکنوټ څه بشپړوي یا نه وي.
۳- واقعي سکه یا بانکنوټ په داسې ډول لاس وهل شوی یا تغییر موندلی وي چې هغې رایجې سکې یا بانکنوټ ته ورته شي چې لوړ اسمي ارزښت لري یا د هغه په عوض واخیستل شي.
۴- هغه رایجه سکه چې ځنځیره یې د سوانکارۍ یا د څنډو غوڅولو په واسطه لیرې (اخیستل) شوې وي او ځنځیره یې پرمخ عوض شوې وي چې ظاهر یې اعاده کړي.
۵- هغه سکه چې د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو پوښښ ورکړل

قسمت سوم
جرائم

پول جعلی
مادۀ چهل و هشتم:
پول جعلی شامل اقلام ذیل می باشد:
۱- سکه یا بانکنوت جعلی که شبیه سکه یا بانکنوت رایج باشد، یا به عوض آنها گرفته شود.
۲- بانکنوت جعلی منقش یا سفید، چه کامل باشد یا نباشد.
۳- سکه یا بانکنوت واقعی طوری دستکاری شده یا تغییر یافته باشد که شبیه سکه یا بانکنوت رایجی که ارزش اسمی بالاتر دارد، گردد یا عوض آن گرفته شود.
۴- سکه رایج که زنجیرۀ آن توسط سوهانکاری یا بریدن لبه ها، برداشته شده و زنجیره روی آن عوض شده که ظاهر آن را اعاده کند.
۵- سکه ای که پوشش طلا، نقره یا نیکل داده شده

شوی وي، څو د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو سکې ته ورته شي یا د هغو په عوض واخیستل شي.

۶- سکه یا د فلز ټوټه یا د فلزاتو مخلوط چې د سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو ظاهري شکل ولري یا د فلز اوبه ورکړل شوې یا رنګ شوي وي څو سرو زرو، سپینو زرو یا نېکلو ته ورته شي یا د هغو پر ځای واخیستل شي.

۷- جعلي قیمت لرونکې توکن (نښه) له جعلي مالیاتي مهر، جعلي پستی ټکټ یا ارزښت لرونکې جعلي شهادتنامې څخه عبارت دي چې د فني، مبتذل یا غولوونکي نوم په واسطه ډیزاین شوی وي .په دغه حکم کې واقعي کاغذي پیسې چې د پیسو په عنوان ارزښت نلري هم شاملې دي.

د پیسو جعل

نهه څلوېښتمه ماده:

هغه شخص چې جعلي پیسې جوړې کړي یا یې په جوړولو اقدام وکړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او د واکمنې محکمې لخوا په طویل حبس محکومېږي.

باشد ، تا شبیه سکه رایج طلا، نقره یا نیکل گردد و یا عوض آنها گرفته شود.

۶- سکه یا قطعهٔ فلز یا مخلوط از فلزات که شکل ظاهری طلا، نقره یا نیکل را داشته یا آب فلز داده شده یا رنگ شده باشد تا شبیه سکه رایج طلا، نقره یا نیکل گردد و یا بجای آنها گرفته شود.

۷- "توکن (نشانه) قیمت دار جعلی" عبارت از مهر جعلی مالیاتی، تکت جعلی پستی یا شهادتنامه جعلی حاوی ارزش که توسط اسم فنی، مبتذل، یا فریب آمیزی دیزاین شده باشد. این حکم شامل سکه یا پول های کاغذی واقعی که ارزشی به عنوان پول ندارد ، نیز می‌گردد.

جعل پول

مادهٔ چهل و نهم:

شخصی‌که پول جعلی را بسازد یا اقدام به ساختن آن نماید ، مرتکب جرم شناخته شدهٔ از طرف محکمهٔ ذیصلاح به حبس طویل محکوم می گردد.

د جعلي پیسولرل

پنځوسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثباتول ئې د ده پخپله غاړه دي له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، مجرم ګڼل کېږي او په طویل حبس محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې وپېري یا یې ترلاسه کړي یا یې د پېرودلواو پلورلو وړاندیز وکړي.

۲- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې ترخپل حیازت یا مالکیت لاندې ولري.

۳- په هغه صورت کې چې جعلي پیسې هېواد ته دننه وار دې کړي.

(۲) هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې ده په خپله غاړه دی، د سرو زرو یا سپینو زرو براده، برش یا استوانه یا هغه په ګردي صورت، محلول یا په بل شکل سره تر خپل حیازت یا مالکیت لاندې ولري چې د سرو زرو یا سپینو زرو د رایجو سکو د معیوبولو، کمولو یا سپکولو په واسطه تولید یا لاسته راغلي وي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، د

داشتن پول جعلی

مادهٔ پنجاهم:

شخصی‌که بدون داشتن عذر قانونی که اثبات آن به عهده خود او میباشد، مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، مجرم شناخته شده به حبس طویل محکوم می گردد:

۱- در صورتیکه پول جعلی را خریداری یا دریافت نموده یا پیشنهاد جهت خرید و فروش آن را بدهد.

۲- در صورتی‌که پول جعلی را تحت حیازت یا مالکیت خود داشته باشد.

۳- در صورتی‌که پول جعلی را به داخل کشور وارد نماید.

(۲) شخصی‌که بدون عذر قانونی که اثبات آن بر عهدهٔ خود او می‌باشد، براده، برش، یا استوانه طلا یا نقره یا آنرا به صورت گرد، محلول یا شکل دیگر تحت حیازت یا مالکیت خود داشته باشد که توسط معیوب کردن، تقلیل دادن یا سبك کردن سکه رایج طلا یا نقره تولید شده یا بدست آمده باشد، مرتکب جرم شناخته شده حسب احوال به حبس

احوالو مطابق په هغه حبس چې له پنځو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

د سکو ویلې (ذوب) کول

یو پنځوسمه ماده:

(۱) هېڅ شخص نه شي کولای د هېواد رایجه او قانوني سکه ویلې کړي، ماته یې کړي یا یې له رایجې پیسې پرته په بل عنوان استعمال کړي، خو دا چې جواز یې د دافغانستان بانک څخه اخیستی وي.

(۲) هغه شخص چې د دې مادې د (۱) فقرې حکم یا په جواز کې درج شوي شرایط نقض کړي د جرم مرتکب ګڼل کېږي په حبس چې له یوه کال څخه زیات نه وي یا نقدي جریمه چې له پنځه ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي. محکمه کولای شي د هغو وسایلو په مصادرې چې جرم د هغو په واسطه یا له هغو سره په رابطه کې صورت موندلی دی هم حکم وکړي.

که از **۵** سال تجاوز ننماید، محکوم می‌گردد.

ذوب سکه ها

مادۀ پنجاه و یکم:

(۱) هیچ شخص نمیتواند سکۀ رایج و قانونی کشور را ذوب نماید، بشکند یا به عنوان دیگر بجز از پول رایج استعمال نماید، مگر اینکه جواز آنرا از د افغانستان بانک کسب نموده باشد.

(۲) شخصیکه حکم فقرۀ (۱) این ماده یا شرایط مندرج جواز را نقض کند، مرتکب جرم شناخته شده، به حبسی که از یکسال تجاوز ننماید یا جریمۀ نقدی ایکه از بیست و پنجهزار افغانی بیشتر نباشد یا هر دو محکوم به جزا می‌گردد. محکمه می‌تواند به مصادره وسایل که جرم توسط یا در رابطه با آنها صورت گرفته نیز حکم نماید.

په جریان کی اېښودل (جریان ته وړاندې کول)

دوه پنځوسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د قانوني عذر له لرلو پرته چې اثبات يې د هغه په خپله غاړه دی يو له لاندې اعمالو څخه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او د واکمنې محکمې طويل په اوږده حبس محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې جعلي پيسې دوران ته وړاندې کړي يا يې دوران ته د وړاندې کولو لپاره عرضه کړي يا جعلي پيسې د واقعي پيسو په شان استعمال کړي.

۲- په هغه صورت کې چې جعلي پيسې له افغانستان څخه وباسي.

(۲) هغه شخص چې د خلکو د تېر ايستلو لپاره او په آګاهانه توګه غير قانوني سکه يا د فلزاتو مخلوط چې د اندازې، شکل يا رنګ له نظره يوې رايجې سکې ته ورته وي او د رايجې سکې په عوض يې جريان ته وړاندې کړي، په هغه حبس چې له دوو کلونو څخه زيات نه وي محکومېږي.

به جریان گذاشتن

مادۀ پنجاه و دوم:

(۱) شخصی‌که بدون داشتن عذر قانونی که اثبات آن بر عهده خود او می‌باشد یکی از اعمال ذیل را انجام دهد، مرتکب جرم شناخته شده، از طرف محکمۀ ذیصلاح به حبس طویل محکوم می‌گردد:

۱- در صورتی‌که پول جعلی را به دوران گذاشته یا جهت به دوران گذاشتن، آنرا ارائه نماید یا پول جعلی را مانند پول واقعی استعمال نماید.

۲- در صورتی‌که پول جعلی را از افغانستان خارج کند.

(۲) شخصی که به منظور فریب مردم و بطور آگاهانه سکۀ غیر قانونی، قطعۀ فلز یا مخلوطی از فلزات را که از نظر اندازه، شکل یا رنگ شبیه یك سکۀ رایج باشد و عوض سکه های رایج به جریان بگذارد، به حبسیکه از دو سال تجاوز ننماید محکوم می‌گردد.

فلزي توتې او توکنونه
دري پنځوسمه ماده:
هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات يې د ده په خپله غاړه دی، داسې شيان جوړکړي، توليد يې کړي، ويې پلوري يا يې په خپل حيازت کې ولري چې هدف يې په تير ايستونکې توګه د هغو قيمت لرونکو توکنونو پر ځای استعمالول وي چې ماشينونه او وسايل د هغو په وسيله فعالېږي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په هغه حبس چې له شپږو مياشتو څخه زيات نه وي يا نقدي جريمه چې له دولسو زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا په دواړو په جزاء محکومېږي.

له شکل څخه غورځول يا معيوبول ځلور پنځوسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې لاندې عملونه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او د طويل حبس په جزاء محکومېږي:
۱- په هغه صورت کې چې د سرو زرو يا د سپينو زرو سکه پدې منظور چې د سرو زرو يا سپينو زرو د رايجې سکې پر ځای وګڼل

توته های فلزی و توکن ها
مادۀ پنجاه و سوم:
شخصی که بدون عذر قانونی که اثبات آن بر عهدۀ خود او میباشد، اشیایی را بسازد، تولید کند، بفروشد یا در حیازت خود داشته باشد که هدف آن به صورت فریب آمیز، استعمال بجای سکه یا توکن های قیمت داری باشد که ماشین ها و وسایل بوسیله آنها فعال می‌گردد، مرتکب جرم شناخته شده به حبسیکه از شش ماه تجاوز ننماید یا جریمۀ نقدی که از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد و یا هر دو محکوم به جزاء می‌گردد.

از شکل انداختن یا معیوب کردن
مادۀ پنجاه و چهارم:
(۱) شخصی که اعمال آتی را انجام دهد، مرتکب جرم شناخته شده و به حبس طویل محکوم به جزاء می‌گردد:
۱- در صورتی‌که سکۀ رایج طلا یا نقره را به این منظور که بجای سکۀ طلا یا نقرۀ رایج گرفته شود، معیوب

شي، معيوبه کړي، کمه يې کړي يا يې سپکه کړي.
۲- د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې سکه آګاهانه جريان ته وړاندې کړي.
(۲) هغه شخص چې يو له لاندې عملونو څخه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په هغه حبس چې له شپږو مياشتو څخه زيات نه وي يا په نغدي جريمه چې له دولسو زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا په دواړو په جزاء محکومېږي:
۱- په هغه صورت کې چې رايجه سکه له شکل څخه وغورځوي.
۲- په هغه صورت کې چې رايجه سکه چې له شکل څخه غورځېدلې ده، په دوران کې واچوي.
۳- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک له استيذان پرته يو بانکنوټ د چاپولو (طبع کولو)، مهر کولو، د هغو له پاسه د کليمو يا خطونو او تصويرونو د نښلولو په وسيله له شکل څخه وغورځوي.
۴-په هغه صورت کې چې رايج بانکنوټ چې د دې مادې د (۱) فقرې د (۳) جزء مطابق چې له کنـد، تقليـل دهـد يـا سـبك نمايد.
۲- سـکه منـدرج فقرۀ (۱) ايـن مـاده را آگـاهانه بـه جريان بگذارد.
(۲) شخـصی که يکی از اعمال آتی را انجام دهد، مرتکب جرم شناخته شده، به حبسی که از شش ماه تجاوز ننمايد يا به جـريمـه نقـدی کـه از دوازده هـزار افغـانی بـيـشتر نـباشد و يـا هر دو محکوم به جزاء می گردد:
۱- در صورتی که سکۀ رايج را از شکل بيندازد.
۲- در صورتی که سکه رايج را که از شـکل افتـاده اسـت، در دوران بگذارد.
۳- در صورتی که بدون استيذان دافغـانستان بانك، بانکنوتی را بـوسيلۀ طبـع کـردن، مهـر زدن، چسپاندن کلمات يا وسايل مشابه خطوط و تصاوير بالای آنها را از شکل بيندازد.
۴- در صـورتی کـه بـانکنوت رايج را کـه طـبق جزء "۳" فقرۀ (۲) ايـن مـاده از

شکل څخه غورځول شوی دی، دوران ته وړاندې کړي.

دبانکنوټونو ورته جوړونه

پنځه پنځوسمه ماده:

(۱) هېڅوک نشي کولای د الکترونیکي وسایلو یا کمپیوتر په مرسته یا په بل ډول داسې شیان جوړ، خپاره، چاپ، اجراء، صادر او یا یې په جریان کې واچوي چې له لاندې اقلامو څخه یوه ته ورته وي:

۱- رایج بانکنوټ.

۲- د پور بهالرونکی سند یا د دولت یا بلې مالي مؤسسې بهالرونکي سندونه.

(۲) لاندې اشخاص، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثنی دي:

۱- د دافغانستان بانک یا یې کارکوونکي، د دندې د اجراء په وخت کې.

۲- پولیس، د دندې د اجراء په وخت کې.

۳- هغه شخص چې د قرارداد یا جواز په اساس، د دافغانستان بانک یا پولیسو لخوا عمل کوي.

(۳) هغه شخص چې د دې مادې د شکل انداخته شده است، به دوران بگذارد.

شبیه سازی بانکنوت ها

مادۀ پنجاه و پنجم:

(۱) هیچکس نمی‌تواند به کمك وسائل الکترونیکی یا کامپیوتر یا به نحوی دیگری اشیایی را بسازد، منتشر، چاپ، اجراء، صادر و یا در جریان بیندازد که مشابه یکی از اقلام آتی باشد:

۱- بانکنوت رایج.

۲- سند بهادار قرضه یا اسناد بهادار دولت یا مؤسسۀ مالی دیگر.

(۲) اشخاص آتی از حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده مستثنی می‌باشند:

۱- د افغانستان بانك یا کارکنان آن حین اجرای وظیفه.

۲- پولیس حین اجرای وظیفه.

۳- شخصی که به اساس قرار داد یا جواز از جانب د افغانستان بانك یا پولیس عمل مینماید.

(۳) شخصی که حکم مندرج

(۱) فقري کې درج شوی حکم نقض کړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او په هغه حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا نقدي جریمه چې له دولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا په دواړو په جزاء محکومېږي.

(۴) هېڅ شخص د هغه ورته بانکنوټ د چاپ په اړه چې د دافغانستان بانک لخوا صادر شوی دی، په لاندې مواردوکې د دې مادې د (۳) فقرې مطابق، په مجازاتو نه محکومېږي، په هغه صورت کې چې معلومه شي چې د هغه ورته بانکنوټ اوړده اوسور، د جاري بانکنوټ له اوږدو او سور څخه درې پر څلور یا له یونیم برابر څخه زیات وي:

۱- اړوند شکل یوازې تور او سپین وي.

۲- ورته والی یوازې د ورته بانکنوټ پر یوه مخ باندې ښکاره شوی وي.

وسایل یا مواد

شپږ پنځوسمه ماده:

هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې د هغه په خپله

فقرۀ (۱) این ماده را نقض کند، مرتکب جرم شناخته شده به حبسیکه از شش ماه تجاوز ننماید یا جریمه نقدی که از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد و یا هر دو محکوم به جزاء می‌گردد.

(۴) هیچ شخص در رابطه به چاپ همانند بانکنوتیکه توسط د افغانستان بانك صادر شده است، در موارد آتی مطابق فقرۀ (۳) این ماده محکوم به مجازات نمی‌گردد در صورتی‌که معلوم گردد، که طول یا عرض آن بانکنوت مشابه کمتر از سه چهارم یا بیشتر از یك و نیم برابر طول و یا عرض بانکنوت جاری باشد:

۱- شکل مربوطه صرفاً سیاه و سفید باشد.

۲- تشابه صرف در یك روی بانکنوت همانند، ظاهر شده باشد.

وسائل یا مواد

مادۀ پنجاه و ششم:

شخصی‌که بدون داشتن عذر قانونی که اثبات آن بر عهدۀ خود

غاړه دی د ماشین، انجن، ابزارو، وسایلو، موادو یا شیانو چې پوهېږي د پیسو، قیمت لرونکو جعلي توکنونو د جوړولو لپاره په کار وړل کېږي یا وپوهېږي چې د دغه ډول ګټې اخیستنې لپاره برابر شوي دي او هغه جوړ کړي، ترمیم یې کړي یا یې په جوړولو یا ترمیمولو لاس پورې کړي یا یې په خپل حیازت کې ولري د جرم مرتکب ګڼل کېږي، په طویل حبس محکومېږي.

له ضرابخانې څخه د ضرب وهلو د وسایلو لېږدول

اووه پنځوسمه ماده:

هغه شخص چې له قانوني عذر پرته چې اثبات یې د هغه پخپله غاړه دی، په آګاهانه توګه یو له لاندې شیانو څخه د قانوني فعالیت له جواز لرونکې ضرابخانې څخه بهر کړي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي، او په طویل حبس محکومېږي:

۱- ماشین، انجن، ابزار، وسایل، مواد یا هغه شیان چې د سکې په جوړولو کې ورځخه ګټه اخیستل کېږي یا په کار وړل کېږي.

او می‌باشد، در رابطه به ماشین، انجمن، ابزار، وسایل، مواد یا اشیای را که می‌داند برای ساختن پول جعلی، توکن های جعلی قیمت دار بکار می‌رود یا بداند که برای چنین استفاده ای تهیه شده و آنرا بسازد، ترمیم نماید یا اقدام به ساختن یا ترمیم آن نماید یا خرید و فروش نماید و یا در حیازت خود داشته باشد، مرتکب جرم شناخته شده، به حبس طویل محکوم می‌گردد.

انتقال وسائل سکه زدن از ضرابخانه

مادۀ پنجاه و هفتم:

شخصی که بدون داشتن عذر قانونی که اثبات آن بر عهدۀ خود او می‌باشد، بطور آگاهانه یکی از اشیای آتی را از ضرابخانه دارای جواز فعالیت قانونی خارج نماید، مرتکب جرم شناخته شده، به حبس طویل محکوم می‌گردد:

۱- ماشین، انجن، ابزار، وسایل، مواد یا اشیایی را که در رابطه با ساختن سکه استفاده می‌شود یا بکار می‌رود.

۲- د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو شیانو کې د ګټې اخیستنې وړ جزء.
۳- سکه، د فلز استوانه یا د فلزاتو مخلوط.

اعلان، سوداګري
اته پنځوسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې یو له لاندې عملونو څخه سرته ورسوي، د جرم مرتکب ګڼل کېږي او له احوالو سره سم هغه په حبس چې له پنځو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي:
۱- د جعلي پیسو یا قیمت لرونکو توکنونو د خرڅلاو، برابرولو یا لېږدونې د وړاندیز یا د ګټې اخیستنې د ډول یا د هغو وسایلو په اړه چې د هغو په واسطه جعلي پیسې یا قیمت لرونکي توکنونه خرڅ، برابر یا لېږدول کېداې شي، د اطلاعاتو د هر ډول اعلان یا اشتهار خپرول.
۲- د قیمت لرونکو جعلي توکنونو پېرودل یا لاس ته راوړل یا د قیمت لرونکو جعلي توکنونو د پېرودلو یا لاس ته راوړلو په هکله مذاکره یا د مذاکرې وړاندیز یا د هغو په اړه په

۲- جز قابل استفاده در اشیای مندرج فقرۀ (۱) این ماده.
۳- سکه، استوانۀ فلز یا مخلوطی از فلزات.

اعلان، تجارت
مادۀ پنجاه و هشتم:
(۱) شخصی که یکی از اعمال آتی را انجام دهد، مرتکب جرم شناخته شده، حسب احوال به حبسی که از پنج سال تجاوز ننماید، محکوم می‌گردد:
۱- اعلان یا پخش هر نوع اشتهار مبنی بر پیشنهاد فروش، فراهم کردن یا انتقال پول یا توکن های جعلی قیمت دار یا اطلاعات در رابطه با طرز استفاده یا وسائلی که توسط آنها پول یا توکن های جعلی قیمت دار فروش، فراهم یا انتقال گردیده می‌تواند.
۲- خریداری، بدست آوردن، مذاکره یا پیشنهاد مذاکره نمودن در مورد خریداری یا بدست آوردن توکن های قیمت دار جعلی یا به شکل دیگری در رابطه به

بل ډول د ارتباط نیول.
(۲) هېڅـــوک د دې مـــادې د (۱) فقرې د حکم مطابق د واقعي سکې یـا بـانکنوټ په اړه چې د پیسو په عنـوان ارزښت نـه لـري، د جـرم په ارتکاب نه محکومېږي، خو دا چې وپـوهېږي چـې نومـوړې سـکه یـا بانکنوټ د پیسو په عنوان ارزښت نـه لـري او د هغـو پـه اړه خدعې او تېر ایستنې وجود ولري.

د اثبـات پـه هکلـه اختـصاصي حکمونه

نهه پنځوسمه ماده:
(۱) د پیـــسو یـــا قیمـــت لرونکـــو توکنونو په اړه جعل کاري، د هغـو د نه ورته والي، د مودې د تېرېدو (انقضاء) او تبادلې با وجود، بشپړ جرم ګڼل کېږي.
(۲) د دافغانـستان بانـک د مؤظـف شـخص لاسـلیک، پـه افغانـستان یـا نـورو هیوادونـو کـې د پیـسو یـا قیمت لرونکو توکنونو د جعلي یا واقعي توب، رایج یا نـه رایج والي د اثبـات پـه رابطـه کـې، د جعـل کاري د څېړنې په اړه کافي دی، د لاسـلیک کـوونکي شـخص د رسـمي مشخـــصاتو اثبـــات تـــه اړتیـــا

آنها ارتباط گرفتن.
(۲) هـیچ کـس مطـابق حکـم فقـرۀ (۱) این ماده در رابطه بـه سـکه یـا بانکنوت واقعی که ارزشی بعنوان پـول نـدارد، محکـوم بـه ارتکـاب جرم نمـــیگردد، مگر اینکه بداند که سکه یا بـانکنوت هـای متـذکره ارزشـی بعنـوان پـول نـدارد و در رابطـه بـه آنـــها خـــدعه و فریـب وجود داشته است.

احکـــام اختـــصاصی در مـــورد اثبات

مادۀ پنجاه و نهم:
(۱) جـــعل کـــاری در رابطـه بـه پـول یـا تـوکن هـای قیمـت دار بـا وجـود عـدم مـشابهت، انقـضای مـدت و تبادلـۀ آنهـا، جـرم کامـل پنداشته می‌شود.
(۲) امـــضای شـــخص مؤظـــف دافغانـــستان بانـک در رابطـه بـه اثبـات مبنـی بـر جعلـی یـا واقعـی بودن و رایج یا عدم رایج بودن پول یـــا تـــوکن هـــای قیمـــت دار در افغانستان یا کشور های دیگر در امر تحقیق جعل کاری کافی بوده، ضـرورت بـه اثبـات مشخـصات رسمی شخص امضاء کننده نمی

نشته.
(۳) هغه اړخ (لوری) چې د دې مادې په (۲) فقره کې درج تصدیق پاڼه د هغه په خلاف وړاندې شوېده، کولای شي د محکمې په اجازه، د متقابل تحقیق په منظور، د جعلکاری د تحقیق کوونکي حضور وغواړي.
(۴) د دې مادې په (۲) فقره کې درج تصدیق پاڼه د مدرک په توګه نه پېژندل کېږي، خو دا چې هغه لوری چې د هغې د وړاندې کولونیت لري، د محاکمې له بهیر د مخه یې مقابل لوری خبر کړی او د تصدیقپاڼې یوه نسخه یې هغه ته وراستولې وي.

د بانکنوټ، سکې، سندونو او نښو (توکنونو)غیر مجاز خپرول
شپېتمه ماده:
هغه شخص چې یو بانکنوټ یا سکه، د دې قانون د څلور دېرشمې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم سره په تناقض کې یا نور سندونه یا توکنونه چې په افغانستان کې د خپرولو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي، خپاره کړي، په طویل حبس

باشد.
(۳) طرفی که تصدیقنامهٔ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده علیه وی ارائه شده است، می‌تواند به اجازهٔ محکمه به منظور تحقیق متقابل، حضور تحقیق کنندهٔ جعلکاری را تقاضاء نماید.
(۴) تصدیقنامهٔ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده منحیث مدرك پذیرفته نمی شود، مگر اینکه طرفی که قصد ارائهٔ آن را دارد، قبل از جریان محاکمه، طرف مقابل را مطلع و یك نسخه از تصدیقنامه را به وی ارسال نموده باشد.

نشر غیر مجاز بانکنوت، سکه، اسناد و نشانه ها (توکن ها)
مادهٔ شصتم:
شخصی‌که بانکنوت یا سکه ایرا در تناقض با حکم مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ سی و چهارم این قانون یا سایر اسناد یا توکن ها را که در افغانستان به منظور نشر مورد استفاده قرار می گیرد، نشر نماید، به حبس طویل محکوم

محکومپږي.

مصادره

یوشپېتمه ماده:

(۱) جعلـي بانکنوټونـه، سـکې، سندونه او نښې یا قیمت لرونکي توکنونـه او هغـه وسـایل چـې د جوړولـو لپـاره تـر ګټې اخیـستنې لاندې نیـول کېږي یـا پـدې منظـور برابر شوي وي، مصادره کېږي.

(۲) پولیس کولای شي لاندې شیان ضبط کړي اوویې ساتي:

۱- جعلي پیسې.

۲- جعلي قیمت لرونکې نښې.

۳- ماشـینونه، انجنونـه، ابـزار، وسایل یا هغه شیان چې د جعلي پیسو یا قیمت لرونکو توکنونو د جوړولو لپاره په کار وړل شوي یا د هغـو دګټـې اخیـستنې لپـاره اختصاص کړی شوي یـا د هغـو د تولید په مقصد جوړ شوي دي.

(۳) د دې مـادې پـه (۲) فقـره کـې درج ضـبط شـوي شـیان، د محـوه کولـو یـا د بـل منظـور لپـاره چـې واکمـن مقامونـه یـې لازم وبـولي، د دافغانستان بانک ته استوي. هغه شیان چې ساتل یې د جرم د اثباتیه مدرک په توګه اړین وګڼل شي له

می گردد.

مصادره

مادۀ شصت و یکم:

بـانکنوت هـا، سـکه هـا، اسـناد و نـشانه هـا یـا توکنهـای قیمـت دار جعلی و وسایلی که برای ساختن مورد استفاده قرار می گیرد یـا بـه ایـن منظـور تهیـه شـده باشـد، مصادره می‌گردد.

(۲) پولیس میتواند اشیای آتی را ضبط و نگهداری نماید:

۱- پول جعلی.

۲- نشانه های قیمت دار جعلی.

۳- ماشین هـا، انجـن هـا، ابـراز، وسایل، مـواد یـا اشیایی که بـرای سـاختن پـول یـا تـوکن هـای قیمـت دار جعلی بکـار رفتـه اند یـا بـرای استفادۀ آنهـا اختـصاص داده شـده و یا بـــه مقصد تولید آنها سـاخته شده اند.

(۳) اشیای ضبط شدۀ مندرج فقرۀ (۲) ایـن مـاده غـرض امحـاء یـا بـه منظـــور دیگـــری کـــه مقامـــات ذیـــصلاح لازم بدانـــد، بـــه د افغانستان بانك فرستاده می‌شود. اشـیائیکه نگهداشـت آن منحیـث مدرك اثاثیۀ جرم ضروری پنداشته

دې حکم څخه مستثنی دي.
(۴) بانکنوټ، سکه، سند یا د دې مادې له (۱) فقرې سره په تناقض کې نورې نښې چې د پیسو په توګه په دافغانستان بانک کې د دوران لپاره په پام کې نیول شوي وي، جعلي ګڼل کېږي.
هغه موارد چې د دې فصل د حکمونو مطابق، مجاز ګڼل شوي دي له دې حکم څخه مستثنی دي.

پنځم فصل
پولي دندې او فعالیتونه

پولي سیاست
دوه شپیتمه ماده:
د دافغانستان بانک، د هېواد د پولي سیاست د طرح، تر لاس لاندې نیولو او اجراء مسئول دی.

د آزاد بازار عملیات
دري شپېتمه ماده:
د دافغانستان بانک د خپل پولي سیاست په اجراء کې کولای شي د آزاد بازار له لارې د تبالې وړ بهرنیو اسعارو، د دولت لخوا خپرو شوو د پور د بها لرونکو سندونو، په قطعي پېرودنه او پلورنه (د

شود ازین حکم مستثنی است.
(۴) بانکنوت، سکه، سند یا سایر نشانه ها در تناقض با فقرهٔ (۱) این ماده که منحیث پول برای دوران در دافغانستان بانک در نظر گرفته شده باشد، جعلی پنداشته می‌شود.
مواردی که مطابق احکام این فصل مجاز دانسته شده از این حکم مستثنی می‌باشد.

فصل پنجم
وظایف و فعالیتهای پولی

سیاست پولی
مادهٔ شصت و دوم:
د افغانستان بانك مسئول طرح، اتخاذ و اجرای سیاست پولی کشور میباشد.

عملیات بازار آزاد
مادهٔ شصت و سوم:
د افغانستان بانک در اجرای سیاست پولی خود می تواند از طریق بازار آزاد در خرید و فروش قطعی (فوری یا پیش خرید) و یا به موجب قرار داد های باز خرید، اسعار خارجی قابل تبادله،

فوري يا د مخکنۍ پېرودنې) او يا د بيا پېرودنې د قرارداد په موجب، له خپل لوري اقدام وکړي. پدې هکله له نورو اسعارو او بهادارونکوسندونو څخه ګټه نشي اخيستل کېدی.

د بانکونو الزامي زېرمې

څلورشپېتمه ماده :

(۱) د افغانستان بانک د خپل پولي سياست په اجراء کې کولای شي بانکونه مکلف کړي، په افغانستان بانک کې سپارنې (اجباري زېرم) کېږدي. د دغو سپارنو حد اقل ميزان د مقدار، ډول يا د سپارنو د سر رسيد، د ترلاسه شوو پورونو د وجوهو او د بانکونو د نورو بديهيو پر بنسټ چې د افغانستان بانک يې لازم وبولي د اړوندو مقرراتو مطابق ټاکي. د بديهيو په وړاندې د الزامي زېرمې ميزان، د ټولو بانکونو لپاره يوشان دی.

(۲) د افغانستان بانک کولای شي د نقدي سپارنو يا د بانکونو د نورو پولي سپارنو ميزان چې په افغانستان بانک کې يې د الزامي زېرمو په توګه لري او هغه وخت اسناد بهادار قرضه منتشر شده از جانب دولت، از طرف خود اقدام نمايد. در اين مورد از ساير اسعار و اسناد بهادار استفاده به عمل آمده نمی‌تواند.

ذخاير الزامی بانکها

مادۀ شصت و چهارم:

(۱) د افغانستان بانك در اجرای سياست پولی خود ميتواند بانکها را مکلف نمايد، سپرده هايی (ذخاير الزامی) در د افغانستان بانك بگذارند. ميزان حد اقل اين سپرده ها به اساس مقدار، نوع يا سررسيد سپرده ها، وجوه قرضه دريافت شده و ساير بديهی های بانکها که د افغانستان بانك لازم بداند، طبق مقررات مربوط تعيين می‌نمايد. ميزان ذخاير الزامی در برابر بديهی ها برای همه بانکها يکسان می‌باشد.

(۲) د افغانستان بانك می‌تواند ميزان سپرده های نقدی يا ساير سپرده های پولی بانك ها را که بحيث ذخاير الزامی در د افغانستان بانك دارند و مدت

موده چې د موجودو الزامي زېرمو د ميزان د ټاکلو لپاره د ورځنيو بېلانسونو اوسط تثبيتېږي، د اړوندو مقرراتو مطابق وټاکي.

د دافغانستان بانک کولای شي د اجباري زېرمو لپاره ګټه (مفاد) وټاکي.

(۳)ددې مادې په (۲) فقره کې په درج شوو مقرراتو کې چې دهغو په موجب الزامي زېرمې ټاکل کېږي يا تغييرات پکې راځي، هغه نېټه چې بانکونه نوې زېرمې يا دهغو ميزان رعايت کړي هم ټاکل کېږي.

زمانی که اوسط بیلانس های روزانه جهت تعیین میزان ذخایر الزامی موجوده تثبیت می‌گردد، طبق مقررات مربوط تعیین نماید.

د افغانستان بانک می‌تواند برای ذخایر الزامی مفاد تعیین نماید.

(۳) در مقررات مندرج فقرهٔ (۲) این ماده که بموجب آن ذخایر الزامی معین میشوند یا تغییراتی در آن رونما می گردد، تاریخی که بانکها ذخایر جدید یا میزان آنرا رعایت نمایند نیز معین می‌گردد.

د الزامي زېرمو له تأمينولو څخه سرغړونه

پنځه شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې بانکونه، د دې قانون په څلور شپېتمه ماده کې د درج شوو الزامي زېرمو له حداقل تأمينولو څخه ډډه وکړي، د دافغانستان بانک کولای شي د کمښت تر جبرانه پورې، جريمه چې اندازه يې د دافغانستان بانک د مقرراتو مطابق ټاکل کېږي، اعمال کړي.

تخلف از تأمین ذخایر الزامی

مادهٔ شصت و پنجم:

در صورتی‌که بانک ها از تأمین حد اقل ذخایر الزامی مندرج مادهٔ شصت و چهارم این قانون خود داری ورزند، د افغانستان بانك می‌تواند الی جبران کاهش، جریمه را که مقدار آن طبق مقررات د افغانستان بانك تعیین می‌گردد، اعمال نماید.

د تنزیل عملیات

شپږشپېتمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي یوازې لاندې بانکي وړاندې شوي سندونه چې له افغانستان بانک سره حساب ولري راتیټ (تنزیل) کړي:

۱- برات او حجت چې د پیسو واحد یې افغانۍ او په هېواد کې د ورکړې وړ وي او حداقل د دریو لورو (طرفونو) چې د خپلو دیونو د ورکړې وړتیا لري او لږ تر لږه له هغو څخه یو لوری یې بانک وي، د لاسلیک لرونکي وي او د سررسید موده یې، د دافغانستان بانک په واسطه د هغو د ترلاسه کولو له نېټې څخه له دریو میاشتوڅخه زیاته نه وي.

۲- په استثنایي مواردو کې د دافغانستان بانک کولای شي، د دې فقرې په (۱) جزء کې درج شوي سندونه، په هغه صورت کې چې حداقل د دوو لورو چې د خپلو دیونو د ورکړې وړتیا لري او له دې جملې یو لوری یې بانک وي د لاسلیک لرونکي وي او د سر رسید موده یې، د دافغانستان بانک په

عملیات تنزیل

مادۀ شصت و ششم:

(۱) د افغانستان بانک می‌تواند صرف اسناد عرضه شدۀ آتی بانکی را که نزد د افغانستان بانک حساب داشته باشد، تنزیل دهد:

۱- برات وحجت که واحد پول آنها افغانی و قابل پرداخت در کشور بوده و دارای امضای حد اقل سه طرف که قابلیت پرداخت دیون شان را داشته و حد اقل یک طرف از آنها بانک باشد و میعاد سررسید آنها مدت سه ماه از تاریخ دریافت آن توسط د افغانستان بانک بیشتر نباشد.

۲- در موارد استثنایی د افغانستان بانک می‌تواند اسناد مندرج جزء (۱) این فقره را در صورتی‌که حد اقل دارای امضاء دو طرف که قابلیت پرداخت دیون شان را داشته و از جمله یک طرف آن بانک باشد و میعاد سررسید آنها بیش از سه ماه الی شش ماه

واسطه د هغو له تر لاسه کولو څخه لـه دریـو تـر شـپږو میاشـتو پـورې زیاته نه وي.

۳- د پور بها لرونکي سندونه چې د دولت یـا د دافغانستان بانک په واسطه صادر یـا ضـمانت شوي، د خرڅلاو لپـاره ټولـو (عمومـو) تـه د پـور د وړانـدې شـوو بهـا لرونکـو سـندونو جـزء او د افغانـستان پـه قلمرو کې د ورکړې وړ وي او پولي واحـدې افغـانۍ او د سررسـید مـوده یـې د دافغانـستان بانـک پـه واسطه د اخیـستلو لـه نېټـې څخـه درې میاشتې وي.

(۲) د دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوي د تنزیـل عملیـات، د نورو شرایطو او مقرراتو (د تنزیـل د نـرخ پـه شـمول) چې د دافغانـستان بانک لخوا وضع کېږي، تابع دي.

(۳) د دافغانـستان بانـک کـولای شـي، د دې مـادې پـه (۱) او (۲) فقره کې د درج شوو سندونو د هر یوه له تنزیل څخه، ډډه وکړي.

د پورونو ورکول

اووه شپېتمه ماده:

(۱) د دافغانـستان بانـک کـولای شي، د اړوندو شرایطو او مقرراتو از تاریـــخ دریـــافت آنهـا توسـط د افغانـستان بـانک نباشد.

۳- اســـناد بهـادار قرضـه کـه تـــوسط دولت یا د افغانستان بانـــک صـــادر یـا ضـمانت گـــردیده، جـــزء اسـناد بهـادار قـرضـــه عرضـه شـده بـه عمـوم جهـت فـروش و در قلمـرو افغانـستان قابـل پرداخـت بـوده و واحـد پـولی آن افغـانی و میعـاد ســـررســـید آنهـا مـدت سـه مـاه از تـاریخ اخـذ آن توسـط د افغانستان بانک باشد.

(۲) عملیـات تنزیـل منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده تـابع سـایر شـرایط و مقررات (بشمول نـرخ تنزیـل) کـه از طـرف د افغانـستان بانـک وضـع میگردد، می‌باشد.

(۳) د افغـانستان بانک می‌توانـد از تنـــزیل هـر یـک از اســـناد منـدرج فقـره هـــای (۱) و (۲) ایـن مـــاده خود داری نماید.

اعطای قروض

مادۀ شصت و هفتم:

(۱) د افغانـستان بانـک مـی‌توانـد طبـق شـرایط و مقـررات مربـوط

مطابق، د دریو میاشتو تر مودې پورې نورو بانکونو ته پور ورکړي، پدې شرط چې په دافغانستان بانک کې حساب ولري او د هغو د له لاسدې شتمنیو څخه د یوې په واسطه تضمین شي:

۱- د دې قانون په دوه اویایمه ماده کې درج اسعاري زېرمې.

۲- د پور بها لرونکي نور سندونه چې د دولت لخوا صادر یا ضمانت شوي وي او په هېواد کې ټولو ته د وړاندې شوو د پور د بها لرونکو سندونو جزء په افغاني پیسو د ورکړې وړوي.

۳- د مالونو د ګدام رسیدونه، د کالیو یا لومړنیو موادو یا نورو جنسونو چې د نابودۍ او زیان په وړاندې بیمه شوي وي د مالکیت سندونه.

۴- له دافغانستان بانک یا د دافغانستان بانک ته د منلو وړ سپارنو اخیستونکو سره موجودې، له هغو ډول ډول شتمنیو څخه جوړې (مرکبې) سپارنې چې د دافغانستان بانک یې، د دې قانون د حکمونو مطابق، د هغو په پېرودلو، پلورلو یا معاملې

برای مدت الی سه ماه به سایر بانک ها قرضه اعطاء نماید، مشروط بر اینکه در د افغانستان بانك حساب داشته و توسط یکی از دارائی های آتی آنها تضمین شود:

۱- ذخایر اسعاری مندرج مادۀ هفتاد و دوم این قانون.

۲- سایر اسناد بهادار قرضه که توسط دولت صادر و یا ضمانت شده و جزء اسناد بهادار قرضۀ عرضه شده به عموم در کشور قابل پرداخت به پول افغانی باشد.

۳- رسید های گدام اموال، اسناد مالکیت کالاها یا مواد اولیه یا سایر اجناس که در مقابل خطر نابودی و ضرر بیمه شده باشند.

۴- سپرده های موجود نزد دافغانستان بانك یا سپرده گیرنده های قابل قبول برای د افغانستان بانك مرکب از انواع دارایی هاییکه دافغانستان بانك مطابق احکام این قانون مجاز به خرید و فروش یا معامله

مجـــازوي، د ســـرو زرو او نـــورو قيمتي فلزاتو او کريمه احجارو په شمول.

(۲) هغـــه بانکونـــه چـــې لـــه دافغانستان بانک سره حساب لري، پـه افغانـستان کـې يـوازې د دوی مرکـزي دفترونـو تـه پـور ورکـول کېږي.

د تنزيل يا پور نرخونه

اته شپېتمه ماده:

د دافغانستان بانک د تنزيل او پور نرخونه، د هغو مقرراتو مطابق چې د دافغانستان بانک يې وضع کوي، ټاکل کېږي.

شپږم فصل

د اسعارو د نرخ او کنترول سياست

کلي سياستونه

نهه شپېتمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک د هېواد د اسـعارو د نـرخ د سياسـت د طـرح کولو ترلاس لاندې نيولو، تنظيمولـو او اجراء کولـو مسئول دی، مکلف دی چـې پـه دې هکلـه لـه تـصميم نيـونې څخـه د مخـه د مـاليې لـه وزارت سره مشوره وکړي.

آنها می‌باشد، به شمول طـــلا و ســـایر فلزات و احـــجار کریمهٔ گرانبها.

(۲) قرضـــه بانکهائیکـــه نـــزد د افغانـستان بانـک حـساب دارنـد صـــرف بـــه دفـــاتر مرکـــزی آنهـــا در افغانـــستان اعطـــاء می‌گردد.

نرخ های تنزیل و قرضه

مادهٔ شصت و هشتم:

نـــرخ هـــای تنزیـــل و قرضـــهٔ دافغانـــستان بـــانک مطـــابق مقرراتیکـــه دافغـــانـــستان بانـــک وضع مینماید، تعیین می‌گردد.

فصل ششم

سیاست نرخ و کنترول اسعار

سیاست های کلی

مادهٔ شصت و نهم:

(۱) د افغـــانـــستان بانـــک مـسئول طـرح، اتخـاذ، تنظـیم و اجرای سیـاســـت نرخ اسعار کشور بـوده، مکلـــف است قبل از اتخـــاذ تـــصمیم در ایـــن زمیـــنه بـا وزارت مـــالیه مشوره نماید.

(۲) د دافغانستان بانک د افغانستان د استازي په توګه د اسعارو د کنترول په اړه د له هېواد د اړوندو نافذه قوانینو مطابق عمل کوي.

هغه رسېدلي رپوټونه، د حساباتو صورتونه یا اطلاعات چې لازمي وګڼل شي، د دافغانستان بانک لخوا وړاندې کېږي.

مکلفیتونه

اویایمه ماده:

د دافغانستان بانک د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- په هېواد کې د اسعارو د نرخ د سیاست او د اسعارو د بازار د فعالیتونو د اجراء کولو او لپاره د مقرراتو، لایحو، دستورالعملونو یا لازمو لارښوونو وضع کول.

۲- د دې قانون د اووه اویایمې مادې مطابق د صرافانو، بانکونو او نورو مالي مؤسسو د جواز ثبتول او صادرول او د هغوی د اړوندو چارو څارنه او تنظیمول.

۳- د اسعارو، صرافانو او بانکونو د وضعیت په اړه د حدودو ټاکل.

۴- د اسعارو د لیلام د مجلس د دایرولو سازمانول.

(۲) د افغانستان بانک منحیث نمایندۀ افغانستان در رابطه به کنترول اسعار در مطابقت با احکام قوانین نافذۀ مربوط، عمل می‌نماید.

گزارش های رسیده، صورت حسابات یا اطلاعاتی که لازمی پنداشته می شود، توسط د افغانستان بانك ارائه می گردد.

مکلفیت ها

مادۀ هفتادم:

د افغانستان بانك دارای مکلفیت های آتی می‌باشد:

۱- وضع مقررات، لوایح، دستورالعمل ها یا رهنمود های لازم غرض اجرای سیاست نرخ اسعار و فعالیت های بازار اسعار در کشور.

۲- ثبت و صدور جواز و نظارت و تنظیم امور مربوط به صرافان، بانکها و سایر مؤسسات مالی مطابق مادۀ هفتاد و هفتم این قانون.

۳- تعیین حدود راجع به وضعیت اسعار، صرافان و بانکها.

۴- سازمان دهی و تدویر مجالس لیلام اسعار.

۵- د افغانستان د نړیوالو زېرمو اداره کول او ساتل.

د تصفیې قراردادونه او نړیوالې ورکړې

یو اویایمه ماده:

د دافغانستان بانک کولی شي چې ځانته یا د دولت په استازیتوب، په بهر کې مېشتو دولتي او خصوصي تصفیوي مؤسسو سره، تصفیوي او د ورکړې موافقت لیکونه او نور قراردادونه عقد کړي.

اسعاری زېرمې

دوه اویایمه ماده :

(۱) د دافغانستان بانک د هېواد اسعاري زېرمې چې د لاندې شتمنیو له ټولو یا یوې برخې څخه جوړې دي، رامنځته کوي او ساتي یې:

۱- سره زر، کریمه ډبرې او نور ګران بیه فلزات.

۲- بانکنوټونه او د آزادې تبادلې وړ اسعار او سکې.

۳- د دافغانستان بانک په حسابونو کې موجود مبالغ چې د بهرنیو مرکزي بانکونو یا نورو مالي مؤسسو په دفترونو کې د آزادې راکړې وکړې وړ اسعارو په

۵- اداره و نگهداری ذخایر بین المللی افغانستان.

قرار دادهای تصفیه و پرداختهای بین المللی

مادۀ هفتاد و یکم:

د افغانستان بانك می‌تواند برای خود و یا به نمایندگی دولت با مؤسسات دولتی و خصوصی تصفیوی مقیم خارج، موافقتنامه های تصفیوی و پرداختی یا سایر قرار دادها را عقد نماید.

ذخایر اسعاری

مادۀ هفتاد و دوم:

(۱) د افغانستان بانك ذخایر اسعاری کشور را که متشکل از تمام یا قسمتی از دارایی های ذیل می‌باشد، ایجاد و نگهداری می‌نماید:

۱- طلا، احجار کریمه و سایر فلزات قیمتی.

۲- بانك نوتها و سکه های اسعار قابل تبادلۀ آزاد.

۳- مبالغ موجود در حسابات دافغانستان بانك که بصورت اسعار قابل تبادلۀ آزاد در دفاتر بانکهای مرکزی خارجی یا سایر مؤسسات مالی نگهداری

ډول ساتل کېږي.

۴- د پیسو د نړیوال صندوق څخه د اخیستلو (برداشت) د حق مجموعي مبلغ چې د دولت لخوا ساتل کېږي.

۵- براتونه، حجتونه، تعهدي نوټونه، د سپارنې سندونه، د پور سندونه او د پور نور بهاء لرونکي سندونه چې په تبادلې وړ اسعارو د ورکړې وړ وي.

۶- د مخکنۍ پېرودنې یا بیا پېرودنې قرارداد، د افغانستان بانک د اسعارو د بدلونې (معاوضې) قرارداد چې د بهرنیو مرکزي بانکونو یا نړیوالو مالي سازمانونو لخوا ترسره شوي یا ضمانت شوي وي، مستقبلی او د اختیار قراردادونه او نور قراردادونه چې د افغانستان بانک ته د تبادلې وړ بهرنیو اسعارو د لاسته راوړنې حق ورکوي.

(۲) د افغانستان بانک مکلف دی چې خپله بین المللی زېرمه تر هغه حده وساتي چې د افغانستان د پولي سیاستونو او اسعاري نرخونو د اجراء کولو او د بین المللی معاملو د په وخت غوښتنې د

می‌گردند.

۴- مجموع مبلغ حق برداشت مخصوص از صندوق بین المللی پول که بوسیلهٔ دولت نگهداری می‌شود.

۵- براءت، حجت، نوتهای تعهدی، اسناد سپرده، اسناد قرضه و سایر اسناد بهادار قرضه که به اسعار قابل تبادله، قابل پرداخت باشد.

۶- قرارداد پیش خرید یا خرید دوباره، قرار داد معاوضهٔ اسعار افغانستان بانک که توسط بانکهای مرکزی خارجی یا سازمانهای مالی بین المللی انجام یافته یا ضمانت شده، قرارداد مستقبلی و اختیار و سایر قراردادهای که به افغانستان بانک حق دریافت اسعار قابل تبادلهٔ خارجی را میدهد.

(۲) د افغانستان بانک مکلف است ذخیرهٔ بین المللی اش را به میزانی نگهدارد که برای اجرای سیاستهای پولی و نرخ اسعاری و تسویه عندالمطالبه معاملات بین

تسوئې لپاره کفایت وکړي.
(۳) په هغه صورت کې چې د دې مادې په (۲)فقره کې درج شوې نړیواله زېرمه داسې راکمه شي یا د سقوط د خطر په حال کې وي چې د پولي یا اسعاري سیاستونویا د نړیوالو معاملو د په وخت غوښتنو د تسویې لپاره کفایت ونه کړي، د دافغانستان بانک اصلاحي تدبیرونه په نظر کې نیسي او د موضوع رپوټ د وضعې د اغېزمن ښه والی لپاره د حل د لارو چارو له وړاندیز سره یو ځای د وزیرانو شوري ته وړاندې کوي.
(۴)د دافغانستان بانک مکلف دی چې د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوې وضعې تر لیرې کېدو پورې، اصلاحي اقداماتوته دوام ورکړي او رپوټونه او لازم وړاندیزونه وړاندې کړي.

د نړیوالو اسعاری زېرمو ترلاسه کول، ساتل او لېږدول

دري اویایمه ماده:

د دافغانستان بانک د بانکداری په قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق کولی شي چې د دې قانون د دوه اویایمې مادې په (۱) فقره المللی افغانستان کفایت نماید.
(۳) درصورتی‌که ذخیرهٔ بین المللی مندرج فقرهٔ (۲) این ماده طوری تقلیل یابد یا در حال خطر سقوط باشد که سیاست های پولی یا اسعاری یا تسویه عندالمطالبه معاملات بین المللی کشور را تکافو نه نماید، د افغانستان بانک تدابیر اصلاحی را در نظر گرفته و گزارش موضوع را همراه با پیشنهاد راه حل های مؤثر بهبود وضع به شورای وزیران ارائه می نماید.
(۴) د افغانستان بانک مکلف است الی رفع وضعیت مندرج فقرهٔ (۳) این ماده به اقدامات اصلاحی ادامه داده، گزارشات و پیشنهادات لازمه را ارایه نماید.

دریافت، نگهداری و انتقال ذخایر اسعاری بین المللی

مادهٔ هفتاد و سوم:

د افغانستان بانک مطابق احکام مندرج قانون بانکداری می‌تواند اقدامات لازم را غرض دریافت، نگهداری و

کې د درج شوي نړیوالو اسعاري زېرمو د تر لاسه کولو، ساتلو او لېږدولو لپاره لازم اقدامات تر سره کړي او د نړیوالو پېژندل شوو بڼو معیارونو مطابق هغه اداره کړي.

اسعاري بديهيو محدود والی ځلوراويايمه ماده:

د دافغانستان بانک نه شي کولای د خپلو (بديهيو) زياتوالی، چې په اسعارو د ورکړې وړوي، په هغه صورت کې چې د هغې په نتيجه کې د دغو بديهيو مجموع د هغه د لاس نه خوړونکې پانګې او اسعاري زېرمې د مجموع مبلغ په سلوکې له پنځوس څخه زيات سره معادل شي اجازه ورکړي.

د اسعارو صرافان پنځه اويايمه ماده:

(۱) د اسعارو صرافان مکلف وي چې د فعاليت جواز له دافغانستان بانک څخه واخلي.

(۲) د جواز د ورکړې، ثبتولو، ردولو او لغوه کولو ډول د مربوطو مقرراتو مطابق تنظيمېږي.

(۳) لاندې اشخاص د دې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه مستثنی انتقال ذخایر اسعاری بین‌المللی مندرج فقرۀ (۱) مادۀ هفتاد و دوم این قانون انجام داده و مطابق بهترین معیارهای شناخته شدۀ بین المللی آنرا اداره نماید.

محدودیت بر بدیهی های اسعاری مادۀ هفتاد و چهارم:

د افغانستان بانک نمی تواند افزایش بدیهی های خود را که به اسعار قابل پرداخت می باشند، در صورتی‌که در نتیجۀ آن مجموع این بدیهی ها معادل بیش از پنجاه فیصد مجموع مبلغ سرمایۀ دست نخورده و ذخایر اسعاری اش بالغ گردد، اجازه بدهد.

صرافان اسعار مادۀ هفتاد و پنجم:

(۱) صرافان اسعار مکلف اند جواز فعالیت را از د افغانستان بانک اخذ نمایند.

(۲) طرز اعطاء، ثبت، رد و لغو جواز طبق مقررات مربوط تنظیم می گردد.

(۳) اشخاص آتی از حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده مستثنی

دي:
۱- د افغانستان بانک.
۲- بانکونه.
۳- ټاکلي اشخاص د هغو د طبیعت د دلیل، د راکړې ورکړې د اندازې او موقعیت یا یې د مشتریانو د ډول له مخې.
(۴) هغه معافیتونه چې د دې مادې د (۳) فقرې په (۳) جزء کې درج شوو اشخاصو ته ورکول کېږي، مشروط یا د وخت له نظره محدود یا قسمي وي او هغه خدمتونه چې د هغوی لخوا تر سره کېږي یا نه ترسره کېږي، د دافغانستان بانک لخوا فهرست کېږي.
(۵) د اسعارو صرافان مکلف دي چې د دافغانستان بانک قوانین، مقررات، قواعد او ټول (کلاً) او په خاص ډول په لاندې مواردو کې رعایت کړي:
۱- اړوندې څانګې یا اداري ته د هغو معاملو په هکله چې ارزښت ئې د دافغانستان بانک په مقرراتو کې درج له ټاکل شوي حداقل مبلغ څخه زیاتی وکړي، د معلوماتو ورکول.

می‌باشند:
۱- د افغانستان بانك.
۲- بانکها
۳- اشخاص معین بنابر دلیل طبیعت، اندازه و موقعیت داد و ستد یا نوع مشتریان شان.
(۴) معافیت های که به اشخاص مندرج جزء (۳) فقرۀ (۳) این ماده اعطاء می گردد، مشروط یا از نظر زمانی محدود یا قسمی بوده و خدماتی که توسط آنها انجام می‌گردد یا نمی‌گردد، از طرف د افغانستان بانك فهرست می‌شود.
(۵) صرافان اسعار مکلف اند قوانین، مقررات، قواعد و طرزالعمل های دافغانستان بانك را کلاً و به طور اخص در موارد آتی رعایت نمایند:
۱- ارائۀ معلومات به شعبه یا ادارۀ مربوطه در مورد معاملاتی که ارزش آن از حد اقل مبلغ تعیین شده مندرج مقررات د افغانستان بانك تجاوز نماید.

۲- د مشتریانو په هکله د معلوماتو راټولول او په مربوطو دوسیو کې د هغو ثبتول او ساتل.
۳- د دافغانستان بانک په اړوندو مقرراتو کې د اټکل شوو شرایطو مطابق د خپلو مشتریانو، اداري، راکړې ورکړې او مالي وضعیت په هکله د مطلوب معلوماتو وړاندې کول.
(۶)د دافغانستان بانک کولی شي د اسعارو د صرافانو د فعالیت جواز او ثبت په هغه صورت کې چې د دې قانون یاد دافغانستان بانک له نورو مقرراتو څخه سرغړونه وکړي یا د جرم مرتکب شي، لغوه کړي.

اووم فصل
له دولت سره د دافغانستان بانک اړیکي

بانکدار، سلاکار (مشاور) او مالي استازی
شپږاویامه ماده:
(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی چې د دولت او د هغو دولتي ادارو او مؤسسو د بانکدار، سلاکار او مال استازي په توګه عمل وکړي

۲- جمع آوری معلومات در مورد مشتریان و ثبت و نگهداری آن در دوسیه های مربوط.
۳- ارایهٔ معلومات مطلوبه راجع به مشتریان، اداره، داد و ستد و وضعیت مالی خود، مطابق شرایط پیشبینی شده مقررات مربوط دافغانستان بانک.
(۶) د افغانستان بانک میتواند جواز فعالیت و ثبت صرافان اسعار را در صورتی که از احکام این قانون یا سایر مقررات د افغانستان بانک تخلف ورزد یا مرتکب جرم گردد، لغو نماید.

فصل هفتم
روابط د افغانستان بانک با دولت

بانکدار، مشاور و نمایندهٔ مالی
مادهٔ هفتاد و ششم:
(۱) د افغانستان بانک مکلف است بحیث بانکدار، مشاور و نمایندهٔ مالی دولت و ادارات و مؤسسات دولتی ایکه وزیر مالیه

چې د مالیې وزیر یې ټاکي، د دافغانستان بانک نه شي کولای له دولت یا دولتي ادارو او مؤسسو سره د مالي مرستې یا د هغو د ګټو د تأمین په منظور معامله ترسره کړي.

(۲) د دافغانستان بانک د خپلو هدفونو یا د واک او تخصص په ساحه کې د نورو چارو په هکله وړاندیزونه، مخکې لدې څخه چې ملي شوري ته وړاندې شي، د مالیې له وزیر سره پرې مشوره کوي.

(۳) د مالیې وزیر هر کال د دولت د راتلونکي کال د بودجې د جوړېدو په وخت کې له دافغانستان بانک سره مشوره کوي. د دافغانستان بانک مکلف دي چې د مربوطې بودجې د اقتصادي او مالي مسایلو په هکله لیکلي رپوټ د مالیې وزیر ته ورکړي.

(۴) د دافغانستان بانک د راتلونکي بودجوي کال بودجه طبع او د مالیې وزیر ته یې ورکوي او دولت ته په راتلونکي کال کې د لېږدونې وړ تخصیص په اټکلي

تعیین می نماید، عمل کند. د افغانستان بانک نمی تواند بمنظور کمك مالی یا جهت تأمین منافع دولت یا یکی از ادارات و مؤسسات دولتی افغانستان معامله را انجام دهد.

(۲) د افغانستان بانك پیشنهادات مبنی بر اهداف یا سایر امور شامل ساحۀ تخصص و صلاحیت خود را قبل از ارائۀ آن به شورای ملی با وزیر مالیه مشوره می‌نماید.

(۳) وزیر مالیه هر سال حین تهیۀ بودجۀ سال آیندۀ دولت با دافغانستان بانك مشوره می نماید. دافغانستان بانك مکلف است در بارۀ مسایل اقتصادی و مالی مربوط به بودجه، گزارش کتبی به وزیر مالیه ارائه نماید.

(۴) د افغانستان بانك بودجۀ سال بودجوی آینده را طبع و در اختیار وزیر مالیه قرار داده و تخصیص قابل انتقال به دولت را در سال آینده طور تخمینی تعیین می

توګه ټاکي.

د دولتي پور اخيستنې (استقراض) په اړه مشوره او رپوټ

اووه اویایمه ماده:

د مالیې وزیر هرکال د راتلونکي مالي کال په اوږدوکې د دولتي کورنۍ او بهرني استقراض د پلان په هکله چې په قرار داد، د وېش په برنامه او د قرار داد په نورو شرایطو کې درج مبالغ پکې شامل وي له د دافغانستان بانک سره مشوره کوي. دولت او نورې دولتي اداري او مؤسسې مکلفې دي، د خپلو استقراضي معاملو رپوټ د مربوطو مقرراتو مطابق وړاندې کړي.

د دولت امین او خزانه دار

اته اویایمه ماده:

(۱) ددافغانستان بانک کولی شې د دولت او نورو دولتي ادارو او مؤسسو دیپازیتونه د مالیې وزارت د تجویز له مخې ومني او د دولت د امین په توګه حسابونه وساتي، پیسې ترلاسه او ورکړي او نور مالي اړوند خدمتونه تر سره کړي او په مربوطوحسابونو کې د سپارل شوو مبالغو په اندازه د نماید.

مشوره و گزارش در مورد استقراض دولتی

مادۀ هفتاد و هفتم:

وزیر مالیه هر سال در باره پلان استقراض داخلی و خارجی دولتی در طول سال مالی آینده با د افغانستان بانک که شامل مبالغ مندرج در قرارداد، برنامه توزیع و سایر شرایط قرارداد می باشد، مشوره می نماید. دولت و سایر ادارات و مؤسسات دولتی مکلف اند گزارش معاملات استقراضی خود را طبق مقررات مربوط ارایه نماید.

امین و خزانه دار دولت

مادۀ هفتاد و هشتم:

(۱) د افغانستان بانک می‌تواند دیپازیت های دولت و ادارات و مؤسسات دولتی را بنابر تجویز وزارت مالیه بپذیرد و بحیث امین دولت، حسابات را نگهداری، پول را دریافت و پرداخت و سایر خدمات مالی مربوط را فراهم و به میزان مبالغ سپرده شده در

غوښتنې په وخت کې، پیسې ورکړي او موافقه وکړي چې د دې سپارل شوو مبالغو په مقابل کې تکټانه ورکړي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د هغه شرائطو مطابق چې تجویزوي ئې، نورو مالي مؤسسوته د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو سپارنو د لاسته راوړلو واک ورکړي.

حسابهای مربوط عندالمطالبه پول پرداخت نموده، موافقت کند که در مقابل این سپرده ها تکتانه بپردازد.

(۲) د افغانستان بانك می‌تواند به سایر مؤسسات مالی صلاحیت دریافت سپرده هایی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را مطابق به شرایطی که تجویز می‌نماید، اعطاء کند.

د مالي نمایندګۍ فعالیت

نهمه اویایمه ماده:

د دافغانستان بانک کولی شي د مالي استازي په توګه، د مالیې د وزیر په موافقه د دولت او نورو دولتي ادارو او مؤسسو لپاره لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:

۱- د پورتنیو مراجعو لخوا د بهالرونکو سندونو د صادره پورونو لپاره بازار موندل او د هغوې ثبتول او لېږدول.

۲- بها لرونکو سندونو د اصلي پېسو، ټکټاني، حق العمل او نورو لګښتونو ورکول.

۳- له دافغانستان بانک سره د پورتنیو ذکر شوو مراجعو د حسابونو په هکله د ورکړې د

فعالیت نمایندگی مالی

مادهٔ هفتاد و نهم:

د افغانستان بانك می تواند بحیث نمایندهٔ مالی به موافقهٔ وزیر مالیه برای حسابات دولت و سایر ادارات و مؤسسات دولتی فعالیت های ذیل را انجام دهد:

۱- بازار یابی برای اسناد بهادار، قرضه صادره توسط مراجع مربوط، ثبت و انتقال آنها.

۲- پرداخت اصل پول، تکتانه، حق العمل و سایر مصارف اسناد بهادار.

۳- اجرای معاملات پرداختی در مورد حسابات مراجع فوق الذکر نزد د افغانستان

معاملو اجراء کول.
۴- د نورو هغو چارو اجراء کول چې د دافغانستان بانک له اصلي هدفونو او دندو سره موافق وي.

مطلوبه معلومات
اتیایمه ماده:
د دافغانستان بانک کولای شي چې د خپلو دندو د تر سره کولو لپاره له دولت څخه د دلایلو په وړاندې کولو سره هغه اطلاعات او مالي او اقتصادي سندونه غوښتنه کوي، ترلاسه کړي.

دولت ته د دافغانستان بانک پورونه
یو اتیایمه ماده:
د دافغانستان بانک نه شي کولای، دولت یا نورو دولتي ادارو یا مؤسسو ته هېڅ ډول مالي مرستې برابرې کړي. د دې قانون دوه اتیایمه ماده له دې حکم څخه مستثنی ده.

د دولت د پور د بهالرونکو سندونو پېرودل
دوه اتیایمه ماده:
د دافغانستان بانک نه شي کولای د دولت د پورنو صادر شوي بهابانك.
۴- اجرای سایر اموریکه با اهداف و وظایف اصلی د افغانستان بانك موافق باشد.

معلومات مطلوبه
مادۀ هشتادم:
د افغانستان بانك می‌تواند اطلاعات و اسناد مالی و اقتصادی را که جهت انجام وظایفش با ارایۀ دلایل از دولت تقاضا می کند، دریافت نماید.

قروض د افغانستان بانك به دولت
مادۀ هشتاد و یکم:
د افغانستان بانك نمی تواند هیچگونه مساعدت مالی را به دولت یا ادارات و مؤسسات دولتی فراهم نماید. مادۀ هشتاد و دوم این قانون ازین حکم مستثنی است.

خرید اسناد بهادار قرضه دولت
مادۀ هشتاد و دوم:
د افغانستان بانك نمی تواند اسناد بهادار قرضۀ صادر

لرونکـي سـندونه دولـت تـه، د دافغانـستان بانـک د پـور پـه توګـه وپېري.

هغـه پېرودنې چې د دافغانستان بانک له پولي سیاست سره مطابقت ولـري، یـا د دافغانـستان بانـک د پانګې اچونـو لپـاره لازم وي او هغـه هم یوازې د دوه یم لاس په بازار کې صـورت ونیـسي، لـدی حکـم څخـه مستثنی دي.

شـدۀ دولـت را بحیـث قرضـۀ د افغـانـستان بانـك بـه دولـت، خریداری نماید.

خریـداری هـای کـه بـا اهـداف سیاست پـولی د افغانستان بانـك مطابقـت داشـته یـا بـرای سـرمایه گذاری دارایـی هـای دافغانـستان بانـك لازم باشـد و آنهـم فقـط در بـازار دست دوم صورت گیـرد، از این حکم مستثنی است.

اتم فصل
له نورو بانکونو سره د دافغانستان بانک اړیکي

فصل هشتم
روابط د افغـانستان بـانك با سایر بانکها

د بانکونو د جواز صادرول، څارنه او تنظیمول

دري اتیایمه ماده:

د دافغانـستان بانـک د بـانکونو د جواز د صادرولو، څارنې او د هغـو د چارو د سمبالولو مسئول دی.

صدور جواز، نظـارت و تنظیم بانکها

مادۀ هشتاد و سوم:

د افغـانستان بانك مسئول صدور جـواز، نظـارت و تنظـیم امـور بانکها می باشد.

د بهرنیو بانکونو څارنیزو مقاماتو سره همکاري

څلوراتیایمه ماده:

(۱) د دافغانـستان بانـک د بهرنیـو بانکونو له څارنیزو مقاماتو سره د بـانکونو د څـارنې پـه اړه د اړونـدو

همکـاری بـا مقامـات نظـارتی بانکهای خارجی

مادۀ هشتاد و چهارم:

(۱) د افغـانستان بانك با مراجع نظـارتـی بانکهای خارجی بر اسـاس روابط متقابل مربوط به

متقابلو اړیکیو په اساس چې یو د بل د واک په حوزه کې عمل کوي، نېږدې همکاري کوي. دغه همکاري د دافغانستان بانک او د بهرنیو بانکي څارنیزو مراجعو تر منځ د همکاری د موافقت لیک په صورت کې تر سره کېدلی شي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې همکاري د هر بانک په هکله د اطلاعاتو د تبادلې په ګډون چې د دواړو د واک د حوزو په حدودو کې فعالیت کوي، تر سره کېدلی شي، په دې شرط چې د پټ والي (سري توب) اصل رعایت کړي.

نظارت بانکهای که در حوزهٔ صلاحیت یکدیگر عمل می کنند، همکاری نزدیک می‌نماید. این همکاری بصورت موافقتنامه بین دافغانستان بانک و مراجع نظارتی بانکی خارجی صورت گرفته می‌تواند.

(۲) همکاری مندرج فقره (۱) این ماده شامل تبادل اطلاعات در بارهٔ هر بانکی که در حوزهٔ صلاحیت هر دو، فعالیت می کند، شده می تواند، مشروط بر اینکه اصل سری بودن را رعایت نماید.

په دفترونو کې بانکي حسابونه پنځه اتیایمه ماده:

- د دې مادې په (۴) جزء کې د درج شوو دلیلونو او د هغو د اصلاح کولو د لارو تصریح کول.
- د کمیسیون د نیول شوي تصمیم د عملي کولو په منظور د وروستنۍ نېټې ټاکل.

په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د کمېسیون د تصمیم مطابق اجراآت ترسره نه کړي، نیول شوی تصمیم عملي کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک نیول شوي تصمیمونه او صادر شوي حکمونه تر هغه وخته نافذ دي چې د کمېسیون حکم د هغو د باطلېدو یا تعدیلېدو په هکله نه وي صادر شوی یا د هغه د اعتبار موده نه وي منقضي شوې.

(۳) د دافغانستان بانک تصمیم یا حکم د هغې قضیې په هکله چې د کمېسیون د تصمیم مطابق د باطلولو یا تعدیلولو په هکله بیا ننموده باشد.

۵- کمیسیون حین اتخاذ تصمیم مبنی بر ابطال یا تعدیل تصامیم یا احکام دافغانستان بانک، مراتب آتی را رعایت می‌نماید:

- تصریح دلایل مندرج جزء (۴) این ماده و طرق اصلاح آن.
- تعیین تاریخ نهائی به منظور تعمیل تصمیم اتخاذ شدهٔ کمیسیون.

در صورتی‌که د افغانستان بانک حسب تصمیم کمیسیون اجراآت ننماید، تصمیم اتخاذ شده عملی می گردد.

(۲) تصامیم اتخاذ شده و احکام صادرهٔ د افغانستان بانک تا زمانی نافذ می‌باشد که از طرف کمیسیون، حکم مبنی بر ابطال یا تعدیل آن صادر نشده یا مدت اعتبار آن منقضی نگردیده باشد.

(۳) تصمیم یا حکم د افغانستان بانک در مورد قضیه ایکه مطابق تصمیم کمیسیون مبنی بر ابطال یا تعدیل، مجدداً اتخاذ یا صادر

نیول کېږي یا صادرېږي، بیا تر اعتراض لاندې راتلای شي.

دیارلسم فصل
متفرقه حکمونه

د تقدم حق

یوسلو پنځلسمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک د نغدو پېسو او نورو شتمنیو په ګډون چې په خپل یا د مربوطه مدیون په حساب کې ئې ساتي، د خپلو غوښتنو د لاس ته راوړلو په منظور د تقدم حق لري، دغه شتمنۍ کېدلی شي چې د رهن په صورت د دافغانستان بانک د غوښتنو د تضمین لپاره وي، په هغه صورت کې چې غوښتنې په سررسېدلی او د ورکړې وړ وي، د دافغانستان بانک له هغه څخه د خپلو غوښتنو د مجرائی او لاس ته راوړلو(حصول) لپاره ګټه اخلي. د بانکونو شتمنۍ چې د دافغانستان بانک له خوا د الزامي زېرمو په توګه ساتل کېږي، له دې حکم څخه مستثنی دي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي د خپل د تقدم له حق څخه یوازې د نقدي وجوهو په برداشت او د مې‌شود، دو باره مورد اعتراض قرار گرفته میتواند.

فصل سیزدهم
احکام متفرقه

حق تقدم

مادۀ یکصد و پانزدهم:

(۱) د افغانستان بانک بمنظور حصول طلبات خود اعم از پول نقد و سایر دارائیهای که در حساب خود یا مدیون مربوطه نگهداری می‌نماید، حق تقدم دارد، این دارائی ها میتواند بصورت رهن برای تضمین طلبات د افغانستان بانک باشد، در صورتی‌که طلبات بسر رسیده و قابل پرداخت باشند د افغانستان بانک از آن در مجرائی و حصول طلبات خود استفاده می‌نماید. دارائی های بانکها که منحیث ذخایر الزامی از طرف د افغانستان بانک نگهداری می‌شوند، ازین حکم مستثنی می‌باشد.

(۲) د افغانستان بانک میتواند از حق تقدم خویش صرف با برداشت وجوه نقدی و

مناسبې بیې په بدل کې د مدیونینو د نورو شتمنیو په پلورلو او د اړوندو لګښتونو له کسر وروسته د هغو د پلورنې له ماحصل څخه په طلباتو کې ګټه واخلي.

د مالکیت د طلب په شمول رقابتي طلب یا نور ړومبني اکتسابي حقوق، نشي کولای د دافغانستان بانک د تقدم د حق مانع شي، مګر دا چې ثابته شي چې د دافغانستان بانک مامورین پوهېدل چې دغه شتمنۍ په اړوند مدیون پورې اړه نلري.

ممنوعه فعالیتونه

یوسلو شپاړسمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک د هغو مواردو په استثني چې دغه قانون ورته واک ورکړی دی، نشي کولای لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:

۱- د مستقیم پور د مالي مرستې، بلاعوضه مرستې، مشروطې ژمنې یا د پور د پېرودلو یا د پور یا د بدهکارۍ په بل سند کې د مشارکت په ډول د مالي مرستې ورکول یا د پور قبلولو یا مشروطې بدیهۍ په ډول یا په نورو

فروش سایر دارائیهای مدیونین در بدل قیمت مناسب و مجرایی ما حصل فروش آن بعد از کسر مصارف مربوط، در طلبات استفاده نماید.

طلب رقابتی بشمول طلب مالکیت یا سایر حقوق اکتسابی قبلی، نمی تواند مانع حق تقدم د افغانستان بانك گردد، مگر اینکه ثابت گردد که مامورین دافغانستان بانك می‌دانستند که این دارائیها متعلق به مدیون مربوطه نمی باشد.

فعالیتهای ممنوعه

مادۀ یکصد و شانزدهم:

د افغانستان بانك به استثنای مواردیکه این قانون برایش تفویض صلاحیت نموده است، نمی‌تواند فعالیت های آتی را انجام دهد:

۱- اعطای کمك مالی بشکل قرضۀ مستقیم، کمك بلاعوض تعهد مشروط، یا خرید قرضه، مشارکت در قرضه یا سند دیگر بدهکاری یا بشکل قبول قرضه یا بدهی مشروط یا سایر اشکال و یا

ډولونو یا د بانکوالۍ په قانون کې په درج شوو نورو فعالیتونو کې ګډون کول.

۲- په سوداګرۍ او د مالي مؤسسې د سهامو په شمول د سهامي شرکت د ونډو په پېرودلو یا په بل ډول سره په سوداګرۍ کې ګډون کول چې په هر ډول مالي، سوداګریزو، کرنیزو، صنعتي یا نورو ژمنوکې د مالکیت ګټې ولري.

۳- د پېرودنې، اجارې یا له بلې لارې، په غیر منقولو مالونو کې د مالکیت حق لاس ته راوړل. خو دا چې د اداري دندو او خپلو فعالیتونو د اجراء په منظور یا د اړوندو کارکوونکو د اسکان یا د ورته اړتیاوو لپاره د دې قانون د حکمونو مطابق یې صورت مونډلی وي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:

۱- د پور ورکول یا په هغه سازمان کې چې د دافغانستان بانک په دندو او مکلفیتونو پورې په اړوندو چارو کې فعالیت کوي، د مالکیت د ونډې د لرلو یا ګډون د اجازې

اشتراك در سایر فعالیت های بانکی مندرج قانون بانکداری.

۲- اشتراك در تجارت و خریداری سهام شرکت سهامی بشمول سهام مؤسسهٔ مالی یا بصورت دیگری که منافع مالکیت در هر گونه تشبث مالی، تجارتی، زراعتی، صنعتی یا سایر تعهدات داشته باشد.

۳- دستیابی از طریق خریداری، اجاره یا نحو دیگر به حق مالکیت در اموال غیر منقول. مگر اینکه بمنظور اجرای وظایف اداری و فعالیتهای خود و یا برای اسکان کارکنان مربوط یا کمك به سایر نیازمندی های مشابه مطابق احکام این قانون صورت گرفته باشد.

(۲) د افغانستان بانك می‌تواند فعالیت های آتی را انجام دهد:

۱- اعطای قرضه یا اجازه داشتن سهم مالکیت یا اشتراك به سازمانی که در امور مربوط به وظایف و مکلفیت های د افغانستان بانك فعالیت می

لرل.
۲- د ټکټانې یا هغو حقوقو ترلاسه کول چې د دافغانستان بانک ته د ورکړې وړ پور په جریان کې وي، پدې شرط چې ټکټانې یا حقوق د پلورنې وړ وي او یا په بل ډول مصرفېدلای شي.
۳- د دافغانستان بانک د کارکوونکو، خپلو خپلوانو یا استازو د ګټې یا مصؤنیت لپاره د تقاعد د صندوق یا ورته مواردو تأسیسول او د ټاکلو شرایطو مطابق، د دغو لګښتونو ټول یا د یوې برخې ورکول.
۴- اړوندو کارکوونکو او د دوی د کورنیو غړو ته د کور (مسکن)، روغتیا او ښوونې او روزنې د برابرولو په منظور د پورونو د پروګرام رامنځته کول.

د احصائیوي اطلاعاتو راټولول

یو سلو اووه لسمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی د خپلو هدفونو او دندو د پرمخ بیولو په منظور د هېواد له واکمنو مقاماتو یا مستقیماً له اقتصادي استازو څخه لازم احصائیوي اطلاعات لاس ته راوړي او پدې نماید.
۲- حصول تکتانه یا حقوقی که در جریان قرضه، قابل پرداخت به د افغانستان بانك باشد مشروط بر اینکه تکتانه ها یا حقوق، قابل فروش بوده و یا بنحو دیگری مصرف شده بتواند.
۳- تأسیس صندوق تقاعد یا موارد مشابه برای منفعت یا مصؤنیت کارکنان د افغانستان بانك، وابستگان و یا نمایندگان آنها و پرداخت تمام و یا قسمتی از این مصارف طبق شرایط معینه.
۴- ایجاد پروګرام قرضه برای کارکنان مربوط بمنظور تهیهٔ مسکن، صحت و تعلیم و تربیه آنها و اعضای خانواده های شان.

جمع آوری اطلاعات احصائیوی

مادهٔ یکصد و هفدهم:

(۱) د افغانستان بانك مکلف است بمنظور پیش برد اهداف و وظایف خود اطلاعات احصائیوی لازم را از مراجع ذیصلاح کشور و یا مستقیماً از نمایندگان اقتصادی بدست آورده

برخه کې د نورو هېوادونو له واکمنو مراجعو یا نړیوالو سازمانونو سره همکاري وکړي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی د خپل تخصص په ساحو کې د احصائیوپه راټولولو، تدوین او خپرولو پورې د اړوندو لایحو او اسلوبونو په هم غاړې کولو او تنظیم کې برخه واخلي.

(۳) د دافغانستان بانک، د دافغانستان بانک لپاره احصائیوي اطلاعات، د برابرولو ډول، د دغو اطلاعاتو برابرونکي اشخاص او د برابرو شوو احصائیوي اطلاعاتو محرمانه سیستم، د مقرراتو مطابق ټاکي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي هغه بانکونه چې په هېواد کې فعالیت کوي، د کلنیو، ربعوارو رپوټونو یا په لنډ زماني واټن سره چې د پولي احصائیو، د عوایدو او لګښتونو، د صعب الحصولو پورونو او له پورونو څخه د راپیدا شوو زیانونو او تدارکاتو، د اسعارو د خالص بېلانس او ټکټاني د نرخ او د خپلو نورو فعالیتونو په برکې نیوونکي وي،

و در این زمینه با مراجع ذیصلاح سایر کشور ها یا سازمان های بین المللی همکاری نماید.

(۲) د افغانستان بانک مکلف است بمنظور هماهنگ نمودن و تنظیم لوائح و اسلوبهای مربوط به جمع آوری، تدوین و پخش احصائیه ها در ساحات تخصص خویش سهم بگیرد.

(۳) د افغانستان بانک اطلاعات احصائیوی، نحوۀ تهیه، اشخاص تهیه کنندۀ این اطلاعات و سیستم محرمانۀ اطلاعات احصائیوی تهیه شده برای دافغانستان بانک را طبق مقررات تعیین می‌نماید.

(۴) د افغانسان بانک می‌تواند بانکهای را که در کشور فعالیت می‌نماید مکلف به ارایۀ راپور های سالانه، ربع وار یا راپور های با فاصله زمانی کمتر که در بر گیرندۀ احصائیه های پولی، راپور عواید و مصارف، قرضه های صعب الحصول، خسارات ناشی از قرضه ها و تدارکات، بیلانس خالص اسعار و نرخ تکتانه و سایر راپور های

په وړاندې کولو مکلف کړي. د دافغانستان بانک مکلف دی، احصائیې له نړیوالو معیارونو او تګلارو سره په مطابقت کې تدوین کړي.

(۵) د دافغانستان بانک کولای شي غیر بانکي مالي مؤسسې او استازي یې چې په هېواد کې فعالیت کوي، په لنډو زماني واټنونو سره د کلنیو، ربعوارو یا احصائیوي رپوټونو په برابرولو او وړاندې کولو مکلف کړي.

(۶) د دافغانستان بانک مکلف دی له بانکو او نورو پولي ادارو څخه راټول شوي احصائیوي ارقام د سیاست ګذاری، د اړتیاوو مطابق د عامې خبرتیا او د نړیوالو ادارو په وړاندې د خپلو مسئولیتونو د سرته رسولو په منظور برابر او وړاندې کړي.

(۷) د دافغانستان بانک کولای شي د خپلو څارنیزو، سیاست ګذاری، او احصائیوي دندو او مسئولیتونو د پرمخ بیولو په منظور، بانکونه، استازي یې او نورې پولي ادارې د دوی د افرادو یا شرکتونو د خاصو معاملو په هکله د معلوماتو په

فعالیتهای خود، نماید. د افغانستان بانک مکلف است احصائیه ها را در مطابقت با معیارها و روش های بین المللی تدوین نماید.

(۵) د افغانستان بانک می‌تواند مؤسسات مالی غیربانکی و نمایندگان آنها را که در کشور فعالیت می‌نمایند، به تهیه و ارایهٔ راپور های سلانه، ربع وار یا راپور های احصائیوی با فواصل زمانی کمتر مکلف نماید.

(۶) د افغانستان بانک مکلف است ارقام احصائیوی جمع آوری شده از بانکها و دیگر ادارات پولی را مطابق نیاز های سیاست گذاری بمنظور آگاهی عامه و انجام مسئولیت هایش در قبال ادارات بین المللی تهیه و ترتیب نماید.

(۷) د افغانستان بانک می‌تواند بمنظور پیشبرد وظایف و مسئولیت های نظارتی، سیاست گذاری و احصائیوی خویش بانکها، نماینده گان و سایر ادارات پولی را به تهیه و ارایهٔ معلومات در مورد معاملات

برابرولـواو وړانـدې کولـو مکلـف کړي.

(۸) د دافغانستان بانک مکلف دی د احصائیوي معلوماتو له خپرولو د مخـه چـې د هغـو لـه املـه د اشخاصـو او تـشبثاتو سـوداګریز اړیکـي، عـامو خلکوتـه بربنـډ (افشاء) کړي، د هغو کتبي موافقه واخلي.

(۹) د دافغانسـتان بانـک کـولای شي څارونکـو او نـورو واکمنـو مراجعوتـه د دوی د رسـمي دنـدو د سـرته رسـولو لپـاره د افـرادو او خاصو شرکتونو د معاملو په هکله د بـانکي او پـولي ریکـاردونو د محرمیت په باب معلومات برابر کړي.

(۱۰) د دافغانـستان بانـک کـولای شـي د بـانکونو، پـولي ادارو او د دوی د استازو (اېجنټانو) او اداري پـرخلاف د هغـو لخـوا د نابـشپړو معلومـاتو د برابرولـو، پـه رپـوټ ورکونـه کـې د ځنډ، د نـه رپـوټ ورکـونې، د غیرمـؤثقې رپـوټ ورکـونې پـه صـورت کـې تعزیـرات وضع کړي.

(۱۱) هغـه شخص چې د دې مـادې خـاص افـراد یـا شـرکت هـای شـان مکلف نماید.

(۸) د افغـانـستان بانـك مکلـف است قـبل از انـتشار معلومات احصـائیوی کـه در اثـر آن روابـط تجـارتی اشـخاص و تـشبثات، بـه عامـه مـردم افـشاء مـی‌شـود موافقـۀ کتبـی آنهـا را اخـذ نماید.

(۹) د افغانـستان بانـك مـی‌توانـد راجـع بـه محرمیـت ریکـارد هـای بانکی و پولی برای نظارت کننده گان و سایر مراجع ذیصلاح جهت انجـام وظـایف رسـمی شـان، در مـورد معـاملات، افـراد و شـرکت هـای خـاص، معلومـات تهیـه نماید.

(۱۰) د افغانستان بانك مـی‌توانـد علیـه بانکهـا، ادارات پـولی و نمایندگان (ایجنت ها) و ادارۀ آنها در صـورت تهیـه معلومـات نـا مکـمل، تـأخیر در راپور دهـی، عـدم راپـوردهی، راپـور دهـی غیـر مـؤثق از طـرف آنهـا، تعزیـرات وضـع نماید.

(۱۱) شخـصی‌که به موجب حکم

د حکم په موجب، د دافغانستان بانک ته د احصائیوي معلوماتو په برابرولو مؤظف کېږي، د اړوندو مقرراتو د شرایطو مطابق د اطلاعاتو په برابرولو او وړاندې کولو مکلف دی، د احصائیوي اطلاعاتو له برابرولو څخه اهمال جرم ګڼل کېږي، مرتکب یې په حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي یا نقدي جریمه چې له دولسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا دواړو په جزاء محکومېږي.

مصئونیتونه

یوسلو اتلسمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک د عالي شورى غړي، د ټولو رئیس، مرستیال، د ټولو ناظر، کارکوونکی یا استازی او د تصفیې مدیر چې د دې قانون یا د بانکوالۍ د قانون د حکمونو مطابق مقرریږي، د دندې د اجراء په وخت کې له خپل عمل یا تېروتنې (اشتباه) څخه د راپیدا شوي زیان د جبران مسئول ندي، خو دا چې اعمال یې له ناوړه (سوء) نیت څخه راپیدا شوي وي.

(۲) د دافغانستان بانک د لاندې

این ماده مؤظف به تهیۀ معلومات احصائیوی به د افغانستان بانك می گردد، مکلف به تهیه و ارایۀ اطلاعات مطابق شرایط مقررات مربوط می‌باشد. اهمال از تهیۀ اطلاعات احصائیوی جرم شناخته شده مرتکب آن به حبسی که از شش ماه تجاوز نه نماید یا جریمۀ نقدی که از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد و یا هر دو محکوم به جزاء می گردد.

مصئونیتها

مادۀ یکصد و هجدهم:

(۱) اعضای شورای عالی، رئیس کل، معاون، ناظر کل، کارکن یا نمایندۀ د افغانستان بانك یا متولی و مدیر تصفیه که طبق احکام این قانون یا قانون بانکداری مقرر می‌گردند، مسئول جبران خسارۀ ناشی از عمل یا اشتباه شان حین اجرای وظیفه نمی‌باشند مگر اینکه اعمال شان ناشی از سوء نیت باشد.

(۲) د افغانستان بانك از پرداخت

مـالیاتو او محصـولاتو لـه ورکړې څخه معاف دی:
۱- پـر عایـداتو یـا ګټـو بانـدې مـالیات یا ګټې.
۲- پرشـتمنیو بانـدې د شخـصي املاکو مـالیات.
۳- د وجوهـو پـر انتـقال یـا نـورو مـالي معاملو باندې مـالیات.
۴- هغه مـالیات چې د صکوکو په ډول د بهـالرونکو سـندونو او بـانکنوټونو پـر صـادرولو وضـع کېږي.
۵- ګمرکـي محـصولات، وارداتـي محصولات، د خرڅلاو مـالیات، د سـرو زرو، بـانکنوټونو او سـکو پـر واردولـو بانـدې پـر اضـافه شـوي ارزښت مـالیات چې د افغانـستان بانک ته انتـقالېږي.
۶- د سـرو زرو، بـانکونو او سـکو پر کورنیـو زېرمـو باندې د خرڅلاو مـالیات.
(۳) د دافغـانـستان بانـک، پرمنقولو شتمنیو باندې د مـالیاتو د ورکړې په اړه، پـر نـورو وزارتونـو او ادارو بانـدې د نافـذو قوانینـو د حکمونو تابع دی.
(۴) د دافـغانـستان بانـک د نـورو مـالیاتو و محـصـولات ذیـل معاف می باشد:
۱- مـالـیات بـر عایدات یا منافع.
۲- مـالیـات املاك شخصی بر دارایی ها.
۳- مـالیات بـر انتـقال وجـوه یـا سایر معاملات مـالی.
۴- مـالیاتی کـه بـه شـکل صـکوك بـر صـدور اسـناد بهـادار و بانکنوتهـا وضـع مـی گردد.
۵- محـصولات گمرکـی، محـصولات وارداتـی، مـالیات فـروش، مـالیات بـر ارزش اضـافه شـده برتوریـد طـلا، بانکنوتهـا و سکه هایکه بـه دافغانستان بانك انتـقال داده می شوند.
۶- مـالیـات فـروش بـر ذخـایر داخـلی طـلا، بانکنوتها و سکه ها.
(۳) د افغانـستان بانـك در رابطـه به پرداخت مـالیات بر دارائی های منقـول تـابع احکـام قـوانین نافـذه بـالای سـایر وزارت هـا و ادارات می‌باشد.
(۴) د افغانـستان بانـك مکلف بـه

مالـیاتو او محصـولاتو په ورکړه مکلف دی، خـو دا چې قـانون بـل ډول حکم کړی وي.

د ورۀ اداري معیارونه
یوسلو نولسمه ماده:
(۱) د دافغانـستان بانـک مکلـف دی، سپارل شوي هدفونه، د قـانون د حکمونو مطابق لاس ته راوړي.
(۲) د دافغانـستان بانـک مکلـف دی، خپـل تـصمیمونه د قـانون د حکمونـو مطابق په بې پلوی سره ونیسي.
(۳) د دافغانـستان بانـک مکلـف دی، د محـدودیتونو د وضـع کولـو پـه وخـت کـې د فعالیـت پـه سـرته رسـولو او د خـدمتونو پـه برابرولـو کې د ګټو تناسب په پام کې ولري.

اماني حسابونه
یوسلو شلمه ماده:
د دافغانـستان بانـک کـولای شـي، دولـت یـا نـورو دولتـي ادارو یـا مؤسـسو تـه د ورکـړل شـوو بهرنیـو مبـالغو د اداري او سـاتنې پـه منظـور، د موافقـه لیـک د شـرایطو مطابق، په خپلو دفترونوکې امانې حـسابونه افتتـاح کـړي. پـه دغـو حسابونو کې ثبت شوې شـتمنۍ د پرداخـت سـایر مـالیات و محصولات می باشد، مگر اینکه قانون طور دیگر حکم نموده باشد.

معیار های ادارۀ شایسته
مادۀ یکصد و نزدهم:
(۱) د افغانـستان بانـک مکلـف اسـت، اهـداف محولـه را مطـابق احکام قانون بر آورده سازد.
(۲) د افغانـستان بانـک مکلـف اسـت، تـصامیم خـویش را مطـابق احکـام قـانون طـور بـی طرفانـه اتخاذ نماید.
(۳) د افغـانستان بانک مکلف است حین وضع محدودیت ها در انجـام فعـالیت و تهیـۀ خـدمت، تنـاسـب منافع را در نـظر داشته باشد.

حسابات امانی
مادۀ یکصد و بیستم:
د افغانـستان بانـک می‌توانـد بـه منظـور اداره و نگهـداری مبـالغ اعطاء شـدۀ خارجـی به دولت یـا سـایر ادارات و مؤسـسات دولتـی، مطـابق شـرایط مـوافقت نامـه حسابات امـانی را در دفـاتر خـود افتتـاح نمایـد. دارائـی هـای ثبـت شـدۀ ایـن

هغه د ثبت شوو بديهيو په وړاندې د ګټې اخيستنې وړ دي يا د موافقه ليک د شرايطو مطابق، پدې برخه کې اجراآت صورت مومي.
نوري شتمنۍ د بديهيو په وړاندې د ګټې اخيستنې وړ ندي.
د دافغانستان بانک کولای شي د دغو حسابونو د اداري په مقابل کې حق الزحمه واخلي.

د جواز او ثبت نه لرونکي اشخاص يوسلو يوويشتمه ماده:
(۱) د دافغانستان بانک کولای شي، د حسابونو، دفترونو او د ثبت د نورو ريکاردونو د پلټنې او څېړنې په منظور، د ارټيا په صورت کې جبراً د هغو اشخاصودفترونو ته ور ننوځي چې له جواز او ثبت پرته فعاليت کوي، پدې صورت کې اړوندې امنيتي مراجع مکلفې دي له د افغانستان بانک سره همکاري وکړي.
(۲) په هغه صورت کې چې شخص يا مؤسسه د جواز له لرلو او ثبت پرته فعاليت وکړي. د دافغانستان بانک د يوې اونۍ په موده کې د دغو فعاليتونو د درولو (توقف) په منظور هغو ته دستور ورکوي، د

حسابات به عوض بديهی های ثبت شده آن قابل استفاده بوده يا مطابق شرايط موافقتنامه در اين زمينه اجراآت صورت ميگيرد.
ساير دارائی ها به عوض بديهی ها قابل استفاده نمی باشد.
د افغانستان بانک می‌تواند در مقابل ادارۀ اين حساب ها حق الزحمه اخذ نمايد.

اشخاص فاقد جواز و ثبت
مادۀ يکصد و بيست و يکم:
(۱) د افغانستان بانك می‌تواند به منظور تفتيش و بازرسی حساب ها، دفاتر و ساير ريکارد های ثبت، در صورت ضرورت جبراً وارد دفاتر اشخاصی‌که بدون جواز و ثبت فعاليت می‌نمايند، گردد. در اين صورت مراجع امنيتی مربوط مکلف اند با د افغانستان بانك همکاری نمايند.
(۲) در صورتی‌که شخص يا مؤسسه بدون داشتن جواز و ثبت فعاليت نمايد، د افغانستان بانك بمنظور توقف اين فعاليت ها در طی يك هفته، برای وی دستور

سرغړونې په صورت کې د دافغانستان بانک موضوع د مالي شخړو د حل کمېسیون ته وړاندې کوي.

کمېسیون کولای شي، د دافغانستان بانک په واسطه د سرغړوونکي د شتمنیو، دفترونو او سندونو د ضبطولو امر صادر کړي، کمېسیون مکلف دی د یوې اونۍ په موده کې، د څېړنې په جلسه کې د ګډون په غرض، طرفینو ته بلنه ورکړي.

د څېړنې په پای کې کمېسیون کولای شي د بانکوالۍ د قانون مطابق، د شخص د شتمنیو د لیلام امر ورکړي یا ضبط لغوه کړي او د د افغانستان بانک د زیان په جبران مکلف کاندي.

د انحلال په صورت کې تر لاسه شوي عاېدات د کمېسیون د لګښتونو او د دافغانستان بانک د نورو لګښتونو د امانت اېښودونکو د ودیعو لپاره د ترجیح په ترتیب سره وېشل کېږي. نورې شتمنۍ خاوندانو ته مستردیږي یا ضبطېږي.

میدهد. در صورت تخلف دافغانستان بانک موضوع را به کمیسیون حل منازعات مالی محول می‌نماید.

کمیسیون می‌تواند امر ضبط دارائیها، دفاتر و اسناد متخلف توسط دافغانستان بانک، را صادر نماید. کمیسیون مکلف است طی مدت یک هفته از طرف های ذیربط، غرض اشتراک در جلسهٔ رسیدگی، دعوت بعمل آورد.

در ختم رسیدگی کمیسیون می‌تواند مطابق احکام قانون بانکداری امر به لیلام دارائیهای شخص داده و یا ضبط را لغو نموده و د افغانستان بانک را مکلف به جبران خساره نماید.

در صورت انحلال، عایدات حاصله جهت پرداخت مصارف کمیسیون و سایر مصارف د افغانستان بانک و دایع امانت گذاران به ترتیب ترجیح توزیع می‌گردد. سایر دارائی ها به مالکین مسترد یا ضبط می گردد.

سرغړونې

یوسلو دوه ویشتمه ماده:

لدې قانون څخه هر ډول سرغړونه چې جزاء یې په بل ډول سره مشخص شوې نه وي، د جزاء د قانون له پنځه سوه شلمي مادې سره په مطابقت کې د قباحت د جرم او د دغو مقرراتو د نه موجودیت په صورت کې، د جزاء د قانون له څلور سوه اتلسمې مادې څخه د سرغړونې په توګه ګڼل کېږي او د عدلي تعقیب وړ ده.

تخلفات

مادۀ یکصد و بیست و دوم:

هر تخلف ازین قانون که جزای آن بطور دیگری مشخص نگردیده باشد، در مطابقت با مادۀ پنجصد و بیستم قانون جزاء بحیث جرم قباحت و در صورت عدم موجودیت چنین مقررات بمثابه تخلف از مادۀ چهار صد و هفتاد و هشت قانون جزأ تلقی گردید، قابل تعقیب عدلی میباشد.

د مقرراتو وضع کول

یو سلو درویشتمه ماده:

د دافغانستان بانک کولای شي، د دې قانون د ښه تطبیق په منظور، مقررات وضع کړي.

وضع مقررات

مادۀ یکصد و بیست و سوم:

د افغانستان بانک می‌تواند بمنظور تطبیق بهتر احکام این قانون مقررات وضع نماید.

څوارلسم فصل
انتقالي حکمونه

فصل چهاردهم
احکام انتقالی

د قرار دادونو او معاملو مرعي الاجراء والي

یو سلو څلېریشتمه ماده:

قرارداد، خرڅلاو، برأت، سند یا بهالرونکی سند، معامله، موضوع یا هغه شی چې په پیسو پورې تړلی

مرعی الاجراء بودن قراردادها و معاملات

مادۀ یکصد و بیست و چهارم:

قرارداد، فروش، برات، حجت، سند یا سند بهادار، معامله، موضوع یا چیزی که

یا د پیسو په ورکړې یا د ورکړې په مکلفیت کې شامل وي، په هغه صورت کې چې د دې قانون له انفاذ څخه د مخه پیل یا یې تحقق مونډلی وي، مرعي الاجرأ ګڼل کېږي.

د سوداګریزې بانکوالۍ خدمتونه یو سلو پنځه ویشتمه ماده:

په هغه صورت کې چې د هېواد په نورو ځایونو کې سوداګریز بانکي خدمتونه ممکن نه وي، د دافغانستان بانک کولای شي دغه خدمتونه د دوو کلونو لپاره په خپلو دفترونو کې د سوداګریزو حسابونو د لرونکو لپاره چې په سودا ګریزه فعاله راکړه ورکړه باندې بوخت وي، وړاندې کړي. په هغه صورت کې چې بانک په یوه سیمه کې د سودا ګریزو بانکي خدمتونو په سرته رسولو قادر شي. د دافغانستان بانک کولای شي په لیکلې خبرتیا سره خپلو مشتریانو ته دغه خدمتونه پای ته ورسوي او حسابونه یې بند کړي. د سوداګریزو بانکي خدمتونو وړاندې کول یا نه وړاندې

مربوط به پول یا شامل پرداخت یا مکلفیت پرداخت به پول باشد، در صورتی‌که قبل از انفاذ این قانون شروع یا تحقق پذیرفته باشد، مرعی الاجراء پنداشته می شود.

خدمات بانکداری تجارتی

مادۀ یکصد و بیست و پنجم:

در صورتی‌که در سایر نقاط کشور خدمات بانکی تجارتی توسط بانکها ممکن نباشد، د افغانستان بانک می‌تواند این خدمات را برای مدت دو سال برای دارندگان حساب های تجارتی در دفاتر خود که مشغول داد و ستدهای تجارتی فعال می‌باشند، عرضه نماید.

در صورتی‌که بانک قادر به انجام خدمات بانکی تجارتی در یک منطقه گردد، د افغانستان بانک می تواند با اطلاع کتبی به مشتریان به عرضۀ این خدمات بانکی تجارتی خاتمه داده و حساب های آن را مسدود نماید.

کول، د دې مادې مطابق نشي کولای د دې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د دافغانستان بانک په واسطه د بشپړو شوو موافقه لیکونو پر اعتبار اغیزه ولري.

د څېړنې خپلواکه کمیته
یو سلو شپږویشتمه ماده:
د دې قانون د انفاذ له نېټې څخه وروسته د یوې میاشتې مودې په ترڅ کې له کورنیو، بهرنیو او نړیوالو متخصصینو څخه جوړ د څېړونکو، مرکزي بانکوالۍ د متخصصینو او عنداللزوم د نورو متخصصینو په ګډون یوه خپلواک کمیټه جوړېږي تر څو د دافغانستان بانک ټولې شتمنۍ او بدیهۍ د مشروطو شتمنیو او بدیهیو، په دولتي تصدیو کې د دافغانستان بانک د ونډو او په بهرنیو حسابونو کې د دافغانستان بانک د نقدو وجوهو او موجودو سرو زرو په شمول، د هغه شتمنۍ وټاکي او ویې ارزوي او یو بیلانس شیټ چې د حساب څېړنې له نړیوالو معیارونو سره په مطابقت کې د بهرنیو خپلواکو څېړونکو په

عرضه یا عدم عرضه خدمات بانکی تجارتی مطابق این ماده نمی‌تواند تأثیری بر اعتبار موافقتنامه های تکمیل شده توسط د افغانستان بانک جهت عرضهٔ این خدمات داشته باشد.

کمیتهٔ مستقل بررسی
مادهٔ یکصد و بیست و ششم:
در خلال مدت یکماه بعد از تاریخ انفاذ این قانون یك کمیته مستقل مرکب از متخصصین داخلی و بین المللی بشمول بررسها، متخصصین بانکداری مرکزی و عنداللزوم سایر متخصصین تشکیل می گردد تا تمام دارایی ها و بدیهی های د افغانستان بانك بشمول دارائی ها و بدیهی های مشروط، سهام د افغانستان بانك در تصدیهای دولتی و دارائی های د افغانستان بانك بشمول وجوه نقدی و طلای موجود در حسابات خارجی آن را تعیین و ارزیابی نماید و یك بیلانس شیت را که در مطابقت با معیار های بین المللی حساب رسی توسط بررسهای مستقل

واسطه څېړل شوې وي، تصویب کړي.
د هغه د جوړېدو له نېټې څخه د پنځو میاشتو په ترڅ کې کمیټې د دغو معلوماتو پر بنسټ په لاندې مواردو کې خپل وړاندېزونه وړاندې کوي:
۱- د دافغانستان بانک د مجازې پانګې میزان.
۲- د دافغانستان بانک زېرمه ایزو حسابونو ته د وجوهو د تخصیص میکانیزم.
۳- په دولتي تصدیو کې د دافغانستان بانک د ونډو د پلورلو یا خوشې کولو او د نورو غیرمرتبطو شتمنیو د پل و هلو (ردیابی) پروسه.
۴- له د افغانستان بانک څخه د تېرو حکومتونو پورونې.

تصدیو ته اسعاري حسابونه
یو سلو اووه ویشتمه ماده:
د دافغانستان بانک مکلف دی، د دې قانون له انفاذ وروسته د شپږو میاشتو مودې په ترڅ کې، په یو اړخیز ډول ټول هغه حسابونه چې د کورنیو تصدیو په استازیتوب یې په بهرنیو مالي مؤسسو کې افتتاح

بیرونی بررسی گردیده باشد، تصویب نماید.
در خلال پنج ماه از تاریخ تأسیس آن، کمیته به اساس این معلومات در موارد ذیل پیشنهادات خود را ارایه می‌نماید:
۱- میزان سرمایهٔ مجاز د افغانستان بانك.
۲- میکانیزم تخصیص وجوه به حسابهای ذخیره یی د افغانستان بانك.
۳- پروسهٔ به فروش رسانیدن یا رها کردن سهام د افغانستان بانك در تصدی های دولتی و ردیابی سایر دارایی های غیر مرتبط.
۴- مقروضیت های حکومات گذشته از د افغانستان بانك.

حسابهای اسعاری برای تصدیها
مادهٔ یکصد و بیست و هفتم:
د افغانستان بانك مکلف است در خلال مدت شش ماه بعد از انفاذ این قانون بصورت یك جانبه تمام حسابات را که به نمایندگی از تصدی های داخلی در مؤسسات

کړيدي او ساتل کېږي، بند او منحل کړي او پر دغو حسابونو باندې د تطبيق وړ ټول موافقه ليکونه فسخ او د دغو حسابونو د پاتو شتمنيو خالص ټول (مجموعي) مبلغ دولت ته را و ګرځوي، د دغو شتمنيو د خالص مجموع مبلغ محاسبه، له دغو حسابونو سره په رابطه کې له د افغانستان بانک څخه د دغو تصديو د بديهيو د مجموعي مبلغ له وضع کولو وروسته، په افغانيو باندې د دغو ټولو حسابونو د ټولې شتمنۍ له جمعې څخه عبارت ده.

د يوه حساب دشتمنيو د خالص مجموعي مبلغ د محاسبې لپاره فقط د يوه حساب د هماغې ورځې د مبادلې ورکړل شوی نرخ، د اعتبار وړ دی.

په هغه صورت کې چې د شتمنيو خالص مجموعي مبلغ منفي وي، دولت دغه مبلغ د دافغانستان بانک د خبرتيا له ترلاسه کولو وروسته، د شپږو مياشتو په ترڅ کې ورکوي.

مالی خارجی افتتاح نموده و نگهداری می شوند، مسدود و منحل ساخته و تمام موافقتنامه های قابل تطبیق بر این حسابها فسخ و مجموع خالص دارائی های باقیمانده این حسابها را به دولت باز گرداند، محاسبهٔ مبلغ مجموع خالص این دارائی ها عبارت از جمع کل دارائی های تمام این حسابها بعد از وضع نمودن مبلغ مجموع بدیهی های این تصدی ها در رابطه با این حسابها از د افغانستان بانک به افغانی می باشد. جهت محاسبه مبلغ مجموعی خالص دارائی های یک حساب فقط نرخ مبادلهٔ داده شدهٔ همان روز مدار اعتبار می‌باشد.

در صورتی که مبلغ مجموعی خالص دارائی ها منفی باشد، دولت این مبلغ را در خلال شش ماه پس از دریافت اطلاعیهٔ د افغانستان بانک پرداخت می‌نماید.

د جواز نوي کول

یوسلو اته ویشتمه ماده:

اشخاص مکلف دي د دغه قانون له انفاذ وروسته د شپږو میاشتو په موده کې د جواز د نوي کولو لپاره د دافغانستان بانک ته غوښتنلیک ورکړي.

د غوښتنلیک د ردېدو په صورت کې، پخوانی جواز لغوه ګڼل کېږي.

تجدید جواز

مادۀ یکصد و بیست و هشتم:

اشخاص مکلف اند بعد از انفاذ این قانون در ظرف شش ماه جهت تجدید جواز به دافغانستان بانک در خواست دهند.

در صورت رد درخواست جواز قبلی لغو می گردد.

د مالیې دوزیر په واسطه د عالي شوری د یوه غړي معرفي کول

یو سلو نهه ویشتمه ماده:

د دې قانون له انفاذ وروسته، د دریو لومړیوکلونوپه بهیرکې، د دافغانستان بانک د عالي شوری له غړو څخه د یوه تن مقرربدل (د ټولو د رئیس او لومړي مرستیال پرته) د مالیې د وزیر په وړاندیز صورت مومي.

معرفی یک عضو شورای عالی توسط وزیر مالیه

مادۀ یکصد و بیست و نهم:

در جریان سه سال اول بعد از انفاذ این قانون تقرر یکی از اعضای شورای عالی د افغانستان بانک (به استثنای رئیس کل و معاون اول). به اساس پیشنهاد وزیر مالیه، صورت می گیرد.

د تابعیت د اصل تعلیق

یو سلو دېرشمه ماده:

د دې قانون له انفاذ وروسته، د دوو کلونو په ترڅ کې، په عالي شوری او عامل هیئت کې د غړیتوب په منظور، د افغانستان د تابعیت د درلودلو اړتیا د تعلیق په

تعلیق اصل تابعیت

مادۀ یکصد و سی ام:

در خلال دو سال اول بعد از انفاذ این قانون، ضرورت داشتن تابعیت افغانستان بمنظور عضویت در شورای عالی و هیئت عامل بحالت تعلیق

حالت کې راځي.

په سیاسي فعالیتونو پورې د اړوندو موادو دنفاذ ځنډېدل

یوسلو یودېرشمه ماده:

د سیاسي فعالیتونو په اړه د څلورمې مادې د (۵) فقرې او د دوولسمې مادې د (۱) فقرې د (۸) جزء حکمونه، د هغې اداري له لومړۍ ورځې څخه چې د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت پرځای کښېنې، نافذ ېږي.

د احتیاطي مقرراتو تدریجي تطبیق

یو سلو دوه دېرشمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی هغه احتیاطي تدبیرونه چې د دې قانون او د بانکوالۍ د قانون په موجب اړین ګڼل کېږي، مقررات وضع او هغه د دې قانون له نافذېدو وروسته د دریو کلونو په موده کې تدریجاً تطبیق کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک د خپلو څارنیزو دندو په سرته رسولو قادر نه وي، کولای شي د بهرنیو اسعارو صرافان، د ورکړې د سیستم مجریان، د پولي او بهالرونکو قرار می گیرد.

تأخیر نفاذ مواد متعلق به فعالیتهای سیاسی

مادۀ یکصد و سی و یکم:

احکام فقرۀ (۵) مادۀ چهارم و جزء (۸) فقرۀ (۱) مادۀ دوازدهم در رابطه به فعالیتهای سیاسی در اولین روز اداره ایکه جانشین دولت انتقالی اسلامی افغانستان می‌گردد، نافذ می‌گردد.

تطبیق تدریجی مقررات احتیاطی

مادۀ یکصد و سی و دوم:

(۱) د افغانستان بانک مکلف است تدابیر احتیاطی که به موجب این قانون و قانون بانکداری ضروری پنداشته میشود، مقررات وضع و آنرا طی مدت سه سال بعد از انفاذ این قانون تدریجاً تطبیق نماید.

(۲) در صورتی‌که د افغانستان بانک قادر به انجام وظایف نظارتی خود نباشد، می‌تواند صرافان اسعار، مجریان سیستم پرداخت، تهیه کننده گان خدمات پولی

سندونو د خدمتونو برابروونکي او نور هغه اشخاص چې د دې قانون او د دافغانستان بانک د بانکوالۍ د قانون په موجب پر هغو باندې د څارنې واک (صلاحیت) لري، د دې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه معاف کړي.

د عالي شوری د غړو د تقرر په هکله حکم

یوسلو دري دېرشمه ماده:

د ملي شوری دنه موجودیت په صورت کې، د دافغانستان بانک د عالي شوري غړي، د افغانستان د جمهور رئیس لخوا مقرر ېږي.

انفاذ

یو سلوڅلور دېرشمه ماده:

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په خپرېدو سره یې، د ۱۳۷۷/۸/۱۶ نېټې په (۷۷۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د پیسو او بانکوالۍ قانون او نور اړوند تقنیني سندونه او مغایر حکمونه لغوه ګڼل کېږي.

و اسناد بهادار و سایر اشخاصی‌که به موجب این قانون و قانون بانکداری د افغانستان بانك صلاحیت نظارت بر آنها را دارد، از حکم فقرۀ (۱) این ماده معاف نماید.

حکم در مورد تقرر اعضای شورای عالی

مادۀ یکصد و سی و سوم:

در صورت عدم موجودیت شورای ملی، اعضای شورای عالی دافغانستان بانك توسط رئیس جمهور افغانستان مقرر می شوند.

انفاذ

مادۀ یکصد و سی وچهارم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن قانون پول و بانکداری منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۷۰) مؤرخ ۱۳۷۷/۸/۱۶ و سایر اسناد تقنینی مربوط و احکام مغایر ملغی پنداشته می‌شود.

قانون بانکداری

د افغانستان د بانکداری د قانون د انفاذ په هکله، د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان

ګڼه: (۶۳)
نېټه: ۱۳۸۲/۶/۲۷

د ننني عصر له مقتضیاتو سره د بانکي قوانینو د هماهنګ کولو په خاطر او د بشپړې ډاډمنې او مصؤنې فضاء د رامنځته کولو، په بانکي سیستم کې د کورنیو او بهرنیو او نورو نړیوالو مراجعو د خصوصي پانګې اچونې د اعتماد د جلبولو او لازیاتې هڅونې، په اقتصادي ژوندانه کې د هغوی د کارنده برخې اخیستنې او خصوصي برخې ته د دولت د پام اړونې په منظور، د افغانستان د بانکداری قانون، د لوی خدای (ج) په نامه توشیح کوم. دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

فرمان
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در مورد انفاذ قانون بانکداری افغانستان

شماره: (۶۳)
تاریخ: ۱۳۸۲/۶/۲۷

بخاطر هماهنگ ساختن قوانین بانکی با مقتضیات عصر حاضر و به منظور ایجاد فضای کاملاً مطمئن و مصؤن و جلب اعتماد و تشویق هر چه بیشتر سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی و سایر مراجع بین المللی در سیستم بانکی و سهم گیری فعال شان در حیات اقتصادی و عطف توجه دولت به بخش خصوصی، قانون بانکداری افغانستان را بنام خدای توانا توشیح می‌نمایم. این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د بانکداری قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

اصطلاحګاني

لومړی ماده:

لاندې اصطلاحګاني په دې قانون کې لاندینۍ معناوې لري:

۱- مدیر: هغه شخص دي چې د بانک د نظار هیئت، عامل هیئت یا د څېړنې (بررسي) د کمېسیون غړی وي او یا د هغه د مدیریت په بست کې دنده ترسره کړي.

۲- بانک: هغه حکمي شخصیت دی چې د اعتباراتو د جوړونې یا د پانګې اچونې په منظور، خپل حساب ته له ټولو څخه په راکړې ورکړې او د پولي سپارنو یا د ورکړې وړ نورو وجوهو په ترلاسه کولو مشغول وي.

۳- بانکي مور (مادر) شرکت: هغه شرکت دی چې د یوه هېواد د بانکونو د تنظیمونکي لخوا چې مقر یې هلته واقع دی، تنظیمېږي او د هغه یو یا له یوه څخه زیات تابع شرکت د بانکي جواز لرونکی وي.

قانون بانکداری
فصل اول
احکام عمومی

اصطلاحات

مادۀ اول:

اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را دارا می‌باشد:

۱- مدیر: شخصی است که عضو هیئت نظار، هیئت عامل یا کمیتۀ بررسی بانک بوده و یا در بست مدیریت آن ایفای وظیفه می نماید.

۲- بانک: شخصیت حکمی است که به منظور ایجاد اعتبارات یا سرمایه گذاری مشغول دادوستد و دریافت سپرده های پولی یا سایر وجوه قابل باز پرداخت از عموم، برای حساب خود باشد.

۳- شرکت بانکی مادر: شرکتی است که توسط تنظیم کنندۀ بانکهای کشوریکه مقرش در آن واقع است، تنظیم می‌شود و یک یا بیشتر از یک شرکت تابع آن دارای جواز بانکی باشد.

۴- د بانکداری جواز: هغه اجازه لیک دی چې له ټولو خلکو څخه د اماناتو او سپارنو یا د ورکړې وړ نورو وجوهو د ترلاسه کولو په کسب باندې د بوختېدو، د اعتبار د ورکولو او پانګې اچونې لپاره د د افغانستان بانک لخوا یوه شرکت ته صادرېږي.

۵- بانکي فعالیتونه: هغه فعالیتونه چې د دې قانون په دري دېرشمه ماده کې درج شوي دي.

۶- فرع یا د فرعي دفتر: د راکړې ورکړې هغه ځای دی چې د قانون مطابق په بانک پورې اړه لري او په هغه کې د بانکداری ټولې یا یوه برخه چارې ترسره کېږي. په دې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق د غیر مېشت بانک ټول داخلي فروع دفترونه، د واحدې نمایندګۍ د دفتر په توګه ګڼل کېږي. د نمایندګۍ له هغه دفترسره د دافغانستان بانک مراسلات او مکاتبات چې د غیر مېشت بانک لخوا هغه ته ورپېژندل کېږي او یا د نه ورپېژندنې په صورت کې، د هغه نماینده ګۍ له دفترسره چې د د افغانستان بانک

۴- جواز بانکداری: اجازه نامه ایست که جهت اشتغال به پیشهٔ دریافت امانات و سپرده ها یا سایر وجوه قابل بازپرداخت از عموم مردم، اعطای اعتبار و سرمایه گذاری ها توسط د افغانستان بانك به یك شرکت صادر می‌شود.

۵- فعالیت های بانکی: فعالیت هایی است که در مادهٔ سی و سوم این قانون درج گردیده است.

۶- فرع یا دفتر فرعی: محل داد و ستد است که طبق قانون متعلق به بانك بوده و کلیه یا برخی امور بانکداری در آن انجام می‌شود. طبق احکام مندرج این قانون تمام دفاتر فروع داخلی بانك غیر مقیم بحیث دفتر نمایندگی واحد پنداشته می‌شود. مراسلات و مکاتبات د افغانستان بانك با دفتر نمایندگی ایکه بانك غیر مقیم معرفی می کند و یا در صورت عدم معرفی، با دفتر نمایندگی ایکه خود دافغانستان بانك لازم می‌داند، صورت

يې لاړم وګڼي صورت موندلی شي.

۷- اعتبار: د يوه مبلغ هر ډول ورکړه يا د ورکړې ژمنه ده چې د ټکټانې له ورکولو سره د ورکړل شوي مبلغ د بېرته ورکړې د حق، د نورو تضمين شويو يا ناتضمين شويو لګښتونو، د پور هر ډول تمديد، هرډول صادر شوي تضمين او د پور د بها لرونکو سندونو د پېرودلو او يا د مبلغ د ورکړې د ژمنې د نورو ډولونو په عوض چې په مستقيمه توګه يا د ټکټانې د تخفيفي پېرودنې د يوې بيې په واسطه ورکول شوی وي.

۸- د پور بها لرونکي سندونه: د معاملې وړ د پور سند، د هغه معادل سند او د معاملې وړ سند دی چې د ګډون يا تبادلې د ژمنې له لارې د معاملې وړ د پور د بل بها لرونکي سند د حصول حق ورکړي. د پور بها لرونکي سندونه د دفتر په ثبت شوي سند کې شامل دی.

۹- سپارنه: د يوه مبلغ پيسو تحويلول دي چې د بانک د دفترونو د جاري يا سپما په يوه حساب کې شاملېږي. دغه تحويلي د يو ټرون

گيرد.

۷- اعتبار: هر نوع پرداخت يا تعهد به پرداخت يك مبلغی است كه به عوض حق باز پرداخت مبلغ اعطا شده با پرداخت تكتانه، ساير مصارف تضمين شده يا تضمين ناشده، هر نوع تمديد قرضه، هر نوع تضمين صادر شده و خريد اسناد بهادار قرضه يا ساير اشكال تعهد پرداخت مبلغ كه بطور مستقيم يا توسط يك قيمت خريد تخفيفی تكتانه پرداخته شده است، می‌باشد.

۸- اسناد بهادار قرضه: سند قرضۀ قابل معامله، سند معادل آن و سند قابل معامله است كه حق حصول سند بهادار قرضۀ قابل معاملۀ ديگر از طريق تعهد اشتراك يا تبادله را بدهد. اسناد بهادار قرضه شامل سند ثبت شده در دفتر می‌باشد.

۹- سپرده: تحويلی مبلغ پول است كه در يك حساب جاری يا پس انداز در دفاتر بانك نگهداری می‌شود. اين تحويلی بر

پر بنسټ چې د سپارونکي یا د هغه د استازي او بانک ترمنځ، بل حساب ته د ېږته ورکړې، لېږدونې په هکله له ټکټانې یا له هغې پرته یا جائزې سره د سمدستي او میعادي غوښتنلیک په وسیله صورت مومي.

۱۰- داخلي: هغه حکمي شخص دی چې مرکزي دفتر یا د راکړې ورکړې اصلي ځای ئې په افغانستان کې واقع وي.

۱۱- غیر فعال حساب: هغه مفهوم دی چې د دې قانون د شپږ دېرشمې مادې په (۵) فقره کې درج دی.

۱۲- وړ او مناسب شخص: هغه امین او د باور وړ شخص دی چې حرفوي واکونه، کاري سابقه، مالي موقعیت یا بوختیا یې د د افغانستان بانک لخوا د بانک له مالکیت، اداري یا تولیت څخه نه وي سلب شوی. هغه شخص چې د جرم د ارتکاب له امله د واکمنې محکمې لخوا په حبس محکوم شوی وي، مناسب او وړ شخص نه ګڼل کېږي، خو دا چې محکومیت ئې د سیاسي یا اساس توافق بین سپرده گذار یا نماینده وی و بانک مبنی بر باز پرداخت، انتقال به یک حساب دیگر، با تکتانه یا بدون آن یا جایزه، بالوسیله درخواست آنی و میعادی صورت می گیرد.

۱۰- داخلی: شخص حکمی است که دفتر مرکزی یا محل اصلی داد و ستد آن در افغانستان واقع می‌باشد.

۱۱- حساب غیر فعال: مفهومی است که در فقرۀ (۵) ماده سی و ششم این قانون درج می باشد.

۱۲- شخص شایسته و مناسب: شخص امین و قابل اعتماد است که صلاحیت های حرفوی، سابقه کاری، موقعیت مالی یا مشغولیت وی از طرف د افغانستان بانک از مالکیت، اداره یا تولیت بانک سلب صلاحیت نگردیده باشد. شخصی که به اثر ارتکاب جرم توسط محکمۀ ذیصلاح به حبس محکوم گردیده باشد، شخص مناسب و شایسته شناخته نمی شود، مگر اینکه محکومیت وی

مذهبي فعاليتونو په اړه وي، يا د واکمنې محکمې لخوا ورشکسته اعلان شوی وي او يا د شخصي ناوړه چلند له امله د واکمن مقام له لوري د يوه کسب (حرفې) له ترسره کولو څخه بې واکه شوی وي او يا ئې واک د تعليق په حالت کې راوستل شوی وي.

مبنی بر فعالیت های سیاسی یا مذهبی باشد یا از طرف محکمهٔ ذیصلاح ورشکسته اعلان شده و یا به علت بدرفتاری شخصی، از طرف مرجع ذیصلاح از انجام یك حرفه سلب صلاحیت گردیده و یا صلاحیت وی به حالت تعلیق در آورده شده باشد.

۱۳- د افغانستان بانک: هغه مفهوم دی چې د د افغانستان بانک د قانون په لومړۍ ماده کې درج دی.

۱۳- د افغانستان بانك: مفهومی است که در مادهٔ اول قانون د افغانستان بانك درج می‌باشد.

۱۴- د مالي شخړو د حل او فصل کمېسيون: هغه کمېسيون دی چې د دې قانون په اته شپېتمه ماده کې درج دی.

۱۴ - کمیسیون حل و فصل منازعات مالی: کمیسیونی است که در مادهٔ شصت و هشتم این قانون درج می‌باشد.

۱۵- غير مېشت: د دې مادې په (۱۰) جزء کې درج شوي له حکمي شخصيت څخه د پرته په مفهوم دی.

۱۵ - غیر مقیم: شخصیت حکمی به غیر از مفهوم مندرج جزء (۱۰) این ماده می‌باشد.

۱۶- شخص: له حقيقي يا حکمي شخص څخه عبارت دی.

۱۶ - شخص: عبارت از شخص حقیقی یا حکمی است.

۱۷- واکمنه استحقاقي ونډه: په يوه تشبث کې مستقيمه يا غير مستقيمه ونډه ده چې لرونکې ئې په سلو کې د لس يا له هغې څخه د

۱۷ - سهم ا ستحقاقی ذیصلاحیت: سهم مستقیم یا غیر مستقیم در یك تشبث است که دارندهٔ آن مستحق ده

زیاتې پانګې یا د رائې ورکولو د حق یا د یوه تشبث په اداره کې چې نوموړې وندې په هغې کې واقع دي د پام وړ نفوذ د اعمالولو د امکان مستحق وي.

۱۸- د نمایندګۍ دفتر: په بانک پورې تړلی د راکړې ورکړې ځای دی چې په هغه کې پولي سپارنې یا د بېرته ورکړې وړ وجوه له ټولو خلکو څخه ترلاسه کېدلی نه شي.

۱۹- تابع شرکت: هغه حکمي شخصیت دي چې یو شخص یا د اشخاصو یوه ډله په ډله اېزه توګه په هغه کې په سلو کې د پنځوسو معادل یا له هغه څخه زیات د رأیو د حق لرونکو وندو یا د واکمنو وندو لرونکي وي او د شرکت په اداره او دسیاستونو او پروګرامونو په اجراء کولو کې ئې اغېزمن نفوذ او کنترول ولري.

ممنوعه فعالیتونه

دوه یمه ماده:

(۱) هېڅ شخص نه شي کولای له دافغانستان بانک څخه د بانکداری د جواز له ترلاسه کولو پرته، په هېواد کې د اعتبار د رامنځته کولو یا پانګې اچونې په فیصد یا بیشتر از سرمایه یا حق رأی یا امکان اعمال نفوذ قابل توجه در ادارهٔ یك تشبث که سهام مذکور در آن واقع است، می‌باشد.

۱۸ – دفتر نمایندگی: محل داد و ستد وابسته به بانك است که در آن سپرده های پولی یا وجوه قابل باز پرداخت از عموم مردم دریافت شده نمی تواند.

۱۹ – شرکت تابع: شخصیت حکمی است که یك شخص یا گروه از اشخاص بطور دسته جمعی در آن دارای معادل پنجاه در صد یا بیشتر سهام واجد حق رای یا سهام استحقاق ذیصلاحیت بوده، نفوذ و کنترول مؤثری در اداره و اجرای سیاست ها و برنامه های شرکت داشته باشند.

فعالیت های ممنوعه

مادهٔ دوم:

(۱) هیچ شخص نمی تواند بدون حصول جواز بانکداری از د افغانستان بانك به فعالیت های دریافت سپرده های پولی یا سایر وجوه قابل باز

منظور له عمومو څخه د پولي سپارنو یا د بېرته ورکړې وړ نورو وجوهو د ترلاسه کولو په فعالیتونو لاس پورې کړي.

لاندې اشخاص له دې حکم څخه مستثنی دي:

۱- هغه شخص چې د دې قانون له نافذېدو د مخه یې د تقنیني سندونو مطابق په افغانستان کې د اعتبار د رامنځته کولو یا پانګې اچونې په منظور د سپارنو یا د بېرته ورکړې وړ نورو وجوهو د ترلاسه کولو لپاره ئې د فعالیت جواز ترلاسه کړی دی.

۲- هغه شخص چې د اعتباراتو د تمویل پیسې په بېرته د ورکړې نه وړ پانګه کې د ونډې یز ګډون د ژمنې، د مالي مؤسسو د اعتبار له ماحصل یا د پانګې په بازارونو کې د صادرو شوو بهاو لرونکو سندونو له لارې ترلاسه کوي.

۳- هغه شخص چې د تشبث د ماهیت او اندازې یا د هغه د منابعو (سرچینو) په علت، د د افغانستان بانک لخوا د دې قانون له حکمونو څخه معاف شوی وي.

دغه معافیتونه کېدلی شي

پرداخت از عموم، به منظور ایجاد اعتبار یا سرمایه گذاری در کشور اقدام نماید.

اشخاص ذیل از این حکم مستثنی می‌باشند:

۱ - شخصی‌که مطابق احکام اسناد تقنینی قبل از انفاذ این قانون برای دریافت سپرده ها یا سایر وجوه قابل باز پرداخت از عموم به منظور ایجاد اعتبار یا سرمایه گذاری در افغانستان جواز فعالیت دریافت کرده است.

۲ - شخصی‌که پول تمویل اعتبارات را از طریق تعهداشتراک سهامی در سرمایه غیر قابل باز پرداخت، ماحصل اعتبار از مؤسسات مالی یا اسناد بهادار قرضهٔ صادر شده در بازار های سرمایه، بدست می آورد.

۳ - شخصی‌که به علت ماهیت و اندازهٔ تشبث یا سرچشمه منابع وی توسط دافغانستان بانک از احکام این قانون معاف شده باشد.

این معافیت ها می‌تواند مشروط

مشروط یا د وخت له نظره محدود یا قسمي وي او د دې قانون ځینې برخې چې په نومورې شخص باندې د اطلاق ورې وي، مشخصې او فهرست کېږي.

(۲) هېڅ شخص نه شي کولای د بانکداری له جواز پرته د بانک د کلیمې یا د هغې له مشتقاتو څخه د راکړې ورکړې، محصول یا خدمت په اړه ګټه واخلي، خو دا چې له هغې څخه ګټه اخیستل قانون یا بین المللي موافقه لیک په رسمیت پېژندلي وي، یا هغه موارد چې پکې د (بانک) کلمه په کار ورړل شوې وي، په بانکي فعالیتونو پورې اړه ونه لري. د نمایندګۍ دفتر نه شي کولای د بانک له کلیمې څخه په خپل عنوان کې استفاده وکړي، خو دا چې د (بانک) کلیمه د هغه بانک د قانوني نوم یو جزء وي چې د نمایندګۍ دفتر په هغه پورې مربوط دی.

هغه بانک چې د بانکداری جواز ئې لغوه شوی وي، مکلف دی چې په خپل عنوان کې د (انحلال په حال کې بانک) عبارت په کار یوسي.

(۳) ددافغانستان بانک کولای شي

یا از نظر زمانی محدود یا قسمی باشند و برخی از احکام این قانون را که به شخص مذکور قابل اطلاق باشد، مشخص و فهرست می گردد.

(۲) هیچ شخص نمیتواند بدون جواز بانکداری از کلمه بانک یا مشتقات آن در رابطه به داد و ستد، محصول یا خدمت استفاده نماید، مگر اینکه استفادۀ آنرا قانون یا موافقتنامۀ بین المللی به رسمیت شناخته باشد یا مواردی که کلمۀ (بانک) در آن بکار رفته، مربوط به فعالیت های بانکی نباشد. دفتر نمایندگی نمی تواند از کلمۀ بانک در عنوان خود استفاده نماید، مگر اینکه کلمۀ (بانک) یک جزء از نام قانونی بانکی باشد که دفتر نمایندگی به آن مربوط است.

بانکی که جواز بانکداری آن لغو شده، مکلف است عبارت (بانک در حال انحلال) را در عنوان خود بکار ببرد.

(۳) د افغانستان بانک می‌تواند

د نظر وړ اشخاصو د سندونو او ثبت دفترونه وپلټي، د تعلل او سرغړونې په صورت کې، مسئول امنیتي مراجع مکلف دي، د غوښتنې په وخت کې له زور څخه په کار اخیستنې سره له د افغانستان بانک سره په دې اړه مرسته وکړي.

(۴) په هغه صورت کې چې شخص د دې مادې له حکمونو څخه مغاير فعاليتونه ترسره کړي، د د افغانستان بانک کولای شي په دې هکله په لاندې توګه چلند وکړي:

۱- د فعاليتونو د سملاسي بندېدو په هکله هدايت صادر کړي. په هغه صورت کې چې شخص د يوې مياشتې په موده کې خپل فعاليتونه بند نه کړي، د دافغانستان بانک موضوع د شخړې د حل کمېسيون ته وړاندې کوي. کمېسيون د د افغانستان بانک لخوا د شتمنيو، دفترونو او سندونو د ضبط او ساتنې په هکله تصميم نيسي او د موضوع د څېړنې په هکله د يوې اوونۍ په ترڅ کې اقدام کوي او د څېړنې په غونډه کې د نظر وړ شخص او نورو دفاتر اسناد و ثبت های اشخاص مورد نظر را تفتیش و باز رسی نماید، در صورت تعلل و تمرد، مراجع مسئول امنیتی مکلف اند حین تقاضا با توسل به زور د افغانستان بانک را درین رابطه همکاری نمایند.

(۴) در صورتی که شخص مغایر احکام مندرج این ماده فعالیت هایی را انجام دهد، د افغانستان بانک می تواند در مورد ذیلاً برخورد نماید:

۱- هدایت مبنی بر قطع فوری فعالیت ها را صادر نماید. در صورتی که شخص در مدت یک هفته فعالیت های خویش را قطع ننماید، د افغانستان بانک موضوع را به کمیسیون خدمات مالی محول می نماید. کمیسیون در مورد ضبط و نگهداری دارائی ها، دفاتر و اسناد توسط د افغانستان بانک تصمیم اتخاذ می نماید و در مورد رسیدگی موضوع طی مدت یک هفته اقدام نموده و در جلسهٔ رسیدگی، از شخص مورد نظر وسایر

علاقه لرونکو اشخاصو ته بلنه ورکوي او د دې قانون د دري شپېتمې مادې له حکم سره سم د شخصیت د انحلال یا د شتمنیو، دفترونو او سندونو د ضبط او ساتنې د لیرې (رفع) کولو امر صادروي.

۲- کمېسیون کولای شي د شتمنیو، دفترونو او سندونو د ضبط او ساتنې د امر د رفع کولو په صورت کې، د دافغانستان بانک ته د اووښتي زیان د جبران د څرنګوالي په اړه دستور صادر کړي.

۳- د انحلال په صورت کې، د انحلال عایدات د قضائي مخارجو او د دافغانستان بانک د نورو لګښتونو، د امانت اېښودونکو او د مربوطې مؤسسې یا نورو شخصي دائنینو د سپارنو لپاره د ترجیح په ترتیب سره وېشل کېږي. پاتې شتمنی د هغو مالکینوته لېږدول کېږي یا په دولت پورې اړه نیسي.

اشخاص ذیعلاقه دعوت بعمل آورده و طبق حکم مادۀ شصت و سوم این قانون امر ضبط یا رفع ضبط و نگهداری دارائی ها، دفاتر و اسناد را صادر می نماید.

۲ – کمیسیون می تواند در صورت رفع امر ضبط و نگهداری دارائی ها، دفاتر وسایر اسناد، در مورد چگونگی جبران خسارات وارده به د افغانستان بانک دستور صادر نماید.

۳ – در صورت انحلال، عایدات انحلال جهت پرداخت مخارج قضائی و سایر مصارفات د افغانستان بانک، سپرده های امانت گذاران وسایر داینین شخصی و یا مؤسسۀ مربوط، به ترتیب ترجیح، توزیع می‌گردد. دارائی های باقی مانده حسب احوال به مالکین آن منتقل شده و یا به دولت تعلق می‌گیرد.

د بانکداری د مقرراتو وضع کول

درېیمه ماده:

(۱) د د افغانستان بانک کولی شي د دې قانون د حکمونو مطابق مقررات وضع کړي. د کورنۍ بانکداری صنعت ته د پام د راګرځولو په منظور د مقرراتو طرح د هغو د اهدافو له شرحې سره یو ځای خپروي او له خبرتیا سره یو ځای یې د نظریو او وړاندیزونو د راټولولو لپاره اړوندو مراجعو ته لېږي.

د مقراتو د مسودې په اړه نظریې او وړاندیزونه، د تاکلې مودې په ترڅ کې چې د مسودې خپرولو له نېټې څخه وروسته له یوې میاشتې څخه لږه نه وي، د د افغانستان بانک ته وړاندې کېږي.

(۲) د د افغانستان بانک، د مقرراتو د وروستني متن په برابرولو کې هغه نظریې چې د دې مادې د (۱) فقرې په اساس یې لاس ته راوړي دي، په نظر کې نیسي، د مقرراتو د تصویب په صورت کې، د د افغانستان بانک مکلف دی د پورتنیو نظریو په اړه خپل ځواب خپور کړي.

وضع مقررات بانکداری

مادۀ سوم:

(۱) د افغانستان بانک می‌تواند طبق احکام این قانون، مقررات وضع نماید. به منظور عطف توجه به صنعت بانکداری داخلی، طرح مسودۀ مقررات با شرح اهداف آنرا نشر نموده و ضمن اطلاعیه جهت جمع آوری نظریات و پیشنهادات به مراجع ذیربط ارسال می‌دارد.

نظریات و پیشنهادات در مورد مسودۀ مقررات در مدت معین که کمتر از یکماه بعد از نشر مسوده نمی‌باشد، به د افغانستان بانک ارائه می‌گردد.

(۲) د افغانستان بانک در تهیۀ متن نهائی مقررات، نظریاتی را که بر اساس فقرۀ (۱) این ماده بدست آورده، در نظر می‌گیرد، در صورت تصویب مقررات، دافغانستان بانک مکلف است پاسخ خود را در مورد نظریات فوق منتشر سازد.

که چېرې د مقرري وروستني متن له ړومبني متن څخه چې د دې مادې د (۱) فقرې مطابق يې خپور کړی دی، د کتنې وړ تفاوت ولري، د دې تفاوت عمده ټکي هم د د افغانستان بانک لخوا خپرېږي.

(۳) په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک يې تشخيص کړي چې د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې د درج شوو حکمونو په تطبيق کې تأخير د بانکي سيستم ګټو ته ټينګ (جدي) تهديد ګڼل کېږي، د نومورو فقرو مفاد په وړاندیز شوو مقرراتو باندې د اطلاق وړ ندي. د مقررې په سريزه کې د دغه ډول تصميم په هکله توضيح ورکول کېږي.

د داخلي بانکداری په فعاليتونو کې د بهرنيو ګټو په هکله کړنلاره څلورمه ماده:

(۱) د د افغانستان بانک واک لري غيرو مېشتو بانکونو او بانکي مور شرکتونو ته اجازه ورکړي تر څو هغو بانکونو ته چې له د افغانستان بانک څخه يې جواز اخيستی، دی واک لرونکې استحقاق ونه ګڼي او د داخلي تابع اگر متن نهائی مقرره از پیش نویس که مطابق فقرۀ (۱) این ماده منتشر نموده، تفاوت قابل ملاحظه داشته باشد، نکات کلی این تفاوت نیز از طرف د افغانستان بانک منتشر می گردد.

(۳) در صورتی که د افغانستان بانک تشخیص نماید که تأخیر در تطبیق احکام مندرج فقره های (۱) و (۲) این ماده تهدید جدی به منافع سیستم بانکی پنداشته می‌شود، مفاد فقره های متذکره بالای مقررات پیشنهادی قابل اطلاق نمی‌باشد. در مقدمۀ مقرره در مورد چنین تصمیمی توضیح داده می‌شود.

طرزالعمل در مورد منافع خارجی در فعالیت های بانکداری داخلی

مادۀ چهارم:

(۱) د افغانستان بانک صلاحیت دارد به بانکها و شرکت های بانکی مادر غیر مقیم اجازه دهد تا در بانکهایی که از د افغانستان بانک جواز اخذ نموده اند، سهم استحقاق ذیصلاحیت و در مطابقت با جواز بانکداری شرکت

شـرکتونو د بانکـداری د جـواز مطابق یا د دافغانستان بانک لخوا د صادر شوي اجازه لیک مطابق، فرعـې او د داخلـي نماینـدګیو دفترونه ولري، په دې شرط چې د هغـو شـتمنۍ او فعالیتونـه د افغانـستان د ملـي بانکـداری د سیـستم لـه منظمـې پراختیـا او سالمې کـړنې سره متضاد نه وي او پر هغـه تهـدید ونه ګڼل شي.

(۲) د د افغانـستان بانـک د غیـر مېـشتو بـانکونو داخلـي تـابع شرکتونو، بانکي مور شرکتونو، د غیر مېشتو بانکونو پر فرعو او د داخلي نماینـدګیو د دفترونـو او د داخلي بانکونو پر غیرمېشتو فرعو او د نمایندګۍ د دفترونـو د فرعـو په تنظیم او څارنـه کې لـه اړوندو بهرنیو بانکي نظارت کوونکو سره د بالمثل عمل پر بنسټ په اغېزمنه توګه همکاري کوي.

پدې منظـور د د افغانـستان بانـک کـولای شـي د بهرنیـو بـانکونو لـه تنظیمـوونکـو سـره د همکـاری موافقت لیکونه لاسلیک کړي.

های تـابع داخلی یـا در مطابقت بـا اجازه نامه های صادر شده از طرف د افغانـستان بانـك، فـروع و دفـاتر نماینـدگی داخلی داشـته باشـند، مـشروط براینکـه دارائـی هـا و فعـالیت هـای آنهـا متـضاد بـا توسـعۀ مـنظم و عملکـرد سـالم سیستم بانکداری ملی افغانستان نبـوده و تهدیـدی علیـه آن پنداشـته نشود.

(۲) د افغانستان بانك، در تنظیم و نظارت بر شرکت های تـابع داخلی بانـکهای غیر مقیم، شرکت های بـانکی مـادر، فـروع و دفـاتر نماینـدگی داخلـی بانکهـای غیـر مقیم و فروع دفـاتر نماینـدگی غیـر مقـیم بانکـها داخلـی، بـطور مـؤثر بـا نظـارت کننـدگـان بانـکی خارجـی مـربوط، بـر اسـاس عمـل بالمثـل همکـاری می نماید.

بـه ایـن منظور، د افغانستان بانك می‌تواند موافقتنامه های همکـاری با تنظیم کنندگان بانکهای خارجی را امضاء نماید.

له عدلي تعقیب څخه مصؤنیت

پنځمه ماده:

د د افغانستان بانک د عالي شوری غړي، د ټولو رئیس، مرستیال، مامور یا یې استازی او هغه شخص چې د دې قانون د حکم مطابق د متولي یا د تصفیې د مدیر په توګه منسوبېږي، د دندې د ترسره کولو یا د ترسره کولو د قصد لپاره د اقدام یا نه اقدام څخه د راپیدا شوي هېڅ ډول زیان مسئول نه دي، خو دا چې ثابته شي چې عمل یا تېروتنه یې له سوء نیت څخه صورت مونډلی دی.

مصؤنیت از تعقیب عدلی

مادۀ پنجم:

اعضای شورای عالی، رئیس کل، معاون، کارمند یا مامور و یا نمایندۀ د افغانستان بانک و شخصی‌که مطابق احکام این قانون بحیث متولی یا مدیر تصفیه منسوب می‌گردد، مسئول هیچ نوع خساره ناشی از اقدام یا عدم اقدام جهت انجام و یا قصد انجام وظیفه نمی باشد، مگر اینکه ثابت گردد که عمل یا اشتباه وی ناشی از سوء نیت صورت گرفته است.

دوه یم فصل

جواز او اجازه لیک

فصل دوم

جواز و اجازه نامه

د بانکداری جواز او اجازه لیک

شپږمه ماده:

(۱) د د افغانستان بانک د فروعیو یا د نمایندګیو د دفترونو د بانکداری د جواز لیک یا د بانکي اجازه لیک د صادرولو او لغو کولو یوازنی مرجع ده.

(۲) هغه جوازونه او اجازه لیکونه چې د دې قانون د حکمونو مطابق

جواز و اجازه نامۀ بانکداری

مادۀ ششم:

(۱) د افغانستان بانک یگانه مرجع صدور و لغو جواز بانکداری و اجازه نامۀ بانکی برای ایجاد فروع و دفاتر نمایندگی می‌باشد.

(۲) جواز ها و اجازه نامه های که مطابق احکام این قانون صادر

صادرېږي د يوې نامحدودې نېټې لپاره اعتبار لري او د لېږدونې وړ ندي او د صادرېدو له نېټې څخه نافذ دي، خو دا چې په قانون کې بل ډول اټکل شوي وي.

(۳) د د افغانستان بانک کولای شي د بانکداری د جواز یا اجازه لیک د صادرولو په وخت کې د اړتیا په صورت کې، شرطونه او محدودیتونه ضمیمه کړي. دغه محدودیتونه کېدلای شي چې وروسته د د افغانستان بانک لخوا تعدیل شي.

(۴) د بانکداری جوازونه یوازې هغو شرکتونو ته چې د افغانستان د قوانینو مطابق جوړ او ثبت شوي وي او د هغو لومړنی ورکړل شوې مجازه پانګه له دوه سوه پنځوسو ملیونو (۲۵۰۰۰۰۰۰۰) افغانیو یا هغه زیات مبلغ څخه چې په دې منظور د د افغانستان بانک د مقرراتو پر بنسټ ټاکل کېږي، لږه نه وي، صادرېږي.

می‌شوند برای یك مدت نامحدود دارای اعتبار بوده و قابل انتقال نمی‌باشد و از تاریخ صدور نافذ است، مگر اینکه در قانون طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

(۳) د افغانستان بانك حین صدور جواز یا اجازه نامه بانکداری می‌تواند در صورت ضرورت، شرایط یا محدودیتهایی ضمیمه کند، این محدودیت ها می‌تواند بعداً توسط د افغانستان بانك تعدیل گردد.

(۴) جواز های بانکداری فقط به شرکتهای که مطابق قوانین افغانستان ایجاد و ثبت شده باشند و سرمایهٔ ابتدائی پرداخته شدهٔ مجاز آنها از دو صد و پنجاه ملیون (۲۵۰۰۰۰۰۰۰) افغانی و یا مبلغ بیشتری که توسط مقررات د افغانستان بانك به این منظور مشخص می‌گردد، کمتر نباشد، صادر می‌گردد.

د بانکداری، د جواز، اجازه لیک او فیس لپاره غوښتنلیک

اوومه ماده:

(۱) د بانکداری د جواز او اجازه لیک لپاره غوښتنلیک په لیکلې توګه د دافغانستان بانک ته وړاندې کېږي.

د غوښتنلیک د وړاندې کولو شرایط او ارزونه د د افغانستان بانک په مقرراتو کې مشخص او خپرېږي.

(۲) د د افغانستان بانک مکلف دی د بانکداری د جواز یا اجازه لیک د غوښتنلیک له تصویبولو مخکې، د بانک د مالکینو او په هغه کې د استحقاقي وندې لرونکو او مدیرانو د مالي وضعیت، شخصي، حرفوي او جرمي سوابقو په اړه چې د هغو لپاره غوښتنه په جریان کې ده، هر اړخیزې څېړنې ترسره کړي.

مالي مؤسسې او د مالیاتو د راټولونې او امنیتي مراجعو مسئولین مکلف دي، په دې هکله له د افغانستان بانک سره همکاري وکړي.

(۳) د د افغانستان بانک کولای شي

درخواست برای جواز بانکداری اجازه نامه و فیس

(۲) هغه اشخاص چې له صادرېدو یا قبولۍ وروسته، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شووسندونو ارخ واقع کېږي،دصادروونکي یا قبلوونکي د ضامنانو په توګه پېژندل کېږي.

مسئولیت صادرکننده وقبول کننده منحیث مدیون اصلی یا ضامن

مادۀ هفدهم :

(۱) صادرکنندۀ حجت و چك از زمان صدور، صادر کنندۀ برات تا زمان قبولی و قبول کنندۀ برات بحیث مدیونین اصلی درقبال اسناد مذکور مسئولیت دارند ، مگر این که در مقاوله طور دیگری تصریح شده باشد.

(۲) اشخاصی که بعد از صدور یا قبولی، طرف اسناد مندرج فقرۀ (۱) این ماده قرار می گیرند ، بحیث ضامنین صادر کننده یا قبول کننده شناخته می شوند.

(۳) له ضامنانو څخه هر یو د هغۀ شخص په وړاندې چې له هغۀ وروسته د سند اړخ ګرځي، د اصلی مدیون په توګه پېژندل کېږي، خو دا چې په مقاولې کې بل ډول تصریح شوی وي.

(۳) هر یك از ضامنین در برابر شخصی که بعد از وی طرف سند قرار می گیرد، بحیث مدیون اصلی شناخته می شود، مگر این که در مقاوله طور دیگری تصریح شده باشد.

د مرسته کوونکي اړخ مسئولیت
اتلسمه ماده:

(۱) د معاملې وړ سند مرستندوی اړخ له ښه نیت سره لرونکي په وړاندې مسئول دی که څه هم چې لرونکی د هغۀ صادروونکي له موقف څخه چې د مرستندوی اړخ په توګه وی، خبرتیا و لري که نه.

(۲) که چېرې مرستندوی اړخ، په معاملې وړ سند کې درج شوی مبلغ ورکړي، مرسته اخیستونکی اړخ د هغۀ په بېرته ورکړه مکلف دی.

(۳) په هغۀ صورت کې چې مرسته اخیستونکی اړخ د مرستې په سندکې درج شوی مبلغ ورکړي، نشي کولی دغه مبلغ له مرستندوی اړخ څخه ترلاسه کړي او همدارنګه د هغۀ د ترلاسه کولو په اړه د ادعا

مسئولیت طرف مساعدت کننده
مادۀ هجدهم:

(۱) طرف مساعدت کنندۀ سند قابل معامله در برابر دارندۀ با حسن نیت مسئول بوده، ولو این که دارنده از موقف صادرکننده که بحیث طرف مساعدت کننده می باشد، اطلاع داشته باشد یا نه.

(۲) هرگاه طرف مساعدت کننده، مبلغ مندرج سند قابل معامله را تأدیه نماید، طرف مساعدت گیرنده مکلف به باز پرداخت آن می باشد.

(۳) درصورتی که طرف مساعدت گیرنده مبلغ مندرج سند مساعدت را تأدیه نماید، نمی تواند این مبلغ را از طرف مساعدت دهنده حصول نماید و نیز حق ادعای مبنی بر حصول آن را

حق نلري.

ندارد.

د انتقالوونکي مسئوليت

نولسمه ماده:

(۱) هغه انتقالوونکی چې د حامل په وجه کې دمعاملې وړسند له ظهر نويسۍ پرته انتقال اخيستونکي ته تسليموي، د سند په وړاندې مسئول نه ګڼل کېږي.

(۲) هغه انتقالوونکی چې د تسليمۍ له لارې، سند معامله کوي، لومړۍ درجه انتقال اخيستونکي ته د معاملې وړ سند په انتقالولو سره پخپله ژمنه کوي:

-هغه ، سند د ارزښت په وړاندې لاسته راوړی دی.

- د معاملې وړسند اصليت، د هغه د ظاهري مفهوم مطابق دی.

- هغه ئې د انتقال حق لري.

- هغه د انتقال په وخت کې له هغو نيمګړتياوو څخه چې سند بې ارزښته کړي، خبرتيا نه لري.

مسئوليت انتقال دهنده

مادهٔ نزدهم :

(۱) انتقال دهنده ای که سند قابل معامله در وجه حامل را بدون ظهرنويسی به انتقال گيرنده تسليم می نمايد ، در برابر سند مسئول دانسته نمی شود.

(۲) انتقال دهنده ای که از طريق تسليمی ، سند را معامله می نمايد ، با انتقال سند قابل معامله به انتقا ل گيرندهٔ درجه اول، خود تعهد می نمايد :

- وی ، سند را در برابر ارزش بدست آورده است.

- اصليت سند قابل معامله، مطابق مفهوم ظاهری آن است.

- وی، حق انتقال آن را دارد.

- وی در زمان انتقال از نواقصی که سند را بی ارزش سازد ، اطلاعی نداشته است.

ضمانت

شلمه ماده:

که چېرې د قبول شوي برات لرونکی د هغهٔ له قبلوونکي

ضمانت

مادهٔ بيستم :

هرگاه دارندهٔ برات قبول شده با قبول کننده آن مقاوله ای را مطابق

سره د قانون مطابق د نورو اړخونو د بري الذمه کولو په اړه مقاوله عقد کړي، لرونکي کولی شي په څرګنده په نوموړی قرار داد کې له نورو طرف اشخاصو څخه د غوښتنې حق ځانته وساتي ، پدې حالت کې آخري اړخونه دبرات دلرونکي په وړاندې له ورکړې څخه نه بري الذمه کېږي.

احکام قانون مبنی بر بری الذمه ساختن سایر طرفین منعقد سازد ، دارنده می تواند طور صریح در قرارداد متذکره حق مطالبه از دیگر اشخاص طرف درسند را بخود محفوظ نگهدارد ، دراین حالت طرفین اخیر در برابر دارندۀ برات بری الذمه نمی گردند.

د ظهر نویس بري الذمه یوویشتمه ماده:

که چېرې د معاملې وړ سند ، د ظهر نویس له موافقې پرته د جبران د ادعا حق چې د پخوانیو اړخونو پر علیه وجود لري، ساقط یا نیمګړی کړي ،پدې صورت کې ظهر نویس د سند د لرونکي په وړاندې له مسئولیت څخه بری الذمه پېژندل کېږي داسې ګڼل کېږي چې سند د هغه د سررسید په وخت کې ورکړل شوی دی.

برائت الذمۀ ظهرنویس

مادۀ بیست ویکم :

هرگاه دارندۀ سند قابل معامله ، بدون موافقۀ ظهر نویس حق ادعای جبران را که علیه طرف های اسبق وجود داشته است، ساقط یا ناقص نماید ، در این صورت ظهرنویس ازمسئولیت در برابر دارندۀ سند ، بری الذمه دانسته شده، چنین پنداشته می شود که سند حین سر رسید آن تأدیه گردیده است.

په ظهر نویسی کې د تحریف یا تېروتنې سره ،سره د قبلوونکي مکلفیت

دوه ویشتمه ماده:

قبلوونکی نشي کولي په ظهر نویسی کې د تحریف یا تېروتنې په دلیل په هغۀ برات کې د درج شوي مبلغ له ورکړې څخه چې دمخه ظهر نویسي شوی دی، ډډه و کړي.

مکلفیت قبول کننده باوجود تحریف یا اشتباه درظهر نویسی

مادۀ بیست ودوم :

قبول کننده نمی تواند بدلیل تحریف یا اشتباه در ظهرنویسی از تأدیه مبلغ مندرج براتی که قبلاً ظهرنویسی شده است، ابا ورزد.

په تخیلي نوم د برات قبلول

درویشتمه ماده:

قبلوونکی نشی کولی په تخیلي نوم لیکل شوی برات چې د صادروونکي په دستور د ورکړې وړ وي، د نوم د تخیلي والي په دلیل له ښه نیت سره د لرونکي په وړاندې په سند کې د درج شوي مبلغ له ورکړې څخه ډډه و کړي، پدې شرط چې سند یا یې ظهر نویسي د صاروونکي په خط او لاسلیك ترتیب شوي وي.

قبولی برات به اسم تخیلی

مادۀ بیست وسوم :

قبول کننده نمی تواند برات صادر شده به اسم تخیلی که به دستور صادر کننده قابل تأدیه باشد ، بدلیل تخیلی بودن اسم، از تأدیۀ مبلغ مندرج سند در برابر دارندۀ باحسن نیت ابا ورزد ، مشروط براین که سند یا ظهرنویسی آن به خط و امضای صادر کننده ترتیب گردیده باشد.

د خدمت د اجراء یا د ګټې د تأمین په وړاندې دسند صادرېدل

څلېریشتمه ماده:

(۱) که چېرې د معاملې وړ سند د خدمت د اجراء یا د ګټې د تأمین په وړاندې صادر، قبول، ظهرنویسي یا انتقال شوی وي، تر هغۀ وخته پورې چې نومورې موخه تر سره شوي نه وي د معاملې ارخونو ته مسئولیت نه راوړي.

(۲) که چېرې یوۀ له ارخونو څخه، د معاملې وړ سند له ظهر نویسۍ سره یا پرته د خدمت د اجراء یا د ګټې د تأمین په بدل کې لرونکي ته انتقال کړي وي، پدې صورت کې نومورې لرونکی او له وروستیو لرونکو څخه هر یو چې هغه یې له دۀ څخه تملك کړی وي، کولی شي په معاملې وړ سند کې درج شوی واجب التأدیه مبلغ له هغۀ انتقالوونکي څخه چې هغه یې د خدمت د اجراء یا د ګټې د تأمین په بدل کې انتقال کړی دی او یا له پخواني ارخ څخه ترلاسه کړي.

(۳) که چېرې په معاملې وړ سند کې طرف شخص عملاً خدمت یا ګټه اجراء یا تأمین کړي وي، د

صدورسند در برابراجرای خدمت یا تأمین منفعت

مادۀ بیست وچهارم:

(۱) هرگاه سند قابل معامله دربدل اجرای خدمت یا تأمین منفعت صادر، قبول، ظهرنویسی یا انتقال شده باشد، تا زمانی که هدف مذکور برآورده نشده است، برای طرفین معامله مسئولیتی را بار نمی آورد.

(۲) هرگاه یکی از طرفین، سند قابل معامله را با یا بدون ظهرنویسی در بدل اجرای خدمت یا تأمین منفعت به دارنده انتقال نموده باشد، در این صورت دارندۀ مذکور و هریك از دارندگان بعدی که آنرا از وی تملك نموده باشند، می توانند مبلغ واجب التأدیه مندرج سند قابل معامله را از انتقال دهنده ای که آنرا در بدل اجرای خدمت یا تأمین منفعت انتقال نموده ویا از طرف اسبق، حصول نمایند.

(۳) هرگاه شخص طرف در سند قابل معامله خدمت یا منفعتی را عملاً اجرأ یا تأمین نموده باشد،

هغۀ خدمت یا ګټې د معادل مبلغ د ترلاسه کولو مستحق دی چې ترسره کړي يې دي.

د رابطې (اړیکیو) او درجې لرل
پنځه ویشتمه ماده:

(۱) که چېرې په معاملې وړسند کې درج شوی ارزښت هغه مبلغ وي چې په سرکې (ابتدأ) په قسمي توګه نا موجود یا وروسته په قسمي توګه اجراء شوی نه وي، پدې صورت کې هغه مبلغ چې د لومړۍ درجې رابطې درلودونکي لرونکی، د نومورې لاسلیك کوونکي په نسبت د ترلاسه کولو مستحق دی، متناسباً کمښت مومي.

(۲) د برات صادروونکی، د هغۀ له قبلوونکي سره لومړۍ درجه رابطه لري، د معاملې وړ سند صادروونکی د ورکړې له ترلاسه کوونکي سره لومړۍ درجه رابطه لري. ظهرنویس په ظهرنویسۍ کې له نومورې شخص (د ظهرنویسۍ ذینفع شخص) سره لومړۍ درجه رابطه لري. نور لاسلیك کوونکي کولی شي، د سند له لرونکي سره د توافق په صورت کې لومړۍ مستحق دریافت مبلغ معادل خدمت یا منفعتی می باشد که انجام داده است.

داشتن رابطه ودرجه
مادۀ بیست وپنجم :

(۱) هرگاه ارزش مندرج سند قابل معامله مبلغی باشد که ابتداءً به صورت قسمی نا موجود یا بعداً طور قسمی اجرا نشده باشد، در این صورت مبلغی که دارندۀ دارای رابطۀ درجه اول نسبت به امضأ کنندۀ مذکور مستحق دریافت می باشد، متناسباً کاهش می یابد.

(۲) صادرکنندۀ برات، رابطۀ درجه اول با قبول کنندۀ آن دارد، صادرکنندۀ سند قابل معامله رابطۀ درجه اول با دریافت کنندۀ تأدیه دارد. ظهر نویس رابطه درجه اول با شخص مذکور در ظهرنویسی (شخص ذینفع ظهرنویسی) دارد. سایر امضأ کنندگان می توانند، درصورت توافق با دارندۀ سند، رابطۀ درجه اول را کسب

درجه رابطه و مومي.

نمایند.

د خدمت داجراء یا د ګټې د تأمین په تناسب د سند د لرونکي استحقاق

شپږویشتمه ماده:

که چېرې د معاملې وړ سند د ټاکلي خدمت یا ګټې د تأمین لپاره چې په پیسو باندې د تعیین وړتیا ولري صادر، خو خدمت یا ګټه قسماً اجراء یا تأمین شوي وي، پدې صورت کې هغه مبلغ چې دلاسلیك کوونکي سره د لومړۍ درجې اړیکې لرونکی د هغۀ د ترلاسه کولو مستحق دی، متناسباً کمښت مومي.

استحقاق دارندۀ سند به تناسب اجرای خدمت یا تأمین منفعت

مادۀ بیست وششم :

هرگاه سند قابل معامله جهت اجرای خدمت یا تأمین منفعت معین که قابلیت تعیین به پول را داشته باشد، صادر ولی خدمت یا منفعت قسماً اجرأ یا تأمین شده باشد، دراین صورت مبلغی که دارندۀ دارای رابطۀ درجه اول با امضأ کننده، مستحق دریافت آن می باشد، متناسباً کاهش می یابد.

د ورك شوي سند مثني

اووه ویشتمه ماده:

که چېرې برات دسررسید له تېرېدو دمخه ورك شي، هغه شخص چې سند ورڅخه ورك شوی دی، کولی شي له صادروونکي څخه دهغۀ د مثني صادرېدل وغواړي، پدې صورت کې د سند لرونکی مکلف دی د صادروونکي لپاره نورو اشخاصو ته د جبران له ورکړې

مثنای سند مفقود شده

مادۀ بیست وهفتم :

هرگاه برات قبل از انقضای سررسید مفقود گردد، شخصی که سند از نزد وی مفقود شده است، می تواند از صادر کننده، صدور مثنای آن را درخواست نماید، در این صورت دارندۀ سند مکلف است، تضمینی را جهت مصئونیت از تأدیۀ جبران به سایر

څخه دخوندیتوب په غرض یو تضمین برابرکړي.صادروونکی مکلف دی د تضمین له ترلاسه کولو وروسته،دیادشوي سند مثني نومورې شخص ته تسلیم کړي.

اشخاص برای صادر کننده فراهم نماید. صادر کننده، مکلف است بعد از دریافت تضمین، مثنای سند متذکره رابه شخص مذکور تسلیم نماید.

د لاسلیك کوونکي یا متوفي د قانوني استازي مسئولیت

اته ویشتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د معاملې ورې سند د صادروونکي، ظهرنویس یا قبلوونکي په توګه لاسلیك کوي، مسئول ګڼل کېږي. په هغه صورت کې چې شخص یوسند په تزویري یا د سوداګریز شرکت په نوم لاسلیك کړي ، په هماغه اندازه مسئول دی چې په خپل نوم یې لاسلیك کړی دی.

(۲) د متوفي قانوني استازی چې د معاملې ورې سند لاسلیك کوي، شخصاً مسئول ګڼل کېږي، خو دا چې ثابته کړي چې مسئولیت یې په هغې شتمنۍ پورې محدود دی چې ترلاسه کړې یې ده.

مسئولیت امضأ کننده و نمایندۀ قانونی متوفی

مادۀ بیست وهشتم :

(۱) شخصی که سند قابل معامله را منحیث صادرکننده، ظهر نویس یا قبول کننده، امضأ می نماید ، مسئول دانسته می شود. در صورتی که شخص سندی را به اسم تزویری و یا شرکت تجارتی امضأ نماید به همان اندازه مسئول می باشد که باسم خودش امضأ کرده است.

(۲) نمایندۀ قانونی متوفی که سند قابل معامله را امضأ می نماید ، شخصاً مسئول دانسته می شود ، مگراین که ثابت نماید که مسئولیت وی محدود به آن دارائی است که وی دریافت نموده است.

تزويري يا غير مجاز لاسليك
نهه ويشتمه ماده:
کـه چېـرې د معـاملې وړ سـند پـه تزويري توګه يا د واکمن شخص لـه اجـازې پرتـه لاسـليك شـي، پـدې صـورت کـې تزويـري ياغيرمجـاز لاســليك اعتبــارنلري اودســند دساتنې، له ورکړې څخه د برائت او لـه طـرف اشخاصوڅخه پـه سـندکې ددرج شـوي مبلـغ د ترلاسـه کولوپـه اړه هـېڅ ډول حـق نـه مرتبېـږي.خـو هغـه طـرف چې د سـند سـاتل يـايې ورکــړه لــه هغــۀ څخــه غوښــتل کېـږي،د لاسـليك تـزويـريوالي يـا د واك د نه موجوديت په اړه د ادعا له حق څخه محروم شوی وي.
تأييد شوي غيـر مجـاز لاس ليکونـه چې په تزوير تمام نـشي، پـدې حکـم کې شامل ندي.

امضأ تزويری يا غيرمجاز
مادۀ بيست ونهم :
هرگـاه سـند قابـل معاملـه طـور تزويــــری يــــا بــــدون اجــــازۀ شـخص ذيـصلاح امـضأ گـردد ، در ايـن صـورت امـضای تزويـری يـا غيرمجـاز، فاقـد اعتبـار بـوده وهــــيچ گونــــه حقــــی مبنــــی بـر حفـظ سـند ، برائـت از تأديـه و حــصول مبلــغ منــدرج ســند از اشـخاص طـرف، مرتـب نمـی شـود ، مگر طرفی که حفظ سند يا تأديه آن از وی مطالبــه مــی گـردد ، ازحـق ادعای مبنی بر تزويری بودن امضأ يا عدم موجوديت صلاحيت محروم شده باشد .
امضاهای غيرمجاز تائيد شده کـه منجربـه تزويـر نگـردد ، شـامل ايـن حکم نمی باشد .

نا مربوط او نا مشخص لاسليك
دېرشمه ماده:
هغه شخص چې د معـاملې وړ سند (د هغــــۀ د صــــادروونکي يــــا قبلـوونکي پـه اسـتثني) لاسـليك کړي، ظهرنويس ګڼل کېږي، خو دا چې د مناسبو کلمو په درجولـو سره

امضای غيرمربوط و نامشخص
مادۀ سی ام :
شخـصی کـه سـند قابـل معاملـه را (بـه اسـتثنای صـادرکننده يـا قبـول کننـده آن) امـضأ مـی نمايـد ، ظهـر نويس پنداشته مـی شـود ، مگـر ايـن کـه قـصد خـود را بـا درج کلمـات

خپل قصد چې په بل موقف کې پر لاسليك دلالت و کړي، په صراحت سره بيان کړي.

مناسب که دلالت بر امضأ در موقف دیگری نماید، به صراحت بیان کند.

په معاملې ورې سندونو کې وکالت
یو دېرشمه ماده:
هغه شخص چې د قانون د حکمونو مطابق د مقاولې د عقد اهليت او واك ولري، کولی شي له نورو اشخاصوڅخه په استازيتوب د معاملې ورسندونه صادر، قبول، ظهر نويسي يا سند له بل شخص څخه په استازيتوب سره تسليم شي.

وکالت در اسناد قابل معامله
مادۀ سی ویکم:
شخصی که مطابق احکام قانون اهلیت وصلاحیت عقد مقاوله را داشته باشد، می تواند به نمایندگی از سایر اشخاص اسناد قابل معامله را صادر، قبول، ظهرنویسی یا تسلیم شود.

د استازي مسئوليت
دوه دېرشمه ماده:
که چېرې شخص د معاملې ورې سند د هغو عبارتونو له زياتولو پرته چې د مؤکل لخوا د هغۀ په وکالت باندې دلالت وکړي، لاسليك کړي شخصاً مسئول ګڼل کېږي. هغه شخص چې د معاملې ورې سند تر جبر او فشار لاندې له واکمن شخص څخه په استازيتوب لاسليك کړي، لدې حکم څخه مستثني دی.

مسئولیت نماینده
مادۀ سی ودوم:
هرگاه شخص، سند قابل معامله را بدون اضافه نمودن عباراتی که دلالت به نمایندگی وی نماید، امضأ کند، شخصاً مسئول دانسته می شود. شخصی که سند قابل معامله را تحت جبر و فشار به نمایندگی از شخص ذیصلاح امضأ نماید، از این حکم مستثنی می باشد.

د قانوني ممثل په واسطه پر معاملې باندې محدوديت

دري دېرشمه ماده:

که چېرې د معاملې وړسند په دستور د ورکړې وړ وي او د متوفي په واسطه ظهر نويسي شوی وي خو د هغهٔ قانوني ممثل، هغه تسليم شوی نه وي، پدې صورت کې قانوني ممثل نشي کولی، يوازې د تسليمۍ په ذريعه هغه معامله کړي.

محدودیت بر معامله توسط ممثل قانونی

مادهٔ سی وسوم:

هرگاه سند قابل معامله به دستور قابل تأدیه بوده و توسط متوفی ظهرنویسی شده، اما ممثل قانونی وی، آنرا تسلیم نشده باشد، دراین صورت ممثل قانونی نمی تواند، صرف ذریعهٔ تسلیمی آن را معامله نماید.

څلورم فصل
د معاملې سرته رسول

فصل چهارم
انجام معامله

د بشپړتيا د شرط په عنوان تسليمي

څلور دېرشمه ماده:

(۱) د معاملې وړ سند صادربدل، قبلېدل يا ظهرنويسي د هغهٔ په واقعي يا اعتباري تسليمۍ سره بشپړېږي.

(۲) د معاملې وړ سند "حامل ته د ورکړې وړ"، ددې قانون په (پنځه څلوېښتمه) ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره د هغه په تسليمۍ سره معامله کېږي.

تسلیمی به عنوان شرط تکمیل

مادهٔ سی وچهارم :

(۱) صدور، قبولی یا ظهرنویسی سند قابل معامله با تسلیمی واقعی یا اعتباری آن تکمیل می گردد.

(۲) سند قابل معاملهٔ "قابل تأدیه به حامل"، بانظرداشت حکم مندرج مادهٔ (چهل وپنجم) این قانون با تسلیمی آن قابل معامله می باشد .

(۳) د معاملې وړسند، "په دستور ورکړې وړ" ددې قانون په (پنځه څلوېښتمه) ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره د لرونکي په ظهر نویسي او د هغۀ په تسلیمي سره معامله کېږي.

(۴) د لومړۍ درجې رابطې لرونکو اړخونو تر منځ واقعي یا اعتباري تسلیمي، د هغۀ اړخ چې سند صادر، قبول یا ظهرنویسي کوي یا یې د واکمن استازي په واسطه،صورت‌مومي.

(۵) د معاملې وړ هغه سند چې تسلیم شوی او ورکړه یې د مشخصې پېښې په واقع کېدو مشروطه وي، د پېښې تر واقع کېدو پورې د معاملې وړ ندی، خو دا چې د هغۀ لرونکي په واسطه معامله شي چې هغه یې د ارزښت د ورکړې په وړاندې او له نومورې شرط څخه له خبرتیا پرته ترلاسه کړی وي.

(۳) سند قابل معاملۀ "قابل تأدیه به دستور" ، بانظرداشت حکم مندرج مادۀ (چهل وپنجم) این قانون با ظهرنویسی دارنده و تسلیمی آن قابل معامله می باشد.

(۴) تسلیمی واقعی یا اعتباری میان طرفین دارندۀ رابطه درجه اول، توسط طرفی که سند را صادر، قبول یا ظهرنویسی می نماید یا نمایندۀ ذیصلاح وی صورت می گیرد.

(۵) سند قابل معامله که تسلیم شده و تأدیه آن مشروط به وقوع واقعۀ مشخص باشد، تا زمان وقوع واقعه، قابل معامله نمی باشد.

د معاملې د واك لرونکی شخص پنځه دېرشمه ماده:

صادروونکی، د مبلغ ترلاسه کوونکی یا د ظهر نویسی ذینفع

شخص صاحب صلاحیت معامله مادۀ سی وپنجم:

صادر کننده ، دریافت کنندۀ مبلغ یا شخص ذی نفع ظهرنویسی می

شخص کولی شي د معاملې وړ هغه سند ظهرنویسي او معامله کړي چې ددې قانون د حکمونو مطابق مقید یا مستثني شوی نه وي، پدې شرط چې د معاملې وړ سند د صادروونکي په قانوني تصرف کې وي یا د ترلاسه کوونکي سند لرونکی یا انتقا ل اخستونکی د (ظهرنویسی ذینفع شخص) وي.

توانـد ، سـند قابـل معاملـه ای را ظهرنویـسی و معاملـه نمایـد کـه مطابق احکام ایـن قـانون مقیـد یـا مـستثنی نـشده باشـد ، مـشروط بـراین کـه سـندقابل معاملـه در تصرف قانونی صادرکننده بوده یا دارنـدۀ سـند دریافـت کننـده یـا انتقـال گیرنـده (شـخص ذی نفـع ظهرنویسی) باشد.

محـــــدوده ظهرنویـــــسي او د ظهرنویسی اثر

شپږدهرشمه ماده:

(۱) ظهر نویسي په یوه له لاندې حالاتو کې محدوده وي:

۱- په هغۀ حالت کې چې ظهر نویسي د راوروسته معاملې حق محدود یا ساقط کړي.

۲- په هغۀ حالت کې چې ظهر نویسي سبب شي څو د ظهرنویسی ذینفع شخص د معاملې وړ سند د ظهرنویـــسی پـــه منظـــور، د ظهرنـویس اسـتازی شـي.یـا یـې محتوي د ظهرنویس یا بل تاکلي شخص لپاره، ترلاسه کړي، پدې شـــرط چـــې د هغـــو عبـــارتونو موجودیـت چـې د انتقـا ل د حـق

ظهرنویـــسی محـــدود و اثـــر ظهرنویسی

مادۀ سی وششم:

(۱) ظهرنویـسی دریکـی ازحـالات ذیل محدود می باشد :

۱- درحـالتی کـه ظهرنویـسی حـق معاملۀ بعدی را محدود یـا سـاقط نماید.

۲- درحالتی که ظهرنویسی سبب گردد تا شخص ذی نفع ظهرنویسی بـه منظـور ظهرنویـسی سـند قابـل معامله، نماینـدۀ ظهرنـویس گـردد ویـا محتـوی آن را بـرای ظهرنـویس یـــا شـــخص معـــین دیگـــری، دریافـت نمایـد ، مـشروط بـراین کـــه موجودیـــت عبـــاراتی کـــه مبـــین حـــق انتقـــا ل باشـــد ،

بیانوونکي وي، ظهر نویسې مقیده کړي.

(۲) د معاملې وړ سند ظهر نویسي، د هغۀ له تسلیمې وروسته دمحدودې ظهر نویسې د اړوندو حکمونو له په پام کې نیولو سره د ظهر نویسې ذینفع شخص ته په سند کې د درج شوي مبلغ د انتقال او د را وروسته معاملې د حق، موجب کېږي.

ظهرنویسی را مقید نماید.

(۲) ظهرنویسی سند قابل معامله، بعد از تسلیمی آن با نظر داشت احکام مربوط ظهرنویسی محدود، موجب انتقال مبلغ مندرج سند و حق معاملۀ بعدی به شخص ذی نفع ظهرنویسی می گردد.

د ظهرنویس د مکلفیت مشروطول

اووه دېرشمه ماده:

د معاملې وړ سند ظهرنویس کولی شي په ظهرنویسې کې د یوه عبارت په درجولو سره، خپل مکلفیتونه محدود کړي یا د ظهر نویسې په سند کې د درج شوي مبلغ د ترلاسه کولو لپاره د ذینفع شخص حقوق د ټاکلې پېښې په واقع کېدو پورې مشروط کړي، که څه هم چې نومورې پېښه هیڅکله هم واقع نشي، که چیرې نومورې ظهر نویس وروسته د سند لرونکی شي، پدې صورت کې ټول واسط ظهر نویسان د هغۀ په وړاندې

مشروط ساختن مکلفیت ظهرنویس

مادۀ سی وهفتم :

ظهرنویس سند قابل معامله می تواند با درج عبارتی درظهرنویسی ، مکلفیت های خود را محدود نموده یا حقوق شخص ذینفع ظهرنویسی را جهت دریافت مبلغ مندرج سند به وقوع واقعۀ معین، مشروط نماید ، ولو این که واقعۀ مذکور هرگز اتفاق نیافتد ، هرگاه ظهرنویس مذکور بعداً دارندۀ سند گردد ، در این صورت تمام ظهرنویسان واسط دربرابر وی مسئول می

مسئول دي.
که چېرې د ظهر نویسۍ په معاملې وړ سند کې د درج شوی مبلغ لپاره د ذینفع شخص حق په پورتني ترتیب سره مشروط شي، د ظهر نویس او د ظهر نویسۍ د ذینفع شخص تر منځ یوازې شرایط د اعتبار وړ دي.
په هغهٔ صورت کې چې د معاملې وړ سند ظهرنویسي مشروطه وي، ورکوونکی کولی شي د شرایطو له په پام کې نیولو پرته، په سند کې درج شوی مبلغ د ظهرنویسۍ ذینفع شخص ته ورکړي، ددې با وجود چې په ظهر نویسۍ کې درج شوي شرایط تحقق و مومي یا نه.

باشند .
هرگاه حق شخص ذینفع ظهرنویسی جهت دریافت مبلغ مندرج سند قابل معامله به ترتیب فوق مشروط گردد ، صرف شرایط میان ظهرنویس و شخص ذینفع ظهرنویسی مدار اعتبار می باشد.
درصورتی که ظهرنویسی سند قابل معامله مشروط باشد ، تأدیه کننده می تواندبدون درنظر گرفتن شرایط، مبلغ مندرج سند را به شخص ذینفع ظهرنویسی تأدیه نماید ، با وجودی که شرایط مندرج ظهرنویسی تحقق یابد یا نه .

له ښه نیت سره د لرونکي له لارې د سند د لرونکي ادعا

اته دېرشمه ماده :

(۱) هغه لرونکی چې د معاملې وړ سند په ښه نیت لرونکي څخه ترلاسه کوي، له هغو ټولو حقوقو څخه چې له ښه نیت لرونکی یې د معاملې وړ سند د قبلوونکي او نورو پخوانیو اړخونو په ارتباط لري برخمن کېږي. پدې شرط چې

ادعای دارندۀ سند ازطریق دارندۀ باحسن نیت

مادۀ سی وهشتم :

(۱) دارنده ایکه سند قابل معامله را از دارندۀ با حسن نیت، حاصل می نماید ، از کلیه حقوقی که دارندۀ با حسن نیت به ارتباط قبول کننده و سایر طرفین اسبق سند قابل معامله دارا بوده برخوردار می گردد. مشروط بر این که در

دسند پرمخ دتېرايستنې او غير قانوني عملونو په سرته رسېدو کې لاس و نلري.

(۲) که چېرې د سند د لرونکي مالکيت معيوب وي:

۱-په هغۀ صورت کې چې هغه، سند له ښه نيت لرونکي سره معامله کړي، نومورې ښه نيت لرونکی د سند د بشپړ مالکيت حق ترلاسه کوي.

۲- په هغۀ صورت کې چې هغه، په سندکې درج شوی مبلغ ترلاسه کړي، هغه شخص چې مبلغ په ښه نيت سره ورکوي، د سند په نسبت بري الذمه کېږي.

انجام اعمال فریب وغیر قانونی بر روی سند دست نداشته باشد.

(۲) هرگاه مالکیت دارندۀ سند معیوب باشد:

۱- درصورتی که وی، سند را با دارندۀ با حسن نیت معامله نماید، دارندۀ با حسن نیت مذکور حق مالکیت کامل سند را حاصل می نماید.

۲- درصورتی که وی، مبلغ مندرج سند را حاصل نماید، شخصی که مبلغ را با حسن نیت تأدیه می نماید، نسبت به سند بری الذمه می گردد.

د سند لرونکې حقوق

نهه دېرشمه ماده:

هغه لرونکی چې سند پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق، لاسته راوړي، کولی شي.په هغۀ کې درج شوی مبلغ ترلاسه کړي، هغه بيا معامله کړي او په خپل نوم د هغۀ په استناد د دعوي اقامه وکړي.

حقوق دارندۀ سند

مادۀ سی ونهم :

دارنده ای که سند را مطابق احکام مندرج این قانون، به دست می آورد، می تواند مبلغ مندرج آن را دریافت نموده، آن را مجدداً معامله نماید و به اسم خودش به استناد آن اقامۀ دعوی نماید.

له ښه نیت سره د لرونکی حقوق څلوېښتمه ماده:

له ښه نیت سره لرونکی کولی شي د معاملې وړ سند د هغۀ د پخوانیو اړخونو په مالکیت کې د موجودو عیبونو او د هغو تر منځ د اختلاف د موجودیت له په پام کې نیولو پرته و ساتي.هغه کولی شي په سند کې د درج شوي مبلغ ورکړه له ټولو مکلفو اړخونو څخه وغواړي.

حقوق دارندۀ باحسن نیت

مادۀ چهلم :

دارندۀ با حسن نیت می تواند سند قابل معامله را بدون درنظر داشت عیوب موجود در مالکیت طرفین اسبق آن و موجودیت اختلاف بین آنها، حفظ نماید. وی می تواند، تأدیه مبلغ مندرج سند را از کلیه طرفین مکلف، مطالبه نماید.

د سپینې ظهرنویسۍ لرونکی سند یوځلوېښتمه ماده:

د مخططو چکونو د اړوندو حکمونو له په پام کې نیولو سره، د معاملې وړ هغه سند چې په سپینه توګه ظهرنویسي شوی وي، د هغۀ حامل ته د ورکړې وړ دي، که څه هم چې نومورې سند د دستور پر بنسټ د ورکړې وړ وي.

سند دارای ظهرنویسی سفید

مادۀ چهل ویکم :

بانظرداشت احکام مربوط چك های مخطط، سند قابل معامله ایکه به صورت سفید ظهرنویسی شده باشد به حامل آن قابل تأدیه است، ولو این که سند مذکور به اساس دستور، قابل تأدیه باشد.

پر بشپړې ظهرنویسۍ د سپینې ظهر نویسۍ بدلول

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) که چېرې د معاملې وړ سند په سپینه توګه ظهر نویسي شوی وي، لرونکی کولی شي له خپل لاسلیك

تبدیل ظهرنویسی سفید به ظهرنویسی مکمل

مادۀ چهل ودوم :

(۱) هرگاه سند قابل معامله به صورت سفید ظهرنویسی شده باشد، دارنده می تواند بدون

او د نوم له درجولو پرته سپینه ظهر نویسي په وجه یا د هغۀ په دستور د بل شخص په وجه کې د مبلغ د ورکړې په اړه د دستور په درجولو سره په بشپړه ظهرنویسۍ بدله کړي، پدې صورت کې د معاملې وړ سند لرونکي د ظهر نویسۍ مسئولیت لرونکي ته لېږدول کېږي.

(۲) که چېرې د معاملې وړ سند له سپینې ظهر نویسۍ څخه په بشپړه ظهر نویسۍ تبدیل شي، یوازې د ظهر نویسۍ ذینفع شخص یا بل هغه شخص چې د هغۀ له لارې یې د مطالبې حق ترلاسه کړی دی، کولی شي ددغه ډول مبلغ د ترلاسه کولو ادعا وکړي.

امضأ و درج اسم خویش، ظهرنویسی سفید را با درج دستوری مبنی بر تأدیۀ مبلغ در وجه یا به دستور وی در وجه شخص دیگری به ظهرنویسی مکمل، تبدیل نماید، انجام ظهرنویسی مکمل باعث انتقال مسئولیت ظهرنویس به دارنده نمی شود.

(۲) هرگاه سند قابل معامله از ظهرنویسی سفید به ظهرنویسی مکمل تبدیل شود، صرف شخص ذی نفع ظهرنویسی و یا شخص دیگری که از طریق وی حق مطالبه را حاصل نموده است، می تواند ادعای دریافت چنین مبلغ را نماید.

د ظهر نویسۍ شرایط

دري څلوېښتمه ماده:

(۱) د ظهرنویسۍ په واسطه په معامله کې په معاملې وړ سند کې ټول درج شوی مبلغ شاملېږي.

(۲) که چېرې د ظهر نویسۍ موخه هغۀ شخص ته چې ظهرنویسي یې په ګټه صورت مومي د ورکړې وړ مبلغ د یوې برخې لېږدول وي یا

شرایط ظهرنویسی

مادۀ چهل وسوم :

(۱) معامله توسط ظهرنویسی شامل تمام مبلغ مندرج سند قابل معامله می شود.

(۲) هرگاه هدف ظهرنویسی انتقال یك قسمت مبلغ قابل تأدیه به شخصی باشد که ظهرنویسی به نفع وی صورت می گیرد و یا سند

نومورې سند دوو یا له دوو څخه زیاتو اشخاصو ته په جلا توګه ظهر نویسي شي، دغه ډول انتقا ل د اعتبار وړ ندي، خو دا چې په معاملې وړ سند کې درج شوی مبلغ قسماً ورکړل شوی وی، پدې صورت کې د دغه ډول ورکړې د معتبروالي په اړه یادښت په هغه کې درجېږي او د پاتې مبلغ ظهرنویسي وروسته صورت مونډلی شي.

مذکور به دو یا بیش از دوشخص بصورت جداگانه ظهرنویسی شود، چنین انتقال قابل اعتبار نمی باشد، مگر این که مبلغ مندرج سند قابل معامله قسماً تأدیه شده باشد، در این صورت یادداشت مبنی بر معتبر بودن چنین تأدیه در آن درج می گردد و ظهرنویسی مبلغ با قیمانده بعداً صورت گرفته می تواند.

ددمخه مسئول طرف سره دسند معامله

څلور څلوېښتمه ماده:

که چېرې د معاملې وړ سند د هغه له سرسید دمخه دوباره پخواني صادروونکي یا ظهرنویس ته یا د هغه قبلوونکي ته انتقال شي، نومورې طرف ددې قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره کولی شي، د معاملې وړ سند بیا صادر یا انتقا ل کړي، خو نشي کولی د هغه ورکړه له هغه ثالث شخص څخه وغواړي چې د دمخه یې د نومورې سند په وړاندې مسئولیت درلود.

معامله سند با طرف مسئول قبلی

مادۀ چهل وچهارم:

هرگاه سند قابل معامله قبل از سررسید آن دوباره به صادرکننده یا ظهر نویس قبلی یا قبول کننده آن انتقال داده شود، طرف مذکور با نظرداشت احکام این قانون می تواند، سند قابل معامله را مجدداً صادر یا انتقال دهد، ولی نمی تواند تأدیه آن را از شخص ثالثی مطالبه نماید که خود وی قبلاً در برابر شخص مذکور مسئول بود.

په مالکیت کې نیمګړتیا

پنځه څلوېښتمه ماده:

کـه چېـرې د معـاملې وړسـند ورك شي يـا د جبر، تزويـر يـا نـورو غيـر قـانوني اعمـالو پـه وسـيله لـه صادروونکي، قبلوونکي يـا د هغـۀ له لرونکي څخه تر لاسه کړی شي، ترلاسـه کـوونکی، حاصـلوونکی، متـصرف يـا د ظهـر نويسـۍ ذينفـع شخص له صادروونکي، قبلوونکي يا د هغۀ له لرونکي څخه د ورکړې وړ مبلـغ د ترلاسـه کولـو مـستحق نـدي، خـودا چـې ظهرنـويس، متصرف يا هغه شخص چې د هغۀ له لارې ادعا صورت مومي ، د ښه نيت لرونکی وي.

نقص درمالکیت

مادۀ چهل وپنجم:

هرگـاه سـند قابـل معاملـه، مفقـود گـردد يـا بوسـيله جبـر، تزويـر و يـا سـاير اعمـال غيرقـانونی ازصـادر کننـده، قبـول کننـده و يـا دارنـدۀ آن حاصـل شـود ، شـخص دريافـت کننده، حاصـل کننده، متـصرف يـا ذی نفع ظهرنويسی يـا شخصی کـه از طريـق آنـان ادعـا مـی نمايـد ، مستحق دريافت مبلغ قابـل تأديـه از صـادرکننده، قبـول کننـده يـا دارنده آن نمی باشد ، مگر ايـن کـه ظهرنـويس ، متـصرف يـا شخـصی کـه از طريـق وی ادعـا صـورت مـی گيرد ، دارندۀ باحسن نيت باشد .

لـه نکـول يـا د سررسـيد لـه تېرېـدو وروسـته ترلاسه شوی د معـاملې وړ سند

شپږڅلوېښتمه ماده:

(۱) هغـه لرونکـی چـې د معـاملې وړسند له قبلېدو څخه لـه نکول يـا لـه ورکړې څخه لـه نکـول وروسـته دهغۀ له يادښت سره يو ځای لاسـته راوړی يا دسررسيدله تېرېدو وروسـته يې هغه حاصل کړی وي دمخکنيـو

سـند قابـل معاملـۀ حاصـل شـدۀ بعـد از نکـول يـا گذشـت سـر رسيد

مادۀ چهل و ششم :

(۱) دارنـدۀ کـه سـند قابـل معاملـه را بعد از نکول از قبـولی يـا نکـول از تأديـه همـراه بـا يادداشـت آن بدسـت آورده و يـا بعـد از انقـضای سررسـيد ، آن را حاصـل نموده باشد ، از جمله طرفين قبلی

اړخونوله جملي څخه يوازې د هغهٔ منتقلوونکي پرعليه د دعوي حق لري چې سند يې له هغهٔ څخه لاسته راوړی او د هغو حقوقو تابع دی چې د اکتساب دوخت منتقلوونکی دهغولرونکی ؤ.

(۲) که چېرې شخص له بنه نيت سره او د ارزښت په وړاندې د تېر موعد د هغهٔ حجت يا برات خاوند شي چې د ارزښت له ورکړې پرته صادر يا قبول شوي وي، کولی شي، ددغهٔ ډول حجت يا برات مبالغ د هغهٔ د دمخه هر اړخ څخه حصول کړي.

حق دعوی را صرف عليه منتقل کنندهٔ دارد که سند را از وی بدست آورده و تابع حقوقی می باشد که منتقل کننده زمان اکتساب آن را دارا بوده است.

(۲) هرگاه شخص با حسن نيت و در برابر ارزش حجت يا برات موعد گذشته ای را بدست آورد. که بدون پرداخت ارزش صادر يا قبول گرديده باشد، می تواند، مبالغ چنين حجت و يا برات را از هر جانب قبلی آن حصول نمايد.

د ورکړې تر وخته د سند د معاملې وړتيا والی

اووه څلوېنښتمه ماده:

د معاملې وړ سند په سر رسيد کې د ورکړې تر وخته يا له هغهٔ وروسته، د صادروونکي، مخاطب يا قبلوونکي په واسطه د معاملې وړ دی، د سند له سررسيد وروسته صادروونکی، مخاطب يا قبلوونکی د هغهٔ د معاملې واک نلري، د پورته ذکر شوو اشخاصو په واسطه له ورکړې وروسته سند د

قابل معامله بودن سند تا زمان تأديه

مادهٔ چهل وهفتم :

سند قابل معامله تا زمان تأديه درسررسيد يا بعد از آن توسط صادرکننده، مخاطب يا قبول کننده قابل معامله می باشد. بعد از سررسيد سند، صادر کننده، مخاطب يا قبول کننده صلاحيت معامله آن را ندارند. بعد از تاديه توسط اشخاص فوق الذکر، سند مورد معامله قرار گرفته

معاملې وړ ګرځېدی نشي.

نمی تواند.

پنځم فصل
د معاملې وړ سندونو وړاندې کول

فصل پنجم
ارایهٔ اسناد قابل معامله

د قبلېدو لپاره د برات وړاندې کول

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) هغه برات چې له رویت وروسته د ورکړې ورځ دی خوزمان او ځای پکې مشخص شوي نه وي، د مناسب موعد اوکاري ساعتونو په ترڅ کې، د قبولۍ لپاره مخاطب ته وړاندې کېږي، په هغهٔ صورت کې چې له مقتضي لټولو وروسته مخاطب و نه موندلی شي، دغه ډول برات نکول شوی ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې په برات کې تصریح شوي وي چې په خاص ځای کې دې مخاطب ته وړاندې شي، سند په هماغه ځای کې وړاندې کېږي په هغهٔ صورت کې چې مخاطب په نومورې ځای کې و نه موندل شي او برات په سر رسید کې ور کوونکي ته وړاندې نشي، یاد شوی برات نکول شوی ګڼل کېږي.

(۳) د برات وړاندې کول د راجستر شوي پستي لیک په واسطه هم

ارایهٔ برات برای قبولی

مادهٔ چهل وهشتم :

(۱) براتی که بعد از رویت قابل تأدیه بوده ولی زمان یا محل ارایه در آن مشخص نشده باشد، درخلال موعد مناسب و ساعات کاری، برای قبولی به مخاطب ارایه می گردد. در صورتی که بعد از جستجوی مقتضی، مخاطب پیدا شده نتواند، چنین برات نکول شده دانسته می شود.

(۲) هرگاه در برات تصریح شده باشد که در محل خاص به مخاطب ارایه شود، سند در همان محل ارایه می گردد، در صورتی که مخاطب درمحل مذکور پیدا شده نتواند و برات در سررسید به تأدیه کننده ارایه نگردد، برات مذکور نکول شده دانسته می شود.

(۳) ارایهٔ برات توسط نامهٔ پستی راجسترشده نیز صورت

صورت موندلی شي، پدې شرط چې د قانون د حکمونو موافقه لیك یا رایج عرف مطابق، مجاز وي.

(۴) په هغۀ صورت کې چې د برات مخاطب لاړم و ګڼي، لرونکی مکلف دی د برات د قبلېدو یا یې د نه قبلېدو په منظور اته څلوېښت ساعته (له عمومي رخصتی پرته) موده مخاطب ته مهلت ورکړي.

گرفته می تواند، مشروط بر این که مطابق احکام قانون، موافقتنامه یا عرف رایج مجاز باشد.

(۴) درصورتی که مخاطب برات لازم بداند، دارنده مکلف است به منظور قبولی برات یا عدم آن مدت چهل وهشت ساعت (به جز از رخصتی عمومی) به مخاطب مهلت دهد.

عندالرویت د حجت وړاندې کول

نهه څلوېښتمه ماده:

هغه حجت چې له رویت څخه یې د تاکلې مودې له تېرېدو وروسته د ورکړې وړ وي، د هغۀ د صادرېدو له نېټې څخه وروسته د کاري ساعتونو په ترڅ کې صادروونکي ته وړاندې کېږي.

ارایۀ حجت عندالرویت

مادۀ چهل ونهم:

حجتی که بعد از سپری شدن موعد معینه از رویت آن قابل تأدیه باشد درخلال موعد مناسب بعد از تاریخ صدور آن در طی ساعات کاری به صادرکننده، ارایه می گردد.

د ورکړې لپاره وړاندې کول

پنځوسمه ماده:

د معاملې وړ سند ددې قانون د حکمونو مطابق، د لرونکي په واسطه یا له هغۀ څخه په استازیتوب بالترتیب صادروونکي، قبلوونکي یا

ارایه برای تأدیه

مادۀ پنجاهم:

(۱) سند قابل معامله مطابق احکام این قانون، بوسیله دارنده یا به نمایندگی از وی بالترتیب به صادر کننده، قبول کننده، یا

مخاطب ته د ورکړې لپاره وړاندې کېږي،لـه وړانـدې کولوڅخـه د قصور په صورت کې، نور اړخونه د سند د لرونکي په وړاندې مسئول ندي.

(۲) که چېرې متعدد اشخاص پرته لـدې چې يـو د بـل شـريك وي، د صـادر وونکـي، قبلـوونکي يـا د معاملې وړ يوه سند د مخاطب په توګه مسئول وي او د ورکړې ځای هم په معاملې وړ سند کې مشخص شـوی نـه وي، د معـاملې وړ سـند هغو ټولو ته وړاندې کېږي.

مخاطـب، بـرای تأدیـه ارایـه مـی گـردد. در صـورت قـصور در ارایـه ، سـایرطرفین در برابـر دارنـده سـند مـسئول نمی باشند.

(۲) هرگاه اشخاص متعدد بدون آنکـه شـریك همـدیگر باشـند ، منحیث صادرکننده، قبول کننده، یا مخاطب یك سند قابل معامله، مسئول باشند ، و محل تأدیه نیز در سـند قابـل معاملـه مـشخص نشده باشد ، سند قابل معامله به همه آن ها ارایه می شود.

د ورکړې لپاره د نه وړاندې کولو موارد

یو پنځوسمه ماده:

په هغۀ صورت کې چې حجت يا بـرات عندالمطالبـه او د مـشخص ځای لـه يادولو پرتـه، د ورکړې وړ وي، د حجـت د صـادروونکي يـا دبـرات د قبلـوونکي د ملزمولـو لپـاره، وړانـدې کـول اړيـن نـه ګڼل کېږي.

موارد عـدم ارایـه بـرای تأدیه

مادۀ پنجاه ویکم :

درصـورتی کـه حجـت يـا بـرات عندالمطالبـه و بـدون ذکـر محـل مـشخص، قابـل تأدیـه بـاشد ، بـرای ملـزم کـردن صـادرکنندۀ حجـت يـا قبـول کنندۀ برات، ارایـه ضرور دانسته نمی شود .

د ورکړې لپاره د وړاندې کولو ساعتونه

دوه پنځوسمه ماده:

د ورکړې لپاره د معاملې وړ سند د کاري ساعتونو په ترڅ کې وړاندې کېږي. که چېرې ور کوونکی بانک وي، د ورکړې لپاره د معاملې وړسند وړاندې کول، د هغۀ د کاري ساعتونو په ترڅ کې صورت مومي.

ساعات ارایه جهت تأدیه

مادۀ پنجاه ودوم :

سند قابل معامله برای تأدیه در خلال ساعات کاری ارایه می شود. هرگاه تأدیه کننده بانک باشد. ارایه سند قابل معامله برای تأدیه در خلا ل ساعات کاری آن، صورت می گیرد.

د مشخص میعاد له تېرېدو وروسته د تأدیې وړ سند وړاندې کول

دري پنځوسمه ماده:

هغۀ حجت یا برات چې د مشخص میعاد له تېرېدو وروسته یا له رویت وروسته د ورکړې وړ وي، د هغۀ په سررسید کې د ورکړې لپاره وړاندې کېږي.

ارایۀ سند قابل تأدیه بعد ازگذشت میعاد مشخص

مادۀ پنجاه وسوم :

حجت یا براتی که بعد از گذشت میعاد مشخص یا بعد از رویت قابل تأدیه باشد، در سررسید آن جهت تأدیه ارایه می شود.

د قسطونو په ډول د حجت د ورکړې وړاندې کول

څلورپنځوسمه ماده:

هغه حجت چې د قسطونو په ډول د ورکړې وړ وي، د هر قسط د ورکړې لپاره له سررسید وروسته

ارایۀ حجت جهت تأدیه به شکل اقساط

مادۀ پنجاه وچهارم :

حجتی که به شکل اقساط قابل تأدیه باشد در روز سوم بعد از سررسید برای تأدیه هر

په درېيمه ورځ، وړاندې کېږي له دغه ډول وړاندې کولو وروسته د نه ورکړې په صورت کې په سررسيد کې د نه ورکړې د حکم لرونکی وي.

قسط ، ارايه مي گردد. در صورت عدم تأديه بعد از چنين ارايه، حکم عدم تأديه در سررسيد را دارا می باشد.

په مشخص ځای کې يا غير له هغه د ورکړې لپاره د سند وړاندې کول پنځه پنځوسمه ماده:

(۱) که چېرې د معاملې وړ سند په يوه مشخص ځای کې د ورکړې لپاره صادر يا قبول شوی وي، د اړوند لوري د ملزمولو په منظور، سند په هماغه مشخص ځای کې د ورکړې لپاره وړاندې کېدی شي.

(۲) که چېرې حجت يا برات ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوی حکم مطابق د ورکړې وړ نه وي، سندد ورکړې لپاره دصادروونکي، قبلوونکي يا په برات يا حجت کې د درج شوي مخاطب په آدرس وړاندې کېږي.په هغه صورت کې چې په سند کې دغه ډول آدرس ياد شوی نه وی، د صادروونکي، مخاطب يا قبلوونکی دکاريا اوسېدوځای ته وړاندې کېږي.

(۳) که چېرې د معاملې وړ سند د

ارايۀ سند جهت تأديه در محل مشخص يا غير آن

مادۀ پنجاه وپنجم :

(۱) هرگاه سند قابل معامله جهت تأديه در يك محل مشخص صادر و يا قبول شده باشد ، به منظور ملزم ساختن طرف مربوط، سند در همان محل مشخص جهت تأديه ارايه شده می تواند.

(۲) هر گاه حجت يا برات مطابق حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده قابل تأديه نباشد ، سند جهت تأديه به آدرس صادرکننده، قبول کننده يا مخاطب مندرج برات يا حجت ارايه می شود. در صورتی که درسند چنين آدرسی ذکر نشده باشد ، به محل کار و يا اقامت صادرکننده، مخاطب و يا قبول کننده، ارايه می گردد.

(۳) هرگاه محل کار يا اقامت

صادروونکي، مخاطب یا قبلوونکي د کار یا اوسېدو ځای معلوم نه وي او په معاملې وړ سند کې هم د قبلېدو یا ورکړې لپاره د وړاندې کولو په غرض تاکلې ځای یاد شوی نه وي، پدې صورت کې د معاملې وړسند په هرځای کې چې وکړی شي هغو ته لاس رسي پیدا کړي، وړاندې کېدی شي.

صادرکننده، مخاطب یا قبول کننده سند قابل معامله معلوم نباشد، و در سند قابل معامله نیز محل معینی برای ارایه جهت قبولی یا تأدیه ذکر نشده باشد، در این صورت سند قابل معامله در هر محلی که بتوان به ایشان دسترسی پیدا کرد، ارایه شده می تواند.

د سند د نقل وړاندې کول

شپږ پنځوسمه ماده:

(۱) وړاندې کوونکی کولی شي، د معاملې وړ سند د اصل په عوض، اړتیا ته په پام سره، د هغهٔ نقل مسئول شخص ته وړاندې کړي. دغه تسلیمي شخصاً یا د راجستر شوي پستي لیك په ذریعه یا په هره بله اغېزمنه لاره صورت مونډلی شي.

(۲) وړاندې کوونکی د ورکړې مسئول شخص ته موقع ورکوي څو ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د معاملې وړسند د نقل د صحت په اړه څېړنه وکړي او دورځې د رسمي ساعتونو په پای کې د هغهٔ په اړه تصمیم و نیسي،

ارایهٔ نقل سند

مادهٔ پنجاه وششم:

(۱) ارایه کننده می تواند، به عوض اصل سند قابل معامله، نظر به ضرورت، نقل آن را به شخص مسئول تسلیم نماید. این تسلیمی شخصاً یا ذریعهٔ نامهٔ پستی راجستر شده و یا هرطرق مؤثر دیگر صورت گرفته می تواند.

(۲) ارایه کننده به شخص مسئول تأدیه موقع می دهد تا در رابطه به صحت نقل سند قابل معامله مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تحقیق و درخواست ساعات رسمی روز در رابطه به آن تصمیم اتخاذ نماید.

د نه قبلېدو په صورت کې، وړاندې کوونکی د سند د اصل په وړاندې کولو مکلف دی.

در صورت عدم قبولی ، ارایه کننده مکلف به ارایه اصل سند می باشد.

له صادروونکي څخه د ورکړې د غوښتنې لپاره د چك وړاندې کول

اووه پنځوسمه ماده:

(۱) دصادروونکي دمکلفولوپه منظور، چك هغۀ بانك ته وړاندې کېږي چې ورته صادرشوی دی.د چك وړاندې کول له هغۀ وخت څخه دمخه صورت مومي چې د صادروونکي او بانکدار اړیکیو ته زیان ورسېږي.

(۲) د ظهرنویس (له صادروونکي پرته) د مکلفولو په منظور، چك له دغه شان شخص څخه د هغۀ له تسلیمې وروسته ، د مناسب موعد په ترڅ کې وړاندې کېږي.

ارایۀ چك جهت ملزم ساختن صادر کننده

مادۀ پنجاه وهفتم :

(۱) به منظور مکلف ساختن صادر کننده، چك به بانکی ارایه می شود که به آن صادر شده است. ارایۀ چك، قبل از زمانی صورت می گیرد که به روابط صادر کننده و بانکدار صدمه وارد شود.

(۲) به منظور مکلف ساختن ظهرنویس (به غیر از صادر کننده)، چك بعد از تسلیمی آن از چنین شخص، در خلال موعد مناسب ارایه می گردد.

عندالمطالبه د ورکړې وړ سند وړاندې کول

اته پنځوسمه ماده:

د معاملې وړ هغه سند چې عندالمطالبه د ورکړې وړ وي، ددې قانون د حکمونو مطابق د لرونکي په واسطه د هغۀ له ترلاسه

ارایۀ سند قابل تأدیه عندالمطالبه

مادۀ پنجاه وهشتم :

سند قابل معامله ایکه عندالمطالبه قابل تأدیه باشد ، مطابق احکام این قانون برای تأدیه در خلال

کولو وروسته د ټاکلې مودې په ترڅ کې د ورکړې لپاره وړاندې کېږي.

موعد معینه بعد از حصول آن توسط دارنده، ارایه می گردد.

قانوني استازي ممثل يا واکمن شخص ته د سند وړاندې کول

نهه پنځوسمه ماده:

د معاملې وړ سند د قبلېدو یا ورکړې لپاره د مخاطب واکمن استازي، صادروونکي یاقبلوونکي او د وفات یا ورشکستګۍ یا افلاس په صورت کې ددې قانون د حکمونو مطابق د هغوی قانوني ممثل یا واکمن شخص ته وړاندې کېږي.

ارایهٔ سند به نماینده، ممثل قانونی یا شخص ذیصلاح

مادهٔ پنجاه ونهم :

سند قابل معامله جهت قبولی یا تأدیه به نمایندهٔ ذیصلاح مخاطب، صادرکننده یا قبول کننده و درصورت وفات یا ورشکسته شدن یا افلاس مطابق احکام این قانون به ممثل قانونی یاشخص ذیصلاح آنها ارایه می گردد.

د قبلېدو یا ورکړې لپاره د معاملې وړ سند د وړاندې کولو د ځنډ توجیه

شپېتمه ماده:

د قبلېدو یا ورکړې لپاره د معاملې وړ سند په وړاندې کولو کې ځنډ په هغهٔ صورت کې موجه ګڼل کېدی شي چې د سند د لرونکي له تقصیر، ناوړې ګټې اخیستنې یا غفلت څخه را پیدا شوي نه وي. د ځنډ د دلیل د رفع کېدو په صورت کې د معاملې وړ سند وړاندې کول

توجیه تأخیر ارایهٔ سند قابل معامله برای قبولی یا تأدیه

مادهٔ شصتم :

تأخیر در ارایهٔ سند قابل معامله جهت قبولی یا تأدیه در صورتی مؤجه پنداشته می شود که ناشی از تقصیر، سوء استفاده و یا غفلت دارندهٔ سند قابل معامله نباشد. درصورت رفع دلیل تاخیر، ارایه سند قابل معامله درموعد مناسب صورت

په مناسب وخت کې صورت مومي.

دقبلېدو یا ورکړې لپاره د معاملې وړ سند د نه وړاندې کولو حالات یو شپېتمه ماده:

(۱) د ورکړې لپاره د معاملې وړ سند وړاندې کول په لاندې حالاتو کې اړین ندي او داسې ګڼل کېږي چې د معاملې وړسند په سررسیدکې وړاندې او د نکول مورد ګرځېدلی دی:

۱- په هغۀ صورت کې چې صادروونکی، مخاطب یا قبلوونکی عمداً د معاملې وړ سند له وړاندې کولو څخه مخنیوی وکړي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د معاملې وړ سند د ور کوونکي د کار په ځای کې د ورکړې وړ وي او هغه دغه ځای د کاري ساعتونو په بهیر کې عمداً بند کړي.

۳- په هغۀ صورت کې چې د معاملې وړ سند په بل مشخص ځای کې د ورکړې وړ وي او ورکوونکی یا یې واکمن استازی د کاري ساعتونو په ترڅ کې په هغۀ ځای کې حضور و نه مومي.

می گیرد.

حالات عدم ارایۀ سند قابل معامله جهت قبولی یا تأدیه

مادۀ شصت ویکم :

(۱) ارایۀ سند قابل معامله برای تأدیه در حالات ذیل ضرور نبوده و چنین پنداشته می شود که سند قابل معامله در سررسید ارایه و مورد نکول قرارگرفته است :

۱- در صورتی که صادر کننده، مخاطب یا قبول کننده عمداً از ارایه سند قابل معامله جلوگیری نمایند.

۲- در صورتی که سند قابل معامله در محل کارتأدیه کننده، قابل تأدیه بوده و وی این محل را درجریان ساعات کاری عمداً مسدود نماید.

۳- در صورتی که سند قابل معامله در محل مشخص دیگری قابل تأدیه بوده و تأدیه کننده یا نمایندۀ ذیصلاح وی درخلال ساعات کاری در آن محل حضور نیابند.

۴- په هغۀ صورت کې چې په معاملې وړسندکې دورکړې لپاره یو ځای مشخص شوی نه وي او مخاطب له مقتضي پلټلو وروسته پیدا نشي.

۵- په هغۀ صورت کې چې د معاملې وړ سند تأدیه کوونکي اړخ له وړاندې کولو دمخه، هغه ورکړی وی.

۶- په هغۀ صورت کې چې د بل اړخ پر علیه چې له تاکلې وخت وروسته او د معاملې وړ سند له نه وړاندې کېدوڅخه د خبرتیا سره، په هغۀ کې د درج شوي مبلغ یوه برخه ورکړې یا یې د هغۀ د ټول یا یوې برخې په ورکړې وعده کړې وي یا دا چې له خپلو حقوقو څخه، د یادشوي سند له نه وړاندې کولو څخه د ګټې اخستنې لپاره سترګې پټې کړې وي.

۷- په هغۀ صورت کې چې صادروونکی و نکړی شي د معاملې وړ سند له وړاندې کولو څخه را پیدا شوي زیانونه وزغمي.

۸- په هغۀ صورت کې چې مخاطب تخیلي شخص وي.

۹- په هغۀ صورت کې چې د

۴- در صورتی که درسند قابل معامله محلی جهت تأدیه مشخص نشده باشد و مخاطب پس از جستجوی مقتضی دریافت نشود.

۵- درصورتی که طرف تأدیه کنندۀ سند قابل معامله، بدون نظرداشت ارایه، تعهد به تأدیه نموده باشد.

۶- درصورتی که علیه طرف دیگری که بعد از موعد معینه و با وجود آگاهی از عدم ارایه سند قابل معامله، قسمتی از مبلغ مندرج آن را تأدیه نموده یا به تأدیه تمام یا قسمتی از آن وعده نموده باشد یا این که از حقوق خود جهت نفع برداری از عدم ارایۀ سند متذکره صرف نظر نموده باشد.

۷- در صورتی که صادر کننده نتواند خسارات ناشی از ارایۀ سند قابل معامله را متحمل گردد.

۸- در صورتی که مخاطب شخص تخیلی باشد.

۹- در صورتی که سند قابل

معاملې وړ سند له ظهرنويس سره د مرستې په منظور، صادر يا قبول شوی وي او هغه د دلايلو په لرلو سره داسې وګڼې چې ياد شوی سند د هغۀ د وړاندې کولو په صورت کې ورنکړل شي.

۱۰- په هغۀ صورت کې چې له مقتضي هڅې او هاند وروسته، د معاملې وړ سند وړاندې کول پدې قانون کې له درج شوو حکمونوسره په مطابقت کې صورت ونه مومي.

(۲) که چېرې د معاملې وړ سند لرونکی ددې باور لپاره دليل ولري چې سند به د هغۀ د وړاندې کېدو په صورت کې نکول شي، نوموړی دليل د هغۀ د وړاندې کولو له اړتيا څخه د انصراف موجب نه کېږي.

معامله به منظور مساعدت به ظهرنويس، صادر يا قبول شده باشد و وی با داشتن دلايل، چنين تصور نمايد که سند متذکره در صورت ارايۀ آن تأديه نخواهد شد.

۱۰- در صورتی که بعد از سعی و تلاش مقتضی، ارايۀ سند قابل معامله در مطابقت با احکام مندرج اين قانون صورت نگيرد.

(۲) هرگاه دارندۀ سند قابل معامله دليلی به اين باور داشته باشد که سند در صورت ارايۀ آن نکول خواهد شد دليل مذکور موجب انصراف از ضرورت ارايه آن نمی گردد.

د وړاندې شوي سند په ورکړه کې د بانکدار اهمال

دوه شپېتمه ماده:

که چېرې برات له قبلېدو وروسته د ورکړې لپاره مشخص بانک ته وړاندې شي، خو له ورکړې څخه يې نکول وشي، په هغۀ صورت کې چې بانکدار دنوموړي سند په ساتنه، معاملې يا تسليمۍ کې

اهمال بانکدار درتأديۀ سند ارايه شده

مادۀ شصت ودوم :

هرگاه برات بعد از قبولی جهت تأديه به بانك مشخص ارايه گردد، ولی از تأديه آن نکول گردد، در صورتی که بانکدار درنگهداری، معامله و يا تسليمی سند مذکور مرتکب اهمال يا غفلت شده وبه

داهما ل او غفلت مرتکب شي او د سندلرونکي ته زيان ورسېږي، بانکدار مکلف دی اووښتی زيان جبران کړي.

دارندۀ سند، خساره وارد گردد، بانکدار مکلف است خساره وارده را جبران نماید.

شپږم فصل
ورکړه او تکټانه

فصل ششم
تأديه وتکتانه

د معاملې وړ سند لرونکي ته ورکړه

دري شپېتمه ماده:

د معاملې وړ واجب التأديه سند د صادروونکي يا قبلوونکي د بري الذمه کولو په منظور، ددې قانون په (اووه شپېتمه) ماده کې د درج شوې حکم له په پام کې نيولوسره دسند لرونکي ته ورکول کېږي.

تأديه به دارندۀ سند قابل معامله

مادۀ شصت وسوم :

مبلغ مندرج سند قابل معاملۀ واجب التأديه به منظور بری الذمه ساختن صادرکننده يا قبول کننده،با نظرداشت حکم مندرج مادۀ (شصت وهفتم) اين قانون به دارندۀ سند تأديه می گردد.

د تکټانې يا د بهرې نور ډولونه څلور شپېتمه ماده:

(۱) تکټانه يا د بهرې نور ډولونه چې د تاکلي يا نا تاکلي نرخ لرونکي وي، د مديون له حقوقو څخه د ملاتړ له په پام کې نيولو سره، د قانون د حکمونو مطابق په لاندې توګه محاسبه کېږي :

۱- که چېرې تکټانه يا د بهرې نور

محاسبه تکتانه ياسايراشکال بهره

مادۀ شصت وچهارم :

(۱) تکتانه اسناد قابل معامله، با نظر داشت حمايت از حقوق مديون مطابق احکام قانون قرار ذيل محاسبه می گردد :

۱- هرگاه تکتانه يا ساير اشکال

ډولونه په حجت یا برات کې په صراحت سره درج او د ورکړې ورځې، خو د ټکټانې یا د بهرې د نورو ډولونو د ورکړې لپاره ټاکلې نېټه مشخصه شوې نه وي، د ټکټانې مقدار په لاندې توګه محاسبه کېږي:

- په هغه صورت کې چې سند حجت وي ، ټکټانه په ټاکلي نرخ په حجت کې پر درج شوي مبلغ باندې محاسبه کېږي. د هغې د محاسبې ورځ موعد د حجت د ترتیب له نېټې څخه تر هغې نېټې پورې چې نومورې مبلغ واجب التأدیه ګرځي یا تر هغې نېټې پورې چې د مبلغ د حصولولو لپاره د دعوي اقامه صورت مومي ، په پام کې نیول کېږي.

- په هغه صورت کې چې سند برات وي، ټکټانه په ټاکلي نرخ په برات کې پر درج شوي مبلغ باندې محاسبه کېږي.د هغې د محاسبې ورځ وخت له هغې نېټې څخه چې برات واجب التأدیه ګرځي، تر هغې نېټې پورې چې په هغه کې درج شوی مبلغ ورکول کېږي یا تر هغې نېټې پورې چې د مبلغ د حصولولو

بهره در حجت یا برات صریحاً درج و قابل تأدیه باشد ، ولی تاریخ معینی برای تأدیه تکتانه و یا سایر اشکال بهره مشخص نشده باشد ، مقدار تکتانه طور ذیل محاسبه می شود:

- درصورتی که سند حجت باشد تکتانه به نرخ معینه بالای مبلغ مندرج حجت محاسبه می شود ، موعد قابل محاسبه آن از تاریخ ترتیب حجت الی تاریخی که مبلغ مذکور واجب التأدیه می گردد یا تاریخی که جهت حصول مبلغ اقامهٔ دعوی صورت می گیرد مدنظر گرفته می شود.

- درصورتی که سند برات باشد تکتانه به نرخ معینه بالای مبلغ مندرج برات محاسبه می شود. موعد قابل محاسبه آن از تاریخی که برات واجب التأدیه می گردد ، الی تاریخی که مبلغ مندرج آن تأدیه می شود یا الی تاریخی که به منظور حصول مبلغ اقامهٔ دعوی صورت

په منظور، د دعوي اقامه صورت مومي، په پام کې نیول کېږي.

۲- که چېرې په حجت یا برات کې د ټکټانې یا د بهرې د نورو ډولونو د ورکړې یا هغۀ نرخ په هکله چې پر بنسټ یې ټکټانه ورکول کېږي تصریح نه وي شوې، د ټکټانې وضع کول مجاز دي او په لاندې توګه محاسبه کېږي.

-ټکټانه د کلني ټاکل شوي نرخ پر بنسټ د افغانستان د قوانینو مطابق محاسبه کېږي.

- په هغۀ صورت کې چې سند حجت وي، ټکټانه د حجت د ترتیب له نېټې څخه تر هغه وخته پورې چې په هغۀ کې درج شوی مبلغ ورکول کېږي یا تر هغې نېټې پورې چې د مبلغ د حصولولو لپاره د دعوي اقامه صورت مومي، محاسبه کېږي.

- په هغۀ صورت کې چې سند، برات وي، ټکټانه له هغۀ وخت څخه چې په برات کې درج شوی مبلغ واجب الادا ګرځي، تر هغې نېټې پورې چې مبلغ یې ورکول کېږي یا تر هغې نېټې پورې چې د مبلغ د حصولولو لپاره د دعوي

می گیرد، مدنظر گرفته می شود.

۲- هرگاه در حجت یا برات در خصوص تأدیه تکتانه یا سایر اشکال بهره یا نرخی که به اساس آن تکتانه تأدیه شود تصریح نشده باشد، وضع تکتانه مجاز بوده وطور ذیل محاسبه می شود.

- تکتانه بر اساس نرخ تعیین شده سالانه مطابق احکام قوانین افغانستان محاسبه می شود.

- درصورتی که سند حجت باشد تکتانه از تاریخ ترتیب حجت یا الی زمانی که مبلغ مندرج آن تأدیه می گردد یا تاریخی که جهت حصول مبلغ اقامۀ دعوی صورت می گیرد، محاسبه می شود.

- درصورتی که سند، برات باشد تکتانه از زمانی که مبلغ مندرج برات واجب التأدیه می گردد الی تاریخی که مبلغ آن تأدیه می شود یا الی تاریخی که جهت حصول مبلغ اقامۀ دعوی صورت

اقامه صورت مومي، محاسبه کېږي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حکمونه پر حجت او برات باندې د ټکټانې د محاسبې په اړه نسبت و هرې مقاولې ته چې د اړخونو په واسطه په حجت او برات کې تر سره خو په هغو کې يې انعکاس ندی موندلی، مرجح دي.
(۳) په هغهٔ صورت کې چې په سند کې د درج شوي مبلغ بېرته ورکړه، د غير ټکټانې د تګلارې پر بنسټ ولاړه وي خو مقدار يا نرخ يې ټاکل شوی نه وي، په سند کې د درج شوي مبلغ بېرته ورکړه يا يې نرخ په لاندې توګه محاسبه کېږي:
۱- که چېرې بېرته ورکړه په بيه کې د زياتوالی، اجارې، د قسطونو په ډول د پېرودنې يا خدماتي لګښتونو پر بنسټ بنا شوې وي، پدې صورت کې د اړخونو په واسطه قرارداد شوی نرخ د مورد له مخې محاسبه کېږي.
۲- که چېرې بېرته ورکړه په ګټه او زيان کې د ګډون پر بنسټ ولاړه وي، پدې صورت کې محکمه د پور د مقاولې د عقدولو په وخت

می گیرد، محاسبه می شود.
(۲) احکام مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در رابطه به محاسبهٔ تکتانه برحجت و برات نسبت به هر مقاوله ای که توسط طرفین درحجت و برات انجام می گردد در آن ها انعکاس نیافته است، مرجح می باشد.
(۳) درصورتی که بازپرداخت مبلغ مندرج سند بر اساس روش غیر از تکتانه استوار باشد اما مقدار یا نرخ آن تعیین نشده باشد، باز پرداخت مبلغ مندرج سند یا نرخ آن طور ذیل محاسبه می شود:
۱- هرگاه بازپرداخت بر اساس افزایش در قیمت، اجاره، خرید به صورت اقساط و یا مصارف خدماتی بنا یافته باشد، در این صورت نرخ قرارداد شده توسط طرفین حسب مورد، محاسبه می گردد.
۲- هرگاه بازپرداخت بر اساس اشتراك در نفع و ضرر استوار باشد، در این صورت محکمه توافق مشارکت در منافع بین بانك

کې د بانك او حکمي مدیون تر منځ په ګټو کې د ګډون توافق په پام کې نیسي.

۳- بهره له هغه وخت څخه چې د معاملې وړ سند واجب التأدیه ګرځي تر هغې نېټې پورې چې په معاملې وړ سند کې درج شوی مبلغ ورکول کېږي، مجاز ده.

و مدیون حکمی در زمان عقد مقاوله قرضه را، در نظر می گیرد.

۳- بهره از زمانی که سند قابل معامله واجب التأدیه می گردد الی تاریخی که مبلغ مندرج سند قابل معامله تأدیه می گردد، مجاز می باشد.

د ټکټانې د ورکړې لپاره د ظهرنویس الزام

پنځه شپېتمه ماده:

که چېرې مسئول اړخ د معاملې وړ هغه سند ظهرنویس وي چې له ورکړې څخه یې نکول صورت موندلی دی، هغه یوازې د سند د نکول د خبرتیا د ترلاسه کولو له نېټې څخه د ټکټانې یا د بهرې د نورو ډولونو پر ورکړه ملزم دی.

الزام ظهر نویس برای تادیهٔ تکتانه

مادهٔ شصت وپنجم :

هر گاه طرف مسئول، ظهر نویس سند قابل معامله ای باشد که از تأدیهٔ آن نکول صورت گرفته است، وی صرف از زمان دریافت اطلاعیه نکول سند، ملزم به تأدیه تکتانه یا سایر اشکال بهره می باشد.

د ورکېدو په صورت کې د ورکړې یا برائت په وخت کې د معاملې وړ سند تسلیمي

شپږ شپېتمه ماده:

هغه شخص چې د لرونکي په واسطه په معاملې وړ سند کې د درج شوي مبلغ په ورکړې باندې

تسلیمی سند قابل معامله حین تأدیه یا برائت در صورت مفقودی

مادهٔ شصت وششم:

شخصی که توسط دارنده ملزم به تأدیهٔ مبلغ مندرج سند قابل معامله می گردد، قبل از تأدیه حق

ملزم کېږي، له ورکړې دمخه حق لري څو د معاملې ورې سند رویت وغواړي او له ورکړې وروسته هغه تسلیم شي، په هغه صورت کې چې سند ورک شوی وي، دنوموړي سند په اړه د هر ډول وروستنۍ ادعا په وړاندې، بري الذمه ګڼل کېږي.

اووم فصل
د معاملې ورې سندونو په وړاندې له مسئولیت څخه برائت

له مسئولیت څخه د برائت حالات
اووه شپېتمه ماده:
د معاملې ورې سند صادروونکي قبلوونکي یا ظهر نویس په یوه له لاندې حالاتو کې بري الذمه ګرځي:
۱- په هغه صورت کې چې د سند لرونکی، د قبلوونکي یا ظهرنویس نوم د بری الذمه کولو په مقصد حذف کړي (خط ووهی). قبلوونکي یا ظهرنویس ددغه ډول لرونکي او ټولو اړخونو په نسبت چې د هغه له لاړې ادعا لري، بري الذمه کېږي.
۲- په هغه صورت کې چې د سند لرونکی،صادروونکی، قبلوونکی یا ظهر نویس په بل ډول بري الذمه

دارد تا رویت سند قابل معامله را مطالبه نماید و بعد از تأدیه آن را تسلیم شود. درصورتی که سند مفقود گردیده باشد، در مقابل هر نوع ادعای بعدی در رابطه به سند متذکره، بری الذمه دانسته می شود.

فصل هفتم
برائت از مسئولیت در برابر اسناد قابل معامله

حالات برائت ازمسئولیت
مادۀ شصت وهفتم :
صادرکننده، قبول کننده یا ظهر نویس سند قابل معامله در یکی از حالات ذیل بری الذمه می گردد:
۱- درصورتی که دارندۀ سند اسم قبول کننده یا ظهر نویس را به قصد بری الذمه ساختن حذف نماید (خط بزند)، قبول کننده یا ظهر نویس نسبت به چنین دارنده و تمام طرفین که از طریق وی ادعا دارند، بری الذمه می گردد.
۲- در صورتی که دارندۀ سند، صادر کننده، قبول کننده یا ظهر نویس را به شکل دیگری بری الذمه

کړي وي، نوموړی صادروونکی ، قبلوونکی یا ظهر نویس نسبت دغه ډول لرونکي او ټولو اړخونو ته چې لدې تبرئې څخه خبروي او د هغۀ له لاړې ادعا لري بري الذمه کېږي.

۳- په هغۀ صورت کې چې د معاملې وړ سند د هغۀ حامل ته د ورکړې وړ وي یا په سپینه توګه ظهر نویسي شوی وي او صادروونکي، قبلوونکي یا ظهر نویس په ټاکلي وخت کې په معاملې وړ سند کې درج شوی د ورکړې وړ مبلغ ورکړی وي،صادروونکی، قبلوونکی یا ظهر نویس د یاد شوي سند د ټولو اړخونوپه نسبت بري الذمه کېږي.

ساخته باشد ، صادر کننده، قبول کننده یاظهر نویس مذکور نسبت به چنین دارنده وتمام طرفین که از این تبرئه مطلع می باشند واز طریق وی ادعا دارند بری الذمه می گردد.

۳- درصورتی که سند قابل معامله به حامل آن قابل تأدیه بوده یا طور سفید ظهرنویسی شده باشد و صادرکننده، قبول کننده یا ظهر نویس در موعد معینه مبلغ قابل تأدیه مندرج سند قابل معامله را تأدیه نموده باشد ، صادر کننده، قبول کننده یا ظهرنویس نسبت به تمام طرفین سند متذکره بری الذمه می گردد.

مخاطب ته دمهلت ورکول اته شپېتمه ماده:

که چېرې د برات لرونکی، د هغۀ قبولۍ لپاره مخاطب ته له دوو کاري ورځو څخه زیات مهلت ورکړي څو نوموړی برات د قبلولو لپاره وګوري پدې صورت کې د برات د دمخه ټول اړخونه چې د دغۀ مهلت له ورکولو سره موافق ندي، ددغۀ ډول لرونکي په نسبت

مهلت دادن به مخاطب مادۀ شصت وهشتم :

هرگاه دارندۀ برات، جهت قبولی آن برای مخاطب بیش از دو روزکاری مهلت بدهد تا برات مذکور را برای قبولی ملاحظه نماید ، در این صورت تمام طرفین قبلی برات که با دادن این مهلت موافق نیستند ، نسبت به چنین دارنده ای بری الذمه دانسته می

بری الذمه ګڼل کېږي.

شوند.

په ټاکلي وخت د چك نه وړاندې کول او له هغۀ څخه را پیدا شوی زیان

نهه شپېتمه ماده:

(۱) کـه چېـرې چـك د هغـۀ د صادرېدو له نېټې څخه د مناسب وخت په ترڅ کې، د ورکړې لپاره وړاندې نـشي او صـادروونکی یـا هغه شخص چې چك یې له حساب څخه صادر شوی، په هغې موده کې چې چك بایـد وړاندې شوی وای، دبانـك پـه وړانـدې د چـك د ورکـړې د حـق لرونکـی وي، خـو د هغۀ په وړاندې کولـو کې د ځنډ له امله زیانمن شي، لـه اووښتي زیـان سـره متناسـب بـري الذمـه ګڼـل کېږي.

د چـك ماهیـت، سـوداګریز عـرف، بانکدار او په خاصوموارد و کې نور موجود واقعیتونه د مناسب وخت د ټـاکلو لپـاره پـه پـام کـې نیـول کېږي.

(۲) ددې مـادې پـه (۱) فقـره کـې د درج شـوي چـك لرونکـی چـې صادروونکی یا بل شخص له هغۀ

عـدم ارایـۀ چـك درموعـد معینـه و ضـرر ناشـی از آن

مادۀ شصت ونهم :

(۱) هرگاه چك بعد از تاریخ صدور آن در خـلال موعـد مناسـب، بـرای تأدیـه ارایـه نـشود و صـادر کننـده یـا شخـصی کـه چك از حساب وی صادر شده، در زمـانی کـه چـك بایـد ارایـه مـی شـد حـق تأدیـه چـك را نـزد بانـك، دارا بـوده، ولـی بـه علـت تـأخیر در ارایـه آن ، متحمـل خـساره شـود متناسـب بـه خـسارۀ وارده بـری الذمـه دانـسته می شود.

ماهیـت چـك، عـرف تجـارتی، بانکـدار و سـایر واقعیـت هـای موجـود در مـوارد خـاص جهـت تعیـین موعـد مناسـب، مـد نظـر گرفته می شود.

(۲) دارندۀ چك مندرج فقرۀ (۱) این مـاده کـه صـادر کننـده یـا شـخص دیگر از وی بـری الذمـه مـی شـود ،

څخه بري الذمه کېږي، ددغۀ ډول صادروونکي یا شخص پرځای ددغه شان دین په اندازه، د بانکدار داین ګرځي او له بانکدار څخه د مبلغ د حصول مستحق دی.

درعوض چنین صادر کننده یا شخص به اندازه چنین دین ، داین بانکدار می گردد و مستحق حصول مبلغ از بانکدار می باشد.

په دستور د ورکړې وړ چك اویا یمه ماده:

(۱) کـه چېرې چك "د دستور پر بنسټ "د ورکړې وړ وي او د ورکړې د ترلاسه کوونکي په واسطه یا د هغۀ لخوا د بل شخص په واسطه د ظهر نویسی څرګندوی وي، پدې صورت کې مخاطب، د هغۀ د تاکلي وخت په ترڅ کې په ورکړې سره، بري الذمه کېږي.

(۲) په هغۀ صورت کې چې چك، حامل ته د ورکړې وړ وي، د تاکلې مودې په ترڅ کې حامل ته د هغۀ په ورکړی سره بري الذمه ګڼل کېږي. له دی سره سره چې ظهرنویسي یې بشپړه یا سپینه وي یا یې وروستی معامله محدوده یا مستثني کړې وي.

چك قابل تأدیه به دستور مادۀ هفتادم :

(۱) هرگاه چك "بنابر دستور" قابل تأدیه بوده و حاکی از ظهر نویسی توسط دریافت کنندۀ تادیه یا از جانب وی توسط شخص دیگر باشد ، در این صورت مخاطب با تأدیه در خلال موعد معینۀ آن، بری الذمه می گردد.

(۲) در صورتی که چك، به "حامل قابل تأدیه" باشد ، مخاطب با تأدیۀ آن به حامل درخلال موعد معینه بری الذمه دانسته می شود ، با وجود این که ظهرنویسی آن مکمل یا سفید بوده یا معامله بعدی را محدود و یا مستثنی نموده باشد.

مشروطه یا محدوده قبولي

یو او یایمه ماده:

(۱) په هغهٔ صورت کې چې د برات لرونکی له مشروطې قبولۍ سره موافقه وکړي یا بل شخص په برات کې د درج شوي مبلغ د یوې برخې په قبلولو سره خپله موافقه محدوده کړي یا د ورکړې لپاره بل ځای یا وخت و ټاکي، یا ورکوونکي یو د بل شریکان نه وي او سند د هغو ټولو لخوا لاسلیك شوی نه وي پدې حالاتو کې د دمخه ټول اړخونه چې په دغه ډول قبولۍ کې یې رضایت اخیستل شوی ندی، دبرات د لرونکي اوهغو اشخاصوپه وړاندې چې د هغهٔ له لارې مدعي دي، بري الذمه کېږي، خو دا چې هغوی خپل رضایت د لرونکي لخوا په ورکړل شوی خبرتیا کې، څرګند کړی وي.

(۲)قبولي په لاندې حالاتو کې مشروطه ګڼل کېږي:

۱- ددغهٔ دستور اعلان چې ورکړه په برات کې د درج شوې پېښې په واقع کېدو پورې مشروطه ده.

۲- د ورکړې په اړه ژمنه، د هغهٔ مبلغ چې د ورکړې دستور یې

قبولی مشروط یا محدود

مادهٔ هفتادویکم :

(۱) درصورتی که دارندهٔ برات با قبولی مشروط موافقه نماید یا شخص دیگری موافقت خود را به قبولی یك قسمت از مبلغ مندرج در برات محدود نماید، محل یا زمان دیگری را برای تأدیه تعیین نماید، یا تأدیه کننده گان شرکای همدیگر نبوده و سند به امضای همه آنان نرسیده باشد، دراین حالات تمام طرفین قبلی که رضایت آنها در این گونه قبولی اخذ نشده است، در مقابل دارنده برات و اشخاصی که از طریق وی مدعی هستند، بری الذمه می شوند، مگر این که آن ها رضایت خود را در اطلاعیهٔ داده شده توسط دارنده، ابراز نموده باشند.

(۲) قبولی در حالات ذیل مشروط دانسته می شود :

۱- اعلان این دستورکه تأدیه، مشروط به وقوع واقعه مندرج در برات است.

۲- تعهد مبنی بر تادیه صرف یك قسمت از مبلغ را احتوا نماید که

ورکول شوی دی، یوازې یوه برخه احتوا کوي.

۳-که چېرې په دستور کې د ورکړې ځای مشخص شوی نه وي، یا پدې صورت کې ورکوونکی په یوه مشخص ځای کې ورکړې ته ژمن کېږي،په هغه صورت کې چې د ورکړې ځای په دستور کې مشخص شوی وي، ورکوونکی کولی شي په سند کې د درج شوي مبلغ ورکړه په بل ځای کې ژمنه وکړي.

۴-په هغه صورت کې چې ورکوونکی په یوه بل وخت کې ورکړې ته ژمن شي، پرته له هغه څخه چې په دستور کې د ورکړې د مودې په توګه ټاکل شوی دی.

دستور تأدیهٔ آن داده شده است.

۳- هرگاه محل تأدیه در دستور مشخص نشده باشد، در این صورت تأدیه کننده متعهد به تأدیه در یك محل مشخص می گردد. در صورتی که محل تأدیه در دستور مشخص شده باشد، تأدیه کننده می تواند تادیهٔ مبلغ مندرج سند را در محل دیگری تعهد نماید.

۴- در صورتی که تأدیه کننده متعهد به تأدیه در یك زمان دیگر گردد، به غیر از آنچه که در دستور بحیث موعد تأدیه، معین گردیده است.

د بنسټیز تحریف آثار

دوه اویا یمه ماده:

(۱)په معاملې وړ سند کې بنسټیز تحریف باطل ګڼل کېږي، خو دا چې اړخونه له هغه سره موافقه ولري.

(۲)که چېرې بنسټیز تحریف د هغه شخص په واسطه چې سند یې په نوم ظهرنویسي شوی دی،صورت

آثار تحریف اساسی

مادهٔ هفتاد و دوم :

(۱) تحریف اساسی درسند قابل معامله باطل پنداشته می شود، مگر این که طرفین به آن موافقه داشته باشند.

(۲) هرگاه تحریف اساسی توسط شخصی که سند به اسم وی ظهرنویسی شده، صورت گیرد،

ومومي، ظهرنويس د ژمنې د سرته رسولو په وړاندې له مسئوليتونو څخه بري الذمه کېږي.
(۳)ددې مادې به (۱ او ۲) فقره کې درج شوي حکمونه ددې قانون (د دوه څلوېښتمې اويوسلو دیارلسمې) مادې د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د تطبیق وړ دي.

ظهر نویس از مسئولیت ها در قبال انجام تعهد بری الذمه می گردد.
(۳) احکام مندرج فقره های (۱و۲) این ماده با رعایت احکام مندرج مواد (چهل و دوم ویکصدوسیزدهم) این قانون قابل تطبیق می باشد.

ددمخه تحریف په صورت کې د قبلوونکي یا ظهرنویس الزامیت دري اویایمه ماده:
دمعاملې وړسند قبلوونکی یا ظهرنویس د هغۀ په قبلولو یا ظهر نویسی سره ملزم او مقید کېږي، له دې سره،سره چې په یاد شوی سند کې تحریف دمخه صورت موندلی وي.

الزامیت قبول کننده یا ظهر نویس در صورت تحریف قبلی
مادۀ هفتادو سوم :
قبول کننده یا ظهرنویس سند قابل معامله با قبولی یا ظهرنویسی آن ملزم و مقید می گردد، با وجود این که تحریف در سند متذکره قبلاً صورت گرفته باشد.

د ناڅرګند تحریف لرونکي سند ورکړه
څلوراویایمه ماده:
په هغۀ صورت کې چې په معاملې وړ سند کې داسې تحریف صورت موندلی وي چې پکې ظاهر نشي یا په هغۀ صورت کې چې چك پداسې وضعیت سره وړاندې شي چې د وړاندې کولو په وخت کې د هغۀ

تأدیۀ سند دارای تحریف غیر آشکار
مادۀ هفتاد وچهارم :
در صورتی که در سند قابل معامله تحریفی صورت گرفته باشد که در آن ظاهر نگردد، یا در صورتی که چك به وضعیتی ارایه شود که در زمان ارایه مخطط (کراس)

مخطط (کراس) والي معلوم نشي يا دغه خطونه (کرښې) له چك څخه زايل شوي وي، پدغو حالاتو کې د هغۀ ورکړه د هغۀ شخص يا بانکدار په واسطه چې په ورکړه يې ملزم دی او په متن کې درج شوی عين مبلغ يې د ورکړی ياسر رسيد په وخت کې ورکړی وي، دغه ډول شخص يا بانك له هغۀ څخه له راپيدا شوي مسئوليت څخه بري الذمه کېږي.

بودن آن معلوم نگردد و يا اين خطوط از چك زايل شده باشد، در اين حالات تأديۀ آن توسط شخص يا بانکداری که ملزم به تأديه آن است، و عين مبلغ مندرج در متن را در زمان تأديه و يا سررسيد آن پرداخته باشد، چنين شخص و يا بانکدار از مسئوليت ناشی از آن بری الذمه می گردد.

د اصلي مديون په واسطه د معاملې ورڼ سند له خاوند کېدو وروسته د صادروونکي، قبلوونکي او ظهر نويس برائت

پنځه اويا يمه ماده:

(۱) که چېرې د معاملې ورڼ سند اصلي مديون په سررسيد کې يا له هغۀ وروسته د يادښوی سند لرونکی شي، پدې صورت کې د معاملې ورڼ سند صادروونکی، قبلوونکی يا ظهر نويس، ددغۀ ډول سند په ورڼدې له مسئوليت څخه بري الذمه کېږي.

(۲) که چېرې د برات لرونکی د هغۀ له قبلېدو وروسته له

برائت صادر کننده، قبول کننده و ظهرنويس بعد از دارنده شدن سند قابل معامله توسط مديون اصلی

مادۀ هفتاد وپنجم:

(۱) هرگاه مديون اصلی سند قابل معامله در سررسيد يا بعد از آن، دارندۀ سند متذکره گردد، در اين صورت صادر کننده، قبول کننده يا ظهر نويس سند قابل معامله از مسئوليت در برابر چنين سند، بری الذمه می شود.

(۲) هرگاه دارندۀ برات بعد از قبولی آن با قبول کننده، مقاوله ای

قبلـــوونکي ســـره ددې قـــانون د حکمونو په (شلمه) ماده کې د درج شـوي حکـم مطـابق مقاولـه عقـد کړي، نور اړخونه بري الذمه کېږي، خو دا چې د نومورې برات لرونکی د هغـو د مکلفولـو پـه اړه خپـل حق په صراحت سره وساتي.

را مطـــابق حکـــم منـــدرج مـــادۀ (بیستم) ایـن قـانون عقـد نمایـد، سایر جوانب بری الذمه می گردند، مگر این که دارندۀ برات مذکور بـا صـــراحت حـــق خـــود را مبنـــی بـــر مکلـــف ســـاختن آنهـــا محفـــوظ نگهدارد.

اتم فصل
دنکول خبرتیا

فصل هشتم
اطلاعیۀ نکول

د نه قبلېدو په سبب نکول
شپږاویایمه ماده:
د برات نه قبلېدل په یوه لـه لاندې حالاتو کې نکول ګڼل کېږي:
۱-په هغه صورت کې چې مخاطب یـا لـه څـو غیـر شـریکو مخـاطبینو څخه یو د هغه برات چې په قبلولـو یې ملزم دی، قبلول رد کړي.
۲-په هغه صورت کې چې د برات نـه ورانـدې کـول موجـه وي او قبـول نشي.
۳-پـه هغـه صـورت کـې چـې تأدیـه کوونکی د مقاولې د عقد اهلیت او واك و نلري.
۴-په هغه صورت کې چې قبلېدل د قید او شرط لرونکي وي.

نکول به سبب عدم قبولی
مادۀ هفتاد وششم:
عدم قبولی برات دریکی از حالات ذیل نکول پنداشته می شود:
۱- درصورتی که مخاطب یا یکی از چنـدین مخاطـب غیـر شـریك، قبولی براتی را که ملزم به قبول آن می باشد، رد نماید.
۲- درصـــورتی کـــه عـــدم ارایـــۀ بـــرات مؤجـــه بـــوده و ســـند قبـــول نگردد.
۳- در صـورتی کـه تأدیـه کننـده فاقداهلیت و صلاحیت عقد مقاوله باشد.
۴- درصـــورتی کـــه قبـــولی دارای قید و شرط باشد.

د نه ورکړې په سبب نکول
اووه اویایمه ماده:
د معاملې وړسند هغه وخت د نه ورکړې په سبب نکول شوی ګڼل کېږي چې د حجت صادروونکی، د برات قبلوونکی یا د چك مخاطب، پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق، د هغو په ورکړه مکلف وي او له هغې څخه ډډه و کړي.

د ابطال خبرتیا
اته اویایمه ماده:
(۱) که چېرې د معاملې وړ سند د نه قبلېدو یا ورکړې په سبب نکول شي، لرونکی یا نور اړخونه چې د معاملې وړ سند په وړاندې ملزم باقي پاتې دي، مکلف دي له قبلولو څخه د نکول یا ورکړې خبرتیا ټولو هغو اړخونو ته چې د لرونکي په وړاندې په انفرادي توګه او د اړخونو څخه یوه یا زیاتو ته چې لرونکي ته په مشترك ډول مسئول دی، وړاندې کړي.
(۲) په هغه صورت کې چې برات د نه قبلېدو په سبب رد شي،

نکول به سبب عدم تأدیه
مادۀ هفتاد وهفتم :
سند قابل معامله زمانی به سبب عدم تأدیه نکول شده پنداشته می شود که صادر کننده حجت، قبول کننده برات و یا مخاطب چك که مطابق احکام مندرج این قانون، مکلف به تادیۀ آن بوده، و از آن امتناع ورزند.

اطلاعیۀ ابطال
مادۀ هفتادوهشتم :
(۱) هرگاه سند قابل معامله به سبب عدم قبولی یا تأدیه نکول گردد، دارنده یا سایر طرفینی که درقبال سند قابل معامله ملزم باقی مانده اند، مکلف اند، اطلاعیه نکول از قبولی و یا تأدیه را به تمام طرفینی که نزد دارنده طور انفرادی و به یك یا بیشتر از طرفینی که نزد دارندۀ طور مشترك مسئول اند، ارایه نماید.
(۲) در صورتی که برات به سبب عدم قبولی رد گردد، صادر کننده

صادروونکی یا هغه ظهرنویس چې دغه ډول خبرتیا ورته وړاندې شوې نه وي، بري الذمه کېږي، خو له بنه نیت سره د لرونکي حقوق چې د خبرتیا د نه وړاندې کېدو په تعقیب، پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق د هغو خاوند شوی دی ، نه اغېزمنوي.

(۳) په هغه صورت کې چې برات د نه قبلېدو په سبب نکول شي اود نکول خبرتیا په مقتضي توګه وړاندې شي ، دنه ورکړې لپاره دوروستۍ خبرتیا اړتیا نشته خودا چې برات ددغې مودې په ترڅ کې قبول شوی وي.

(۴) د رد شوي حجت صادروونکي یا د رد شوي برات یا چك مخاطب یا قبلوونکي ته نکول د خبرتیا وړاندې کول ددې مادې په (۱، ۲، او ۳) فقره کې د درج شوو حکمونو مطابق، اړین ندي.

یا ظهرنویسی که چنین اطلاعیه به وی ارایه نشده باشد ، بری الذمه می گردد ، ولی حقوق دارندۀ با حسن نیت را که متعاقب عدم ارایه اطلاعیه مطابق احکام مندرج این قانون حایز آن گردیده است، متأثر نمی سازد.

(۳) در صورتی که برات به سبب عدم قبولی نکول گردد و اطلاعیه نکول طور مقتضی ارایه شود ، ضرورت به اطلاعیۀ بعدی برای عدم تأدیه نمی باشد ، مگر این که برات در خلال این مدت قبول گردیده باشد.

(۴) ارایۀ اطلاعیه نکول به صادرکنندۀ حجت رد شده یا مخاطب یا قبول کننده چك یا برات رد شده، مطابق احکام مندرج فقره های (۱ ،۲ و۳) این ماده ضرور نمی باشند.

د خبرتیا وړاندې کول

نهه اویایمه ماده:

(۱) د نکول خبرتیا د وفات، ور شکسته کېدو یا افلاس په صورت کې قانوني ممثل یا واکمن شخص

ارایۀ اطلاعیه

مادۀ هفتادونهم :

(۱) اطلاعیه نکول، در صورت وفات، ورشکسته شدن یا افلاس به ممثل قانونی یا شخص

ته له احوالو سره سم وړاندې کېږي.
خبرتیا په شفاهي یا لیکلې توګه ابلاغېږی، په هغهٔ صورت کې چې خبرتیا لیکلې وي،د پُستي لیك یا نورو اغېزمنو لارو څخه ددې قانون له حکمونو سره په مطابقت کې استول کېدی شي، خبرتیا په صریح ډول یا په داسې الفاظو بیانېږي چې اصلي مقصد افاده کړي.خبرتیا د مناسب موعدپه ترڅ کې د سند له نکول وروسته،د کارپه ځای کې او په هغه صورت کې چې دکارځای مشخص نه وی ، د نظر وړ اړخ د اوسیدوپه ځای کې وړاندی کیږی.
(۲)ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې خبرتیا د لاندې معلوماتو لرونکې وي:
۱-سند ، د نکول وړ ګرځېدلی دی.
۲-نکول په کومې وسیلې سره صورت موندلی دی.
۳-د نکول مسئولیت کوم اړخ ته متوجه دی.
(۳) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې خبرتیا په مقتضي توګه ولیکل شي او د پستي لیك له لارې واستول

ذیصلاح حسب احوال ارایه می گردد. اطلاعیه بصورت شفاهی یا کتبی ابلاغ می گردد ، در صورتی که اطلاعیه کتبی باشد ، از طریق نامهٔ پستی یا طرق مؤثر دیگر در مطابقت به احکام قانون، ارسال شده می تواند. اطلاعیه طور صریح و یا به الفاظی بیان می گردد که مقصد اصلی را افاده نماید. اطلاعیه در خلال موعد مناسب بعد از نکول سند ، درمحل کار، درصورتی که محل کار مشخص نباشد در محل اقامت طرف مورد نظر، ارایه می گردد.
(۲) اطلاعیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، حاوی معلومات ذیل می باشد:
۱- سند ، مورد نکول قرار گرفته است.
۲- نکول بکدام وسیله صورت گرفته است.
۳- مسئولیت نکول متوجه کدام طرف می باشد.
(۳) در صورتی که اطلاعیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طور مقتضی تحریر و از طریق نامهٔ پستی فرستاده

شي خو مقصد ته و نه رسېږي، د خبرتيا نه رسېدل د خبرتيا د وړاندې کولو د نه اعتبار سبب نه کېږي.

شود ولی به مقصد نرسد، عدم رسیدن اطلاعیه، سبب عدم اعتبار ارایهٔ اطلاعیه نمی گردد.

د نکول د خبرتيا انتقال

اتيايمه ماده:

د نکول د خبرتيا تراسه کوونکی مکلف دی، خپل د مخني لوري ته د مسئوليت د ارجاع په منظور، د نکول خبرتيا په مناسب وخت کې خبراخيستونکي اړخ ته وړاندې کړي، خودا چې نومورې اړخ خبرتيا ددې قانون په (اووه اويايمه) ماده کې د درج شوي حکم مطابق تراسه کړې وي.

انتقال اطلاعیهٔ نکول

مادهٔ هشتادم:

دریافت کنندهٔ اطلاعیهٔ نکول مکلف است به منظور ارجاع مسئولیت به جانب قبلی خود، اطلاعیهٔ نکول را در موعدمناسب به طرف اطلاع گیرنده ارایه نماید، مگر این که طرف مذکور اطلاعیه را مطابق حکم مندرج مادهٔ (هفتاد وهفتم) این قانون دریافت نموده باشد.

استازي ته د معاملې وړ سند وړاندې کول

يو اتيايمه ماده:

که چېرې د معاملې وړ سند اصلی شخص يا يې استازي ته ورتسليم شي، استازی مکلف دی دخبرتيا له حصول وروسته په مناسبه موده کې اصلي شخص ته ورسوي.

ارایهٔ سند قابل معامله برای نماینده

مادهٔ هشتاد ویکم:

هرگاه سند قابل معامله جهت ارایه به شخص اصلی یا به نمایندهٔ وی، تسلیم داده شود، نماینده مکلف است، اطلاعیه را بعد از حصول در موعد مناسب به شخص اصلی برساند.

د نکول د خبرتيا د اخستونکي اړخ وفات

دوه اتيايمه ماده:

که چېرې هغه شخص چې هغۀ ته د نکـول خبرتيـا اسـتول شـوې ده ، وفات شي او د خبرتيا استوونکی د هغـۀ لـه وفـات څخـه خبرنـه وي، خبرتيـا کـافي ده، اسـتوونکی لـه مسئوليت څخه بري الذمه کېږي .

د نکول د خبرتيا د نه وړاندې کولو حالات

دري اتيايمه ماده:

د نکـول د خبرتيـا وړانـدې کـول په لاندې حالاتو کې اړين ندي:

۱-په هغۀ صورت کې چې د خبرتيا د ترلاسـه کولـو مـستحق شـخص، دهغۀ له تر لاسه کولو څخه صرف نظر کړی وي.

۲-پـه هغـۀ صـورت کـې چـې صـادروونکي د ورکـړې دسـتور فسخ کړی وي.

۳-پـه هغـۀ صـورت کـې چـې د معـاملې وړ سند پـه وړانـدې ملزم اړخ، ونکـړی شـي دخبرتيـا لـه وړانـدې کولـو څخـه را پيـدا شـوي

وفـات طـرف گيرنـدۀ اطلاعيـۀ نکول

مادۀ هشتادودوم :

هرگاه شخصی کـه بـه وی اطلاعيـۀ نکول فرستاده شده، وفات نمايد و فرسـتندۀ اطلاعيـه از وفـات وی مطلع نباشد ، اطلاعيه کـافی بـوده، فرسـتنده از مـسئوليت بـری الذمـه می گردد.

حـالات عـدم ضـرورت اطلاعيـۀ نکول

مادۀ هشتاد وسوم :

ارايۀ اطلاعيۀ نکول در حالات ذيل ضرور نمی باشد :

۱- در صـورتی کـه شـخص مـستحق دريافـت اطلاعيـه، از دريافـت آن صـرف نظـر نمـوده باشد.

۲- درصـورتی کـه صـادر کننـده دسـتور تأديـه را فـسخ نمـوده باشد.

۳- درصـورتی کـه طـرف ملـزم در برابـر سـند قابـل معاملـه، نتوانـد ، خـسارات ناشی از ارايۀ اطلاعيه را متحمل

زیانونه و زغمي.
۴- په هغهٔ صورت کې چې د خبرتیا د ترلاسه کولو مستحق شخص، له مقتضي لټولو وروسته پیدا نشي یا هغه اړخ چې د خبرتیا په وړاندې کولو ملزم دی د مقتضي تدبیرونو د نیولو سره ، سره دخبرتیا په وړاندې کولو قادر نشي.
۵- په هغهٔ صورت کې چې قبلوونکی هم یو له صادروونکو څخه وي.
۶- په هغهٔ صورت کې چې حجت د معاملې وړ نه وي.
۷- په هغهٔ صورت کې چې دخبرتیا د ترلاسه کولو مستحق شخص، له حقایقو څخه خبر وي او له قید او شرط پرته په معاملې وړ سند کې د درج شوي مبلغ ورکړه ژمنه وکړي.

نهم فصل
یادداښت او اعتراض

یادداښت
څلور اتیایمه ماده:
دحجت یا برات له قبلېدو یا ورکړې څخه دنکول په صورت کې،لرونکی کولی شي چې

شود.
۴- در صورتی که شخص مستحق دریافت اطلاعیه، بعد از جستجوی مقتضی پیدا نشود و یا طرفی که ملزم به ارایهٔ اطلاعیه است با وجود اتخاذ تدابیر مقتضی قادر به ارایهٔ اطلاعیه نگردد.
۵- در صورتی که قبول کننده نیز یکی از صادرکننده گان باشد.
۶- در صورتی که حجت قابل معامله نباشد.
۷- در صورتی که شخص مستحق دریافت اطلاعیه از حقایق آگاه بوده و بدون قید و شرط تأدیهٔ مبلغ مندرج سند قابل معامله را تعهد نماید.

فصل نهم
یادداشت و اعتراض

یادداشت
مادهٔ هشتاد وچهارم :
در صورت نکول از قبولی یا تأدیهٔ حجت یا برات، دارنده می تواند، تقاضا نماید تا موضوع توسط

وغـواړي څوموضـوع پـه معـاملې ورسند يـا لـه هغـهٔ سره پـه ملصقه پاڼه کې يا پردواړو باندې د واکمن مامور په واسطه يادداښت شي.
دغه يادداښت د معاملې وړ سند له نکول وروسته، د مناسبې مودې په تـرڅ کـې ليکـي او پـه هغـهٔ کـې د نکـول نېټـه، د هغـهٔ دليـل (د موجوديـت پـه صـورت کـې) او د يادداښت د ليکلـو د فـيس انـدازه درجېږي.

اعتراض
پنځه اتيايمه ماده:
(۱)د حجت يـا بـرات لـه قبلېدو يـا ورکـړې څخـه د نکـول پـه صـورت کې، د مناسبې مودې په تـرڅ کې لرونکی کولی شي له واکمن مـامور څخـه و غـواړي څـو موضـوع پـه معاملې وړ سند يـا لـه هغـهٔ سره پـه ملصقه پاڼه کې وليکي او لـه هغـهٔ څخه تصديق وکړي . دغـه تصديق د اعتراض په نوم يادېږي.
(۲)که چېرې د برات قبلوونکی ور شکسته يا مفلس شي او اعتبار يې له سر رسيد دمخه رسماً د تعـارض وړ وګرځي،د بـرات لرونکی کـولی

مـامور ذيـصلاح در سـند قابـل معـــاملـه و يـــا در ورق ملـصق به آن و يـــــا بر هردو، يادداشت گردد.
ايـن يادداشـت در خـلال موعـد مناسـب بعـد از نکـول سـند قابـل معاملـه، تحريـر و در آن تـاريخ نکـــول، دليـــل آن (درصـــورت موجوديـــــت) و انـــــدازهٔ فـــيس تحريـــر يادداشـــت درج می گردد.

اعتراض
مادهٔ هشتاد وپنجم :
(۱) در صـورت نکـول از قبـولی يـا تأديـه حجـت يـا بـرات، در خـلال موعد مناسب دارنده می تواند از مـامور ذيـصلاح، تقاضـا نمايـد تـا موضوع را درسند قابل معامله يـا ورق ملـصق بـه آن تحريـر و از آن تـصديق نمايـد. ايـن تـصديق بـه نـــام اعتـــراض يـــاد مـــی گردد.
(۲) هرگـاه قبـول کننـده بـرات ورشکسته يا مفلس شود و اعتبـار وی قبـل از سررسـيد بـرات رسـماً مـورد تعـارض قـرار گيـرد، دارنـدهٔ

شي د مناسبی مودي په ترڅ کې، وغواړي څو واکمن مامور له قبلوونکي څخه دښه تصدیق غوښتونکی شي او دبرات درد پـه صورت کې، پـه مناسبه موده کې حقایق په برات کې درج او تصدیق کړي، دغه ډول تصدیق، د ښه تضمین لپاره اعتراض ګڼل کېږي.

د اعتراض محتوي

شپږاتیایمه ماده:

ددې قانون په پنځه اتیایمه ماده کې درج شوی اعتراض د لاندې مطالبو لرونکی دی:

۱-د معترض شخص او هغه شخص نوم چې پر علیه یې اعتراض صورت مونديلی.

۲-د حجت یا برات د نکول نېټه او ځای، د ښه تضمین د نه وړاندې کولو دلیل.

۳-د ورکړې یا قبلولو یا ښه تضمین لپاره د واکمن مامور په واسطه د معترض علیه دځواب ویلو د څرنګوالی په ذکرولو یا داچې د ځواب ویلو ته حاضر ندی یا دا چې و نه موندل شو دغوښتنو څرګندول.

برات می تواند در خلال موعد مناسب، تقاضا نماید تا مامور ذیصلاح از قبول کننده خواهان تضمین بهتر شده و در صورت رد این درخواست، درموعد مناسب حقایق را یادداشت و تصدیق نماید. چنین تصدیق، اعتراض برای تضمین بهتر نامیده می‌شود.

محتوای اعتراض

مادۀ هشتاد وششم :

اعتراض مندرج مادۀ هشتاد وپنجم این قانون حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- اسم شخص معترض وشخصی که علیه وی اعتراض صورت گرفته است.

۲- تاریخ و محل نکول حجت یا برات، زمان و محل انکار از ارایۀ تضمین بهتر.

۳- توضیح مطالبات برای تأدیه یا قبولی و یا تضمین بهتر، توسط مامور ذیصلاح با ذکر نحوۀ پاسخ معترض علیه یا این که حاضر به جواب دادن نبوده یا این که دریافت شده نتوانست.

۴-د هغو موادو او محتویاتو شرح چې پر اصل سند باندې لیکلې یا چاپ شوېده.
۵-د هغۀ واکمن مامور شهرت چې د اعتراض پاڼه یې ترتیب کړېده.
۶- دثالث شخص په واسطه دنکول شوي برات دقبولۍ یا ورکړي په صورت کې دمدیون د اعتبارد ساتنې په منظور د هغۀ شخص نوم چې په واسطه او د هغۀ شخص نوم چې د هغۀ لپاره یې دغه قبولي یا ورکړه صورت مومي‌اود وړاندیز څرنګوالی او د قبولۍ او ورکړې اجراء.

۴- شرح مواد و محتویات که براصل سند نوشته یا چاپ شده است.
۵- شهرت مامور ذیصلاح که ورقۀ اعتراض را ترتیب نموده است .
۶- در صورت قبولی یا تأدیه برات نکول شده توسط شخص ثالث به منظور حفظ اعتبار مدیون، اسم شخصی که توسط وی و اسم شخصی که برای وی این قبولی یا تأدیه صورت می گیرد و چگونگی پیشنهاد و اجرای قبولی و تأدیه.

د نه قبلېدو په علت له نکول وروسته د نه ورکړې په سبب اعتراض

اووه اتیایمه ماده:

هغه برات چې د مخاطب د اوسېدو د ځای په غیر په بل ځای کې د ورکړې لپاره صادر او د نه قبلېدو په سبب، نکول شوی وي، مخاطب ته له بیا وړاندې کولو پرته، په مشخص ځای کې د نه ورکړې له امله، د اعتراض وړ ګرځېدی شي،

اعتراض به سبب عدم تأدیه بعد از نکول به علت عدم قبولی

مادۀ هشتاد وهفتم :

براتی که جهت تأدیه در محل دیگری غیر از محل اقامت مخاطب صادر و به سبب عدم قبولی، نکول شده باشد ، بدون ارایه مجدد به مخاطب، بنابر عدم تأدیه در محل مشخص، مورد اعتراض قرار گرفته می تواند ،

خو دا چې دمخه يا په سر رسيد کې ورکول شوی وي.

پر بهرنی سند باندې اعتراض
اته اتيايمه ماده:
که چېرې د بهرني هېواد قانون چې د معاملې وړ سند په هغۀ ځای کې صادرشوی، په اعتراض حکم کړی وي، دغه ډول نکول د اعتراض وړ ګرځي.

مگر این که قبل یا در سررسید تأدیه شده باشد.

اعتراض برسند خارجی
مادۀهشتادوهشتم :
هرگاه قانون کشور خارجی که سند قابل معامله در آنجا صادر شده، حکم به اعتراض نموده باشد، چنین نکول مورد اعتراض قرار می گیرد.

لسم فصل
مناسب وخت

فصل دهم
موعد مناسب

په راتلونکې کې وخت د ټاکل شوي وخت په ترڅ کې د حجت يا برات ورکړه
نهه اتيايمه ماده:
حجت يا برات پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق، په راتلونکې کې د ټاکل شوي موعد په ترڅ کې په هغۀ صورت کې د ورکړې وړ دی چې د ورکړې وړتيا يې په لاندې توګه ليکل شوې وي:
۱- د سند د ترتيب يا د هغۀ د رويت له نېټې څخه د يوۀ ټاکلی موعد له تېرېدو وروسته.

تأدیۀ حجت یا برات در خلال موعد معینه در آینده
مادۀ هشتاد و نهم :
حجت یا برات مطابق احکام مندرج این قانون، درخلال موعد معین در آینده درصورتی قابل تأدیه می باشد که قابلیت تأدیۀ آن به ترتیب ذیل تحریر شده باشد:
۱- بعد از سپری شدن یك موعد معین از تاریخ ترتیب سند یا رویت آن.

۲-د یوې مشخصې پېښې له واقع کېدو وروسته چې واقع کېدل یې قطعي، خو وخت یې معلوم نه وي یوې ټاکلې مودې د حجت یا برات موکولول.

۲- موکول نمودن حجت یا برات به یک موعد معین بعد از وقوع واقعهٔ مشخص که وقوع آن قطعی، مگر زمان آن معلوم نباشد.

په مخکې یا وروسته نېټو د معاملې وړ سند ترتیبېدل نوی یمه ماده:

که چېرې په معاملې وړسند کې درج شوې نېټه مخکې یا وروسته پورې اړه ولري ، نومورې سند د اعتبار وړ ګڼل کېږي، پدې شرط چې ددغه ډول نېټې لیکل د یوې غیر قانوني یا له تېر ایستنې څخه ډکې معاملې د سرته رسېدو په منظور صورت نه وي موندلي.

ترتیب سند قابل معامله به تاریخ های ماقبل یا مابعد مادهٔ نودم :

هرگاه تاریخ مندرج سند قابل معامله مربوط ماقبل یا مابعد باشد ، سند مذکور قابل اعتبار دانسته می شود ، مشروط بر این که تحریر چنین تاریخ به منظور انجام یک معامله غیر قانونی ویا فریب آمیز صورت نگرفته باشد.

د ورکړې وړ برات یا حجت د سررسید محاسبه د هغه له رویت یاټاکلې نېټې څو میاشتې وروسته یو نوي یمه ماده:

(۱)د هغه حجت یا برات د سررسید په محاسبه کې چې په سند کې له درج شوې نېټې څخه د څو ټاکلو میاشتو له تېرېدلو یا د مشخصې پېښې له رویت یا واقع کېدو وروسته د ورکړې وړ وي، یاده

محاسبهٔ سررسید برات یا حجت قابل تأدیه چند ماه بعد از رویت یا تاریخ معینهٔ آن مادهٔ نود ویکم :

(۱) درمحاسبهٔ سررسید حجت یا براتی که بعد از سپری شدن چند ماه معین بعد از تاریخ مندرج سند یا رویت یا وقوع واقعه مشخص، قابل تأدیه باشد ،

شوې موده د اړوندې میاشتې په هغه ورځ باندې پایته رسېږي چې په یوې له لاندې نېټو سره مطابقت ولري:

۱- په سند کې درج د ترتیب نېټه.

۲- د قبلېدو یا رویت لپاره د سند د وړاندې کولو نېټه.

۳- د نه قبلېدو په اړه د یادداښت د وړاندې کولو نېټه.

۴- دنه قبلېدو لپاره د اعتراض نېټه.

۵- د پېښې د واقع کېدو نېټه.

(۲) هغه برات چې له رویت وروسته د مشخصو میاشتو په تېرېدو سره د ورکړې وړ وي او د شهرت د ساتلو په منظور، قبول شوی وي، د هغۀ د سررسید نېټه هغه ورځ ګڼل کېږي چې قبولي صورت مونډلی دی.

که چېرې په هغې نېټې چې یاده شوې موده پایته رسېږي د هغې مطابق ورځ وجود و نلري، د سررسید موده د میاشتې په اخره ورځ پایته رسېږي.

(۳) د هغۀ برات یا حجت سررسید چې عندالمطالبه، عندالرویت یا عندالاراېه ورکړه په هغۀ کې یاده میعاد متذکره به آن روز ماه مربوط ختم می شود که با یکی از تاریخ های ذیل مطابقت داشته باشد:

۱- تاریخ ترتیب سند.

۲- تاریخ ارایۀ سند جهت قبولی یا رویت.

۳- تاریخ ارایۀ یادداشت مبنی بر عدم قبولی.

۴- تاریخ اعتراض جهت عدم قبولی.

۵- تاریخ وقوع واقعه.

(۲) براتی که بعد از مرور ماه های مشخص بعد از رویت قابل تأدیه می باشد و به منظور حفظ شهرت قبول گردیده باشد، تاریخ سر رسید آن روزی دانسته می شود که قبولی صورت گرفته است.

هرگاه در تاریخی که میعاد متذکره خاتمه می یابد، روزی مطابق به آن وجود نداشته باشد، میعاد سر رسید بروز آخر ماه خاتمه می یابد.

(۳) سررسید برات یا حجتی که تأدیه عندالمطالبه، عندالرویت یا عندالاراېه در آن اظهار

شوې نه وي ، د ورکړې ورځ په هغه کې له درج شوې نېټې څخه وروسته، درېيمه ورځ وي.

د ورکړې وړ برات يا حجت د سررسيد محاسبه د هغه له رويت يا تاکلې نېټې څخه څو ورځې وروسته

دوه نوي يمه ماده:

د هغه حجت يا برات د محاسبې لپاره چې له رويت يا سررسيد يا د مشخصې پېښې له واقع کېدو وروسته د مشخصو ورځو په تېرېدو سره د ورکړې وړ ګڼل کېږي، لاندې ورځې د محاسبې وړ ندي:

۱-دسند د ترتيب ورځ.

۲-د قبلېدو يا رويت لپاره د وړاندې کولو ورځ.

۳-دنه قبلېدولپاره د اعتراض ورځ.

۴-د پېښې د واقع کېدو ورځ.

نشده باشد ، روز تأديه، روز سوم بعد از تاريخ مندرج آن می باشد.

محاسبهٔ سررسيد برات يا حجت قابل تأديه چند روز بعد از رويت يا تاريخ معينهٔ آن

مادهٔ نود ودوم :

برای محاسبه سررسيد حجت يا براتی که با سپری شدن روز های مشخص بعد از رويت يا سررسيد يا وقوع واقعه مشخص قابل تأديه دانسته می شود ، روزهای ذيل قابل محاسبه نمی باشد :

۱- روز ترتيب سند.

۲- روز ارايه جهت قبولی يا رويت.

۳- روز اعتراض جهت عدم قبولی.

۴- روز وقوع واقعه.

د رخصتۍ په ورځو کې د حجت يا برات سررسيد

دري نوی يمه ماده:

که چېرې د حجت يا برات د سررسيد ورځ د عمومي رخصتۍ

سررسيد حجت يا برات در ايام رخصتی

مادهٔ نود وسوم :

هرگاه روز سررسيد حجت يا برات مصادف با روز

لـــه ورځـــې ســـره مـــصادفه وي، سررسید یې را وروسته رسمي ورځ ده.

ټاکلی مودہ

څلور نوي یمه ماده:

د معاملې وړ سند د وړاندې کولو قبلېـــدو یـــا ورکـــړې، د نکـــول د خبرتیا او یادداښت د وړاندې کولو لپـــاره ټـــاکلی مـــوده ، د هغـــهٔ د ماهیت او د ورته سندونو د پراوونو لـه پـه پـام کـې نیولـو سـره، ټاکـل کېږي.ددغهٔ ډول مودې په محاسبه کې عمومي رخصتی نه شاملېږي.

رخصتی عمومی باشد ، سررسید آن، روز رســـمی مـــا بعـــد آن می باشد.

موعد معینه

مادۀ نود وچهارم :

موعد معینه برای ارایه، قبولی یا تأدیـــۀ ســـند قابـــل معاملـــه، ارایۀ اطلاعیۀ نکول و یاد داشت با نظرداشت ماهیت آن و مراحل معمـــول اســـناد مـــشابه، تعیـــین می گردد. در محاسبه چنین موعد رخصتی های عمومی شامل نمی گردند.

د نکـول د خبرتیـا د وړانـدې کولـو لپاره ټاکلی مودہ

پنځه نوي یمه ماده:

(۱)کـه چېـرې لرونکـی او هغـه اړخ چې د نکـول خبرتیـا ورتـه وړانـدې کېـږي ، پـه عـین ځـای کـې کاریـا استوګنه ولـري، خبرتیـا هغـه وخت پـه ټاکلې مـوده وړانـدې شـوې ګڼل کېږي چې استول یې پداسې موقع کې صورت و مومي چې لـه نکـول څخـه یـوه ورځ وروسـته مقـصد تـه ورسېږي.

(۲)کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱)

موعـد معینـه جهـت ارایۀ اطلاعیـه نکول

مادۀ نود وپنجم :

(۱) هرګـاه دارنـده و طرفـی کـه اطلاعیـۀ نکـول بـه وی ارایـه مـی گردد درعـین محـل کـار یـا اقامت داشـته باشـند ، اطلاعیـه زمـانی در موعد معینه ارایه شده دانسته می شـود کـه ارسـال آن در مـوقعی صـــورت گیـــرد کـــه یـــك روز بعـــد از نکـــول بـــه مقـــصد برسد.

(۲) هرګاه طـرفین منـدرج فقرۀ (۱)

فقره کې درج شوي اړخونه په مختلفو ځایونو کې کار او استوګنه ولري، خبرتیا هغه وخت په ټاکلې موده وړاندې شوې ګڼل کېږي چې د وروستني پُست په واسطه یا له نکول څخه یوه ورځ وروسته مقصد ته ورسېږي.

(۳)هغه شخص چې د معاملې وړسند طرف وي خو لرونکی یې نه وي کولی شي ددې مادې په (۱ او ۲)فقره کې د درج شوو شرایطو له په پام کې نیولو سره د نکول خبرتیا د ټاکل شوې مودې په ترڅ کې مخکښ اړخ ته واستوي.

این ماده در محلات مختلف، کار یا اقامت داشته باشند، اطلاعیه زمانی در موعد معینه، ارایه شده دانسته می شود که توسط پست بعدی و یا یك روز بعد از نکول به مقصد برسد.

(۳) شخصی که طرف سند قابل معامله بوده اما دارندۀ آن نباشد، می تواندبانظرداشت شرایط مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده، اطلاعیه نکول را درخلال موعد معینه به طرف ماقبل ارسال نماید.

یوولسم فصل
د اعتبار د ساتلو لپاره د برات قبلول او ورکړه

فصل یازدهم
قبولی و تأدیۀ برات برای حفظ اعتبار

د اعتبار د ساتلو لپاره قبلول

شپږنوي یمه ماده:

که چېرې د برات په هکله د نه قبلېدو یا ښه تضمین دنه وړاندې کولو له امله یاددانښت یا اعتراض صورت و مومي، هغه شخص چې په برات کې د درج شوي مبلغ د ورکړې په وړاندې ژمن نه وي،

قبولی برای حفظ اعتبار

مادۀ نود وششم :

هرگاه در مورد برات بنابر عدم قبولی یا ارایۀ تضمین بهتر، یادداشت یا اعتراض صورت گیرد، شخصی که متعهد در برابر تأدیۀ مبلغ مندرج برات نباشد، می تواند

کـولی شـي د هغـهٔ د لرونکـي د موافقې په اخیستلو سره، په برات کې په لیکلو سره، هغه لـه دمخه اړخونـو څخـه د یـوهٔ د اعتبـار د ساتلو لپاره، قبول کړي.

د اعتبـار د سـاتلو لپـاره د قبلېدو څرنګوالی

اووه نوي یمه ماده:

(۱) هغـه شـخص چـې د بـرات د اعتبار د ساتلو لپاره د قبولې مینه وال وي، مـکلف دی په هغهٔ برات کې چې په واك کې یې دی، ولیکي چې هغه د اعتراض د حق په ساتلو سـره، اعتـراض شـوی بـرات د صـادروونکي یـا مـشخص ظهـر نـویس چـې ورځخـه نـوم اخلـي د اعتبـار د سـاتلو لپـاره یـا پـه عـام صـورت د اعتبـار د سـاتلو لپـاره قبلوي.

(۲)کـه چېـرې پـه قبـولې کـې د اعتبار د ساتلو لپاره، دکوم شخص نوم یاد شوی وي، پدې صورت کې داسـي ګڼـل کېـږي چـې قبـولې د معـاملې وړ سند د صـادروونکي د اعتبـار د سـاتلو لپـاره صـورت موندلی دی.

بـا اخـذ موافقـهٔ دارنـده آن بـا تحریـر در بـرات، آنـرا بـرای حفـظ اعتبـار یکـی از طـرفین قبلـی، قبـول نماید.

چگـونگی قبـولی بـرای حفـظ اعتبار

مادهٔ نود وهفتم :

(۱) شخـصی کـه علاقمنـد قبـولی بـرای حفـظ اعتبـار بـرات باشـد، مکلـف اسـت در براتـی کـه در اختیار وی قرار دارد، تحریر نماید که وی با حفظ حق اعتراض، برات اعتـراض شـده را جـهت حفـظ اعتبـار صـادر کننـده و یـا ظهرنـویس مـشخص کـه از وی نـام مـی بـرد و یـا بـه صـورت عـام بـرای حفـظ اعتبار، قبول می نماید.

(۲) هرگـاه در قبـولی بـرای حفـظ اعتبار، اسم شخصی ذکر نـه شده باشـد، در ایـن صـورت چنـین پنداشته می شود کـه قبولی برای حفظ اعتبار صادرکنندهٔ سند قابل معاملـه صـورت گرفتـه است.

د اعتبـــار د ســـاتلو لپـــاره د قبلوونکي مسئوليت

اته نوي يمه ماده:

(۱) قبلـوونکی د اعتبـار د سـاتلو لپـاره د هغـهٔ اړخ د ټولـو وروسـتنيو اړخونو په وړاندې چې هغـهٔ د خپـل اعتبار د ساتلو لپاره په برات کې د درج شـوي مبلـغ ورکـړه د مخاطـب لخـوا د نـه ورکـړې پـه صـورت کـې قبلوي، ملزم دی. پدې صورت کې اړخ او ټول دمخـه اړخونـه د واك پـه حدودو کې د هغـهٔ زیان پـه جبرانولـو مکلـف دي چـې قبلـوونکی يـې د اعتبـار د سـاتلو لپـاره ددغـهٔ ډول قبولی په پایله کې زغمي.

(۲) قبلـوونکی د اعتبـار د سـاتلو لپاره د برات د لرونکي په وړاندې ملزم نـدی خودا چې برات هغـهٔ تـه وړاندې شوی وي یا په هغـهٔ صورت کـې چـې د دغـهٔ ډول قبلـوونکي پـه واسـطه پـه بـرات کـې ذکـر شـوی آدرس لـه هغـهٔ ځـای څخـه پرتـه چې بـرات هلتـه د ورکـړې وړ دی ، بـل ځای وي ، لـه سررسید څخـه تر را وروسته ورځې پورې وړاندې شوی وي یا دا چې برات په سررسید کې

مسئولیت قبول کننده برای حفظ اعتبار

مادهٔ نودو هشتم :

(۱) قبول کننده برای حفظ اعتبار، دربرابرتمام طرفین مابعد طرفی که وی بـرای حفـظ اعتبـارش، تأدیـهٔ مبلـغ منـدرج بـرات را در صـورت عـدم تأدیـه توسـط مخاطـب قبـول می نماید، ملزم می باشد. دراین صـــورت طـــرف و تمـــام طـــرفین قبلی در حدود صلاحیت، مکلف به جبران خساره ای می باشند که قبول کننده برای حفظ اعتبار، در نتیجهٔ چنین قبولی آنرا متحمل می گردد.

(۲) قبول کننده برای حفظ اعتبار، دربرابـر دارنـده بـرات ملـزم نمـی باشـد ، مگـر ایـن کـه بـرات بـه وی ارایـه گردیـده یـا درصـورتی کـه آدرس ذکـر شـده در بـرات توسـط چنـــین قبـــول کننـــده محـــل دیگری غیر از محلی باشد که برات در آن قابـــــــل تأدیـــــــه اسـت الـی روز بعـد از سررسـید ارایـه شـده باشـد یـا ایـن کـه بـرات در سررســید جهــت تأدیــه بــه

مخاطب ته د ورکړې لپاره وړاندې او نومورې لـه هغـۀ څخـه نکـول اوبرات د یاددابنت یا اعتراض وړ ګرځېدلی وي.

د اعتبار د ساتلو لپاره ورکړه
نهه نوي یمه ماده:
کـه چېرې د بـرات د نـه ورکړې پـه علـت، یاددابنـت لیکـل شـوی یـا اعتراض صورت موندلی وي ، هر شخص کولی شي په برات کې درج شوی عین مبلغ د دغۀ ډول مبلغ په ورکړه له ملزمو اړخونو څخه د یوۀ داعتبـار د سـاتلو لپـاره، ورکـړې. پـدې شـرط چـې شـخص یـا یـې استازی دمخـه د واکمـن مـامور پـه حضور کې د هغۀ اړخ نوم یـاد کړي چې د هغـۀ د اعتبـار د ساتلو لپـاره ورکړه صورت مومي او اظهاریـه د واکمن مامور په واسطه ثبت شي.

د اعتبـــار دســـاتلو لپـــاره د ورکوونکي حق
سلمه ماده:
هغـه شـخص چې د اعتبـار د سـاتلو لپـاره ورکـړه کـوي ، د هغـو ټولـو حقوقـو مـستحق دی چـې د بـرات مخاطــب ارایـــه و موصـــوف از آن نکـول و بـرات مـورد یادداشـت یـــا اعتـــراض قـــرار گرفتـــه باشد.

تأدیه برای حفظ اعتبار
مادۀ نود ونهم :
هرگـاه بـه علـت عـدم تأدیـه بـرات ، یادداشـت تحریـر یـا اعتـراض صـورت گرفتـه باشـد ، هـر شـخص مـی توانـد ، عـین مبلـغ منـدرج در برات را برای حفظ اعتبـار یکـی از طـرفین ملزم بـه تأدیـه چنـین مبلـغ، تأدیـه نمایـد ، مـشروط بـر ایـن کـه شـخص یـا نماینـدۀ وی قـبلاً در حضور مامور ذیصلاح، اسم طرفی را اظهـار نمایـد کـه بـرای حفـظ اعتبـار وی تأدیـه صـورت مـی گیـرد و اظهاریـه توسـط مامور ذیصلاح ثبت گردد.

حـق تأدیـه کننـده بـرای حفـظ اعتبار
مادۀ صدم :
شخصی که برای حفظ اعتبار تأدیه می نماید ، مستحق تمام حقوقی مـــی باشـــد کـــه دارنـــدۀ

لرونکیو ددغه ډول ورکړې په وخت کې د هغو لرونکی او له هغه اړخ څخه چې د اعتبار د ساتلو لپاره یې ورکړه صورت مومي، کولی شي د تکټانې او هر ډول لګښتونو چې د دغې ورکړې لپاره یې زغمي په شمول ټول ورکړل شوی مبلغ، حصول کړي.

برات در زمان چنین تأدیه آنرا دارا بوده و از طرفی که برای حفظ اعتبارش تأدیه صورت می گیرد، می تواند تمام مبلغ تأدیه شده را بشمول تکتانه و هر نوع مصارفی که برای انجام این تأدیه متحمل می شود، حصول نماید.

دارټیا په صورت کې مخاطب یوسلو یوه یمه ماده:

(۱)که چېرې په برات، یا ظهرنویسی کې د اړټیا په صورت کې د یوه شخص نوم د مخاطب په توګه، یادشي،برات ترهغه وخته پوری نکول شوی نه ګڼل کیږي چې ددغه ډول مخاطب په واسطه نکول شوی نه وي.

(۲)مخاطب د اړټیا په صورت کې کولی شي برات پرته لدې چې د مخنی اعتراض پرې شوی وي، قبول او ور کړي.

مخاطب در صورت ضرورت مادۀ یکصد ویکم :

(۱) هرگاه در برات یا ظهرنویسی اسم شخصی بحیث مخاطب درصورت ضرورت، ذکر گردد، برات تا زمانی نکول شده شمرده نمی شود که توسط چنین مخاطب، نکول نگردیده باشد.

(۲) مخاطب درصورت ضرورت می تواند برات را بدون آنکه اعتراض قبلی بر آن صورت گرفته باشد، قبول و تأدیه نماید.

دوولسم فصل
د معاملې وړ سندونو جبران

جبران
یوسلو دوه یمه ماده:
د معاملې وړ سند له ورکړې یا قبولۍ څخه د نکول په صورت کې، ملزم اړخ د سند د لرونکي یا د ظهر نویسۍ د ذینفع شخص په وړاندې، په لاندې توګه د زیان په جبران مکلف دی:
۱-د معاملې وړ سند لرونکی، په سند کې د درج شوي واجب التأدیه مبلغ دترلاسه کولو اود هغو موجهو لګښتونو د ترلاسه کولو مستحق دی چې هغۀ د سند، یادداښت یا په سند کې د اعتراض وړاندې کولو په وخت کې زغملي دي.
۲-په هغۀ صورت کې چې د ملزم شخص د اوسېدو ځای د ورکړې له ځای پرته په بل ځای کې وي، د معاملې وړ سند لرونکی د دغو دوو ځایونو تر منځ د ورځ د تبادلې په نرخ په معاملې وړ سند کې د درج شوي مبلغ د ترلاسه کولو مستحق دی.

فصل دوازدهم
جبران اسناد قابل معامله

جبران
مادۀ یکصد و دوم :
در صورت نکول از تأدیه یا قبولی سند قابل معامله ، طرف ملزم در برابر دارندۀ سند و یا شخص ذینفع ظهرنویسی، قرار ذیل مکلف به جبران می باشد:
۱- دارندۀ سند قابل معامله، مستحق دریافت مبلغ واجب التأدیه مندرج سند و دریافت مصارف موجه ای می باشد که وی حین ارایۀ سند، یادداشت یا اعتراض در سند، متحمل شده است.
۲- در صورتی که اقامت گاه شخص ملزم، در محل دیگری غیر از محل تأدیه آن باشد، دارندۀ سند قابل معامله، مستحق دریافت مبلغ مندرج سند به نرخ روز تبادله در میان این دو محل می باشد.

۳- په هغۀ صورت کې چې ملزم شخص او ظهر نویس په مختلفو ځایونو کې استوګنه ولري، ظهرنویس د دووځایونو ترمنځ د تبادلې د ورځې په نرخ په معاملې وړ سند کې د درج شوي مبلغ د ترلاسه کولو مستحق دی.

۴-هغه ظهرنویس چې د معاملې وړ سند په وړاندې ملزم وي او په معاملې وړ سند کې درج شوی مبلغ یې ورکړی وی، اعتبار د ورکړې له نېټې څخه د ترلاسه کولو تر نېټې پورې د افغانستان د قوانینو د حکمونو مطابق د کلنۍ فیصدی په نرخ د هغۀ له نېټې تر سره د ورکول شوي مبلغ د ترلاسه کولو یا له هغو ټولو لګښتونو سره چې هغۀ د نکول یا ورکړې په علت زغملي دي ، یو ځای د دغۀ ډول مبلغ د حصول مستحق دی.

۳- در صورتی که شخص ملزم و ظهرنویس در محلات مختلف اقامت داشته باشند ، ظهر نویس مستحق دریافت مبلغ مندرج سند قابل معامله به نرخ روز تبادله میان این دو محل می باشد .

۴- ظهرنویسی که در برابر سند قابل معامله ملزم بوده و مبلغ مندرج در سند قابل معامله را تأدیه نموده باشد ، مستحق دریافت مبلغ تأدیه شده همراه با تکتانه آن به نرخ فیصدی سالانه، مطابق احکام قوانین افغانستان اعتبار از تاریخ تأدیه الی تاریخ دریافت بدون قید وشرط یا حصول چنین مبلغی، همراه با تمام مصارفی می باشد که وی بعلت نکول و تأدیه، متحمل شده است.

په جبران ملزم اړخ ته د برات صادرول

یوسلو درېیمه ماده:

د جبران د ترلاسه کولو مستحق اړخ کولی شي هغه برات چې عندالرویت یا عندالمطالبه د

صدور برات برای طرف ملزم به جبران

مادۀ یکصدوسوم:

طرف مستحق دریافت جبران، می تواند براتی را که عندالرویت یا عندالمطالبه قابل تأدیه بوده و

ورکړې وړ وي او د هغۀ طلب مبلغ او ټول لګښتونه چې نومورې زغملي دي پکې شامل دي ، پر هغۀ اړخ باندې چې په جبران ملزم دی، صادر کړي، دغه ډول برات له نکول شوي سند او اعتراض (د هغۀ د موجودیت په صورت کې) سره ضمیمه کېږي، که دغه ډول برات نکول شي، نکول کوونکی اړخ په عین تګلارې سره چې د اصلي برات په هکله عملي کېږي د هغۀ په جبران ملزم دی.

شامل مبلغ طلب وی و تمام مصارفی که موصوف متحمل شده است، بالای طرفی که ملزم به جبران است، صادر نماید ، چنین برات با سند نکول شده و اعتراض (درصورت موجودیت آن) ضمیمه می گردد. اگر چنین برات نکول گردد ، طرف نکول کننده ملزم به جبران آن به عین روشی می باشد که در مورد برات اصلی عملی می گردد.

دیارلسم فصل
د اثباتیه مدرکونو په هکله د تطبیق وړ خاص حالات

فصل سیزدهم
احکام خاص قابل تطبیق در مورد مدارك اثباتیه

په معاملې وړ سند کې صحیح حالات

یوسلوځلورمه ماده:

په معاملې وړ سندونو کې لاندې احوال، صحیح ګڼل کېږي، خو دا چې خلاف یې ثابت شي:

۱- د معاملې وړ هر سند د ارزښت په وړاندې صادر شوی دی، ددغۀ شان سند هر ډول قبولي، ظهر نویسي، معامله یا انتقال دعوض

حالات صحیح در سند قابل معامله

مادۀ یکصدوچهارم :

احوال ذیل در اسناد قابل معامله صحیح دانسته می شود ، مگراین که خلاف آن ثابت گردد :

۱- هرسند قابل معامله در مقابل ارزش صادرشده است، هر نوع قبولی، ظهرنویسی، معامله یا انتقال چنین سند در مقابل عوض

په وړاندې صورت موندلی دی.

۲- د معاملې وړ هر سند چې نېټه لري په هماغې نېټه لیکلی یا صادر شوی دی.

۳-هر قبول شوی برات د هغۀ له نېټې وروسته او له سررسید دمخه د مناسبې مودې په ترڅ کې قبول شوی دی.

۴-د معاملې وړ سند هر انتقال د هغۀ له سررسید دمخه صورت موندلی دی.

۵-په معاملې وړ سند کې درج شوې ظهرنویسی، په هغۀ ترتیب چې د سند پر مخ لیدل کېږي، صورت موندلی دی.

۶-د معاملې وړ هر سند چې ورك شوی وي په مقتضي توګه ممهور شوی، تلقي کېږي.

۷- د معاملې وړ سند لرونکی د هغۀ له نېټه نیت سره لرونکی دی، که چېرې سند د هغۀ له قانوني مالك څخه یا له بل شخص څخه چې د هغۀ قانوني اختیار لري ، د تخلف یا تېرایستنې په وسیله تحصیل شوی وي یا د هغۀ له صادروونکي یا قبلوونکي څخه د تخلف یا تېرایستنې په وسیله یا د

صورت گرفته است.

۲- هرسند قابل معاملۀ که حاوی تاریخ است در همان تاریخ تحریر و یا صادر گردیده است.

۳- هر برات قبول شده، در خلا ل موعد مناسب بعد از تاریخ آن و قبل از سررسید آن مورد قبول قرار گرفته است.

۴- هر انتقا ل سند قابل معامله قبل از سررسید آن صورت گرفته است.

۵- ظهرنویسی های مندرج سند قابل معامله به ترتیبی که در روی سند مشاهده می گردد، صورت گرفته است.

۶- هرسند قابل معامله که مفقود شده باشد طور مقتضی ممهور گردیده، تلقی می شود.

۷- دارندۀ سند قابل معامله، دارنده با حسن نیت آن است، هرگاه سند از مالك قانونی آن یا از شخص دیگری که اختیار قانونی آن را دارا است، به وسیلۀ تخلف یا فریب تحصیل شده یا از صادرکننده یا قبول کنندۀ آن به وسیله تخلف یا فریب، یا جهت

غیر قانوني عمل د سرته رسولو لپاره تحصیل شوی وي،پدې احوالو کې له ښه نیت سره د لرونکي د اثبات مسئولیت د سند د لرونکي په غاړه دی.

انجام عمل غیر قانونی تحصیل شده باشد ، در این احوال مسئولیت اثبات دارندۀ با حسن نیت برعهدۀ دارندۀ سند است.

د نکول د اعتراض اعتبار
یوسلو پنځمه ماده:
د معاملې ورې سند د نکول په هکله د دعوي د اقامې لپاره، د نکول په هکله صورت مونډلی اعتراض معتبر ګڼل کېږي، خو دا چې اعتراض د تأیید ورې ونه ګرځي.

اعتباراعتراض نکول
مادۀ یکصدوپنجم :
برای اقامۀ دعوی در مورد نکول سند قابل معامله، اعتراض صورت گرفته درمورد نکول معتبر دانسته می شود ، مگر این که اعتراض مورد تائید قرار نگیرد.

د لومړني سند د اعتبار د انکار منع
یوسلو شپږمه ماده:
د معاملې ورې سند صادروونکی یا قبلوونکی، د برات د صادروونکي د اعتبار د ساتلو لپاره، نشي کولی له ښه نیت سره د لرونکي په واسطه په اقامه شوې دعوي کې د لومړني سند اعتبار، انکارکړی.

منع انکار اعتبار سند اولیه
مادۀ یکصدوششم :
صادرکننده سند قابل معامله یا قبول کننده جهت حفظ اعتبار صادر کنندۀ برات، نمی تواند در دعوی اقامه شده توسط دارندۀ با حسن نیت اعتبار سند اولیه را انکارنماید.

د ورکړې د ترلاسه کوونکي د ظهرنویس د واك د انکار منع

یوسلو اوومه ماده:

د حجت صادروونکی او په دستور د ورکړې وړبرات قبلوونکی،نشي کولی له ښه نیت سره دلرونکي په واسطه د دعوي د اقامې په وخت کې،په عین ظهرنویسی کې دورکړې د ترلاسه کوونکي واك د حجت اوبرات په سررسیدکې انکار کړي.

منع انکار صلاحیت ظهرنویس دریافت کنندۀ تأدیه

مادۀ یکصدوهفتم :

صادرکنندۀ حجت و قبول کنندۀ برات قابل تأدیه به دستور، نمی توانند حین اقامۀ دعوی توسط دارندۀ با حسن نیت صلاحیت دریافت کنندۀ تأدیه در عین ظهرنویسی را در سررسید حجت و برات انکار نمایند.

د معاملې وړ سند دمخکنۍ ارخونو د لاسلیك یا واك د انکار ممنوعیت

یوسلو اتمه ماده:

دوروستني لرونکي په واسطه دمعاملې وړسند په هکله په اقامه شوې دعوي کې ظهر نویس نشي کولی د سند له اسبقو ارخونو څخه د یوۀ د لاسلیك یاد قرارداد د عقد واك انکار کړي.

ممنوعیت انکار امضاء یا صلاحیت طرفین ماقبل سند قابل معامله

مادۀ یکصدوهشتم :

ظهر نویس در دعوی اقامه شده در مورد سند قابل معامله توسط دارندۀ مابعد، نمی تواند از امضأ یا صلاحیت عقد قرارداد یکی ازطرفین اسبق سند، انکار نماید.

څوارلسم فصل
پر چك باندې د تطبيق وړ خاص موارد

د بانکدار د واك او مکلفيت د لغو خاص حالات
يوسلو نهمه ماده:
د بانکدار واك او مکلفيت د هغۀ د مشتري په واسطه د صادر شوي چك د ورکړې لپاره په لاندې خاصو حالاتو کې لغو کېږي:
۱-د ورکړې د دستور د لغو په صورت کې.
۲-د مشتري له وفات څخه د خبرتيا په صورت کې.
۳-د مشتري له ورشکستګۍ څخه د خبرتيا په صورت کې.

کرښې (خطونه) د چك د مهمې برخې په توګه
يوسلو لسمه ماده:
رسم شوې کرښې ددې قانون د حکمونو مطابق، د چك مهمه برخه ګڼل کېږي، د هغو امحا، زياتول يا بدلول پدې قانون کې د درج شوو مواردو په استثني، جايز ندي.

فصل چهاردهم
موارد خاص قابل تطبيق بر چك

حالات خاص لغو صلاحيت و مکلفيت بانکدار
مادۀ يکصدونهم :
صلاحيت و مکلفيت بانکدار جهت تأديۀ چك صادرشده توسط مشتری آن در حالات خاص ذيل لغو می گردد:
۱- در صورت لغو دستور تأديه.
۲- در صورت اطلاع از وفات مشتری.
۳- در صورت اطلاع از ورشکستگی مشتری.

خطوط بحيث بخش مهم چك
مادۀ يکصدودهم :
خطوط رسم شده مطابق احکام اين قانون، بخش مهمی از چك محسوب گرديده، امحأ، ايزاد يا تغيير آن به استثنای موارد مندرج اين قانون ، جايز نمی باشد.

عام مخطط چك
يوسلو يوولسمه ماده:
کـه چېـرې چـك، عـام مخطـط وي، مخاطـب بانکـدار نـشي کـولی پـه هغهٔ کې درج شوی مبلغ له مخاطب بانکدار پرته بل شخص ته ورکړي.
عام مخطط چك هغه چك دی چې پـر خپـل مـخ د کرښـو لرونکـی وي چې د دوو عرضي موازي کرښو تر مـنځ د (او شـرکت) عبـارت يـا ددې عبارت اختصارات زيات شوي وي يـا يـوازې دوه مـوازي کرښـې موجودې وي لـدې سره سره چې د (دنـه ليـږد ورې) عبـارت پکـې درج شـوی وي يـا نـه، دغـه زيـاتونې، مخطـط کېـدل ګڼـل کېـږي او عـام مخطط چك بلل کېږي.

د ترلاسـه کـوونکي پـه حـساب د ورکړې وړ چك
يو سلو دوولسمه ماده:
(۱) کـه چېـرې د عـام مخطـط چـك پـرمخ د دوو عرضـي مـوازي کرښـو تـر مـنځ چـې د هغـهٔ د عمومیـت ښـودونکې دي « د مبلـغ د ترلاسـه کـوونکي پـه حـساب دی ورکـول

چك مخطط عام
مادهٔ يکصدويازدهم :
هرگـاه چـك، مخطـط عـام باشـد ، بانکدار مخاطب نمی تواند مبلغ منـدرج آن را بـه غيـر ازبانکدار بـه شخص ديگری تأديه نمايد.
چـك مخطـط عـام چکـی اسـت کـه حاوی خطوطی بر روی خود باشد کـه در بـين دو خـط مـوازی عرضـی عبـارت (و شـرکت) يـا اختـصارات، ايـن عبـارت، اضـافه گرديـده يـا صرف دو خط موازی موجود باشد ، اعـم از ايـن کـه عبـارت (غيـر قابـل انـتقال) درآن درج شده باشد يا نـه، ايـن اضـافات، مخطـط کـردن محـسوب گرديـده و چـك مخطـط عام پنداشته می شود.

چك قابل تأديه به حساب دريافت کننده
مادهٔ يکصدودوازدهم :
(۱) هرگاه بر روی چك مخطط عـام در بـين دو خـط مـوازی عرضـی کـه مبـين عموميـت آن اسـت، عبـارت «بـــــه حساب دريافت کنندهٔ مبلـغ تأديـه گـردد.» ايـــــزاد

شي» عبارت زيات شي ،پرعام مخطط والی دمخطط چك په توګه « دترلاسه کوونکي په حساب د ورکړی ور» هم یاد ېږي.

(۲)د ترلاسه کوونکي په حساب د ورکړې ور مخطط چك، د لاندې آثارو لرونکی وي:

۱-د چك د انتقال ورځيا تېرېږي.

۲-د چك د مبلغ حاصلوونکی بانکدار، یوازې په چك کې د درج شوي ترلاسه کوونکي په حساب د هغۀ د عوایدو د کرښت کولو مسئول ګرځي.

خاص مخطط چك

یوسلو دیارلسمه ماده:

که چېرې د چك پرمخ، د مشخص بانکدار نوم درج شوی وي لدې سره سره چې (د نه انتقال ور) له عبارت سره یو ځای وي که نه، خاص مخطط چك دی او داسې ګڼل کېږي چې د مشخص بانکدار په نوم، مخطط شوی دی.

که چېرې مخطط چك خاص وي، مخاطب بانکدار نشي کولی په چك کې درج شوی مبلغ له هغۀ بانکدار پرته چې چك یې په نوم شود، علاوه برمخطط بودن عام بحیث چك مخطط «قابل تأدیه به حساب دریافت کنندۀ» نیز یاد می گردد.

(۲) چك مخطط قابل تأدیه به حساب دریافت کننده، دارای آثار ذیل می باشد:

۱- قابلیت انتقال چك منقضی می گردد.

۲- بانکدار حصول کنندۀ مبلغ چك، مسئول کریدت نمودن عواید آن صرف به حساب دریافت کنندۀ مندرج چك می گردد.

چك مخطط خاص

مادۀ یکصدوسیزدهم :

هرگاه بر روی چك، اسم بانکدار مشخص درج شده باشد ، اعم از این که توأم با عبارت (غیر قابل انتقال) باشد یا نه، چك مخطط خاص بوده و چنین پنداشته می شود که به اسم بانکدار مشخص، مخطط شده است.

هرگاه چك مخطط خاص باشد ، بانکدار مخاطب نمی تواند مبلغ مندرج چك را به بانکدار دیگری غیر از بانکداری که چك به اسم

مخطط شوی دی بل بانکدار یا د هغۀ استازي ته د حصول لپاره، ورکړي.

له صادرېدو وروسته مخطط کېدل یو سلو څوارلسمه ماده:

(۱)که چېرې چك مخطط نه وي، لرونکی کولی شي هغه په عام یا خاص ډول مخطط کړي.

(۲)که چېرې چك عام مخطط وي، لرونکی کولی شي هغه په خاص مخطط چك واړوي.

(۳)که چېرې چك په عامه یا خاصه توګه مخطط وي، لرونکی کولی شي (دلیږد نه وړ) عبارت پر هغۀ ورزیات کړي.

(۴) که چېرې چك خاص مخطط وي هغه بانکدار چې چك یې په نوم مخطط شوی دی کولی شي، هغه په خاصه توګه بل بانکدار ته چې د هغۀ استازی وي د حصول لپاره مخطط کړي.

(۵)که چېرې نه مخطط کړی شوی چك یا عام مخطط چك بانکدار ته د حصول لپاره واستول شي، هغه کولی شي چې په خپل نوم ئې په خاصه توګه مخطط کړي.

وی مخطط شده یا نمایندۀ وی برای حصول، تأدیه نماید.

مخطط شدن بعد از صدور مادۀ یکصدوچهاردهم :

(۱) هرگاه چك مخطط نباشد ، دارنده می تواند آنرا به صورت عام یا خاص مخطط نماید.

(۲) هرگاه چك مخطط عام باشد ، دارنده می تواند آنرا به چك مخطط خاص تبدیل نماید.

(۳) هرگاه چك بطور عام یا خاص مخطط باشد ، دارنده می تواند عبارت (غیر قابل انتقال) را به آن اضافه نماید.

(۴) هرگاه چك، مخطط خاص باشد ، بانکداری که چك به اسم وی مخطط شده است می تواند ، آنرا بطور خاص به بانکدار دیگری که نمایندۀ وی باشد ، برای حصول مخطط نماید.

(۵) هرگاه چك مخطط ناشده یا چك مخطط عام به بانکدار برای حصول ارسال گردد ، وی می تواند آنرا به اسم خود بطور خاص مخطط نماید.

له یو ځل څخه زیات د خاص شوي مخطط چك ورکړه

یو سلو پنځلسمه ماده:

که چېرې چك له یوهٔ خاص بانکدار څخه زیاتو ته مخطط شوی وي، مخاطب بانکدار کولی شي د هغهٔ د مبلغ له ورکړې څخه نکول وکړي، د هغهٔ حالت په استثنی چې چك د مبلغ د ترلاسه کولو لپاره، د استازي په واسطه مخطط شوی وي.

تأدیهٔ چك مخطط خاص شده بیش از یك بار

مادهٔ یکصدوپانزدهم :

هرگاه چك به بیش از یك بانکدار خاص، مخطط شده باشد، بانکدار مخاطب می تواند از تأدیهٔ مبلغ آن نکول نماید، به استثناء حالتی که چك برای دریافت مبلغ، توسط نماینده مخطط شده باشد.

په ښه نیت سره د مخطط چك ورکړه

یوسلو شپاړسمه ماده:

که چېرې په ښه نیت سره مخاطب بانکدار او له سهل انګاری پرته، عام مخطط رسېدلی چك په سررسید کې یوهٔ بانکدارته او په هغهٔ صورت کې چې خاص مخطط وي ، هغهٔ بانکدار ته چې چك یې په نوم مخطط شوی دی یا یې استازي ته د هغهٔ مبلغ د حصول لپاره چې خپله یو بانکدار وي ، ورکړي، په هغهٔ صورت کې چې دغه چك د ورکړې د ترلاسه

تأدیهٔ چك مخطط با حسن نیت

مادهٔ یکصدوشانزدهم :

هرگاه بانکدار مخاطب با حسن نیت و بدون سهل انگاری، چك واصله مخطط عام را در سررسید به یك بانکدار و در صورتی که مخطط خاص باشد، به بانکداری که چك به اسم وی مخطط شده یا نمایندهٔ وی برای حصول مبلغ که خود یك بانکدار باشد، تأدیه نماید، در صورتی که این چك بدست دریافت کنندهٔ تأدیه برسد،

کوونکي لاس ته ورسپړي، د چك ورکوونکی او صادر وونکی بانکدار په ټولو مواردو کې د هغو حقوقو او موقف لرونکی ګرځي چې حقیقي لرونکي ته د چك د ورکړې په صورت کې له هغو څخه برخمن دی.

بانکدار تأدیه کننده و صادرکننده چك در تمام موارد دارای عین حقوق و موقفی می گردند که در صورت تأدیه چك به دارندهٔ حقیقی از آن بر خور دار می شدند.

له بدنیت سره د مخطط چك ورکړه یو سلو اوولسمه ماده:

(۱)هغه بانکدار چې عام مخطط چك له بانکدار پرته شخص ته یا خاص مخطط چك له هغهٔ بانکدار څخه چې چك یې په نوم مخطط شوی دی ، پرته شخص ته یا یې استازي ته چې خپله بانکدار دی د تحصیل لپاره، ورکړي، د هغهٔ زیان په علت چې د دغهٔ ډول ورکړې په پایله کې د چك اصلي مالك ته ور اړوي، مسئول دی.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې د ورکړې لپاره وړاندې شوی چك مخطط په نظر را نشي یا د داسې کړنو لرونکی وي چې محو شوي وي یا زیات شوی وي یا په بل ډول چې ددې قانون لخوا مجاز ګڼل شوی نه وي ، په هغهٔ کې تحریف

تأدیهٔ چك مخطط باسوءنیت مادهٔ یکصدوهفدهم :

(۱) بانکداری که چك مخطط عام را به شخصی غیر از بانکدار، یا چك مخطط خاص را به شخصی غیر از بانکداری که چك به اسم وی مخطط شده، یا نمایندهٔ وی برای تحصیل که خود بانکدار است، تأدیه نماید ، به علت خساره ای که در نتیجهٔ چنین تأدیه به مالك اصلی چك وارد می شود ، مسئول می باشد.

(۲) درصورتی که چك ارایه شده جهت تأدیه، مخطط به نظر نرسد یا دارای خطوطی بوده که محو گردیده، یا ایزاد شده است یا به شکل دیگری که توسط این قانون مجاز دانسته نشده، در آن تحریف بعمل آمده باشد ، بانکداری که

راغلی وي، هغه بانکدار چې چك په ښه نیت سره او له سهل انګاری پرته‌ور کوي، مسئول نه ګڼل کېږي.

چك را با حسن نیت و بدون سهل انگاری تأدیه می نماید، مسئول دانسته نمی شود.

د (نه لیږد وړ) عبارت لرونکی چك

یوسلو اتلسمه ماده:

هغه شخص چې عام یا خاص مخطط چك اخلي، په هغۀ صورت کې چې په هغۀ کې (د نه لیږد وړ) عبارت درج شوی وي د انتقال په اړه د هغۀ حق محدود ېږي.

چك حاوی عبارت (غیر قابل انتقال)

مادۀ یکصدوهجدهم:

شخصی که چك مخطط عام یا خاص را اخذ می نماید، در صورتی که در آن عبارت (غیر قابل انتقال) درج شده باشد، حق وی مبنی بر انتقال محدود می گردد.

په چك کې د درج شوي مبلغ د ترلاسه کوونکي بانکدارنه مکلفیت

یوسلو نولسمه ماده:

ددې قانون د حکمونو مطابق د مخططو چکونو په هکله چې د «د مبلغ د ترلاسه کوونکي په حساب د ورکړې وړ» عبارت لرونکي وي که په ښه نیت سره او له سهل انګاری پرته یو مبلغ له مشتریانو څخه د یوۀ په نوم د هغۀ چك له مدرك څخه چې په عام یا خاص ډول مخطط شوی وي، ترلاسه کړي چې مشتري د هغۀ په نسبت د مالکیت نه

عدم مکلفیت بانکدار دریافت کنندۀ مبلغ مندرج چك

مادۀ یکصدونزدهم:

با درنظرداشت احکام این قانون در مورد چك های مخطط که حاوی عبارت «قابل تأدیه به حساب دریافت کنندۀ مبلغ» باشند، اگر بانکدار با حسن نیت و بدون سهل انگاری مبلغی را به اسم یکی از مشتریان از مدرك چکی که به صورت عام یا خاص برای وی مخطط شده باشد، دریافت نماید که مشتری نسبت به آن فاقد

لرونکی یا د نیمګړي مالکیت لرونکی وي بل بانکدار یوازې ددغې ورکړې پرموجب د حقیقي مالک په وړاندې مسئول ندی. بانکدار کولی شي په چك کې درج شوی مبلغ له ترلاسه کولو دمخه د مشتري په حساب کړېدت (اضافه) کړي.

مالکیت یا دارای مالکیت ناقص باشد، بانکدار صرف به موجب این تأدیه در مقابل مالك حقیقی مسئول نمی باشد. بانکدار می تواند مبلغ مندرج چك را قبل از دریافت به حساب مشتری کریدت (اضافه) نماید.

د «دمبلغ د ترلاسه کوونکی په حساب د ورکړې وړ» عبارت لرونکي مخطط چك کړېدت

یوسلو شلمه ماده:

که چېرې چك د حصول لپاره داسې بانکدار ته تسلیم کړل شي چې د تسلیمی په وخت کې "حساب ته دلیږد وړ" په عبارت مخطط شوی نه وي یا په پورتني عبارت مخطط له هغه څخه زایل یا تحریف شوی وي او بانکدار په ښه نیت سره او له سهل انګاری پرته بانکداردچك مبلغ حصول او هغه له مشتریانو څخه دیوه په حساب کړېدت کړي، نوموړی بانکدار پدې دلایلو سره چې(حساب ته دلیږد وړ) په عبارت مخطط دی یارسم شوې کرښې محو یا تحریف شوي دي او مبلغ

کریدت چك مخطط حاوی عبارت «قابل تأدیه به حساب دریافت کنندۀ مبلغ»

مادۀ یکصدوبیستم:

